
پښتو یادونه

(د مقالو مجموعه)

د مطیع الله روهیال په زیار



ساندي

بېنوا يادونه

(د فاضل استاد بېنوا په اړه د مقالو ټولګه)



بېلابېل ليکوالان

کتاب پېژندنه:


- د کتاب نوم : **بېنوا يادونه**
- مدون : مطيع الله روهيال
- خپروونکی : **د اطلاعاتو او فرهنګ رياست/ کندهار**
- مالي لګښت : **عينو خيريه بنياد**
- کمپوز او ډيزاين : روهيال کمپيوټر اداره
- لومړی چاپ : ۱۳۹۰ ش = ۲۰۱۱ ع
- د چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه
- کچه : ۱۳/۵۰ × ۲۱ سانتي متره
- د مخونو شمېر : ۲۸۸ مخه
- خپرونو لړ : ۴۱



بسم الله الرحمن الرحیم

فهرست

مقالې



ساندي

د خپرووونکي یادښت

اروا ښاد فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا د معاصرو افغاني پوهانو له نومیالیو هغو څخه ګڼل کېږي، هغه څوک چي په حقه سره ئې د استادۍ ویاړلی او درووند لقب ګټلی دئ، هغه څوک چي د پښتو ژبي په ارتقاء، انکشاف او ځلونه کي ئې د څو نورو محدودو پوهانو سره یو ځای کار را پیل کی او دغي لرغوني، خو اسکېرلي ژبي ته ئې د تحقیق او تخلیق له لاري داسي خدمتونه وکړل، چي په هیڅ ګون د هېرېدو نه دي. دوی په داسي وخت کي دغي ژبي ته له ادبي او علمي لاري کار را شرو کی، چي حتی په ټول افغانستان کي عامه ذهنیت داسي وو، چي په پښتو ژبه لیکل امکان نه لري، طبعاً په دغسي وخت کي دغسي ژبي ته کار کول او یا په دغه ژبه نوشته کول، لږ نو کی نه، بلکي ډېر ګران کار دئ.

دوی په پښتو ژبه کي د پښتو ادبیاتو د فاکولتې له پاره په لومړي ځل (ادبي فنون) وکښل، د پښتو دواوینو په تحقیق، مقابله او حواشیو کي ئې بې اندازې زیات کار وکړ، د زړو متونو په تصحیح کي ئې علمي ونډه واخیستله، د تاریخ او تاریخي جغرافیې په ساحه کي ئې ډېر مهم آثار وکښل، په پښتو کي ئې د ادبي تذکرو په برخه کي تقریباً تر هر لیکوال ډېري ادبي تذکرې ولیکلې او د دې څخه را په دېخوا ئې په تخلیقي برخه کي داسي لوړ هنري آثار ولیکل، چي په

واقعیت سره ئې هم په پښتو هنري نثر او شعر کې ځانته خاص طرز او سبک پ
کې.
دوی پر ډرامو او نورو هنري او ادبي نثرونو سربېره داسې اشعار پښت
ټولنې ته وړاندې کړي دي، چې په خپلو رندانه او مستانه شعرونو ئې د
ټولنې فرد – فرد ته یو ویښ او روڼ ذهنیت ورکړی دئ. د استاد بېنوا د ش
ځانګړنه په دې کې وه، چې دوی هغه موضوعات، چې زموږ اکثرو شاعرانو
یوازې او یوازې د ریالیزم په چوکاټ کې اختراع کول، دوی په خپل خاص
شعري کمال او مهارت سره، هم د ریالیزم او هم د ایډیالیزم په یو نیمچه چوکا
کې ټولنې ته وړاندې کړي دي، چې د ده د شعر دغې ځانګړتیا ځانته یو خاص
طرز لاره او ځکه نو موږ بېنوا صاحب ځانته د سبک خاوند بولو. د بېنوا په زما
کې د زیاترو اشعارو مضمون انتقادي ریالیزم وو، چې د اروا ښاد روهي صاحب
په قول اداري فساد، بیروکراتیزم، اختناق، اتوکراسي، ارتجاع، ظلم ا
استثمار پر ضد مبارزه پکښې ځرګنده سوې ده. په دغسې حالت کې نو زیاتر
شاعرانو پیغام او آیډیا ته د بدیعي ځانګړتیاوو په نسبت زیاته پاملرنه کوله
فکورې همداسې ښېځ په ښېغه بیانېدلې او په دغه شکل کې نو ډېر کله اشعار
شعاري بڼه پیدا کوله او د بقاله پاره ئې چنداني فکر نه کېدی.
د دغسې یوه ستر انسان په اړه کېدلای سي، چې د دوی د ژوند،
شخصیت، ادبي او علمي تحقیقاتو او تخلیقاتو په باب کنفرانسونه،
سیمینارونه او کتابونه ولیکل سي، چې دا کار تر یوه حده په افغانستان او
باندې کې هم سوی دئ، چې دا دئ په دغه سلسله کې څه موده د مخه په کندهار
کې د استاد بېنوا د پنځه ویشتم تلین په مناسبت دوه ورځنی سیمینار جوړ سوی
او د هغه سیمینار ځیني مقالې او بعضې نور مضامین چې د استاد بېنوا په

باب لیکل سوي دي، د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا د یوې مجموعې په شکل سره ستاسو مخ ته ایښوول کېږي.

د مرحوم فاضل استاد بېنوا د دغه (یاد) ټولي مقالې او شعرونه د ځوان لیکوال، څېړونکي او فرهنګپال ګران مطیع الله روهیال په همت، زیار او کوښښ سره را ټولي سوي دي، چي د خپلو اسلافو په درناوي ئې دغه زحمت او هڅه واقعاً د ستایني او تقدیر وړ ده. همدارنګه ښاغلي روهیال د دغه کتاب په اوډنه، ټایپ، ډیزاین او تصحیح کي ډېر زحمت کښلی دئ، چي د کندهار اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مشرتابه مننه ځني کوي.

یاده دي وي، چي د دغه اثر ټول مالي امکانات او لګښتونه په کندهار کي د عینو خیریه بنیاد او د هغه په راس کي د ښاغلي محمود خان کرزي له خوا برابر سوي دي، چي کندهار ولایت مقام او اطلاعاتو او فرهنګ ریاست کورودانی ورته وایي. همدا ډول په دغه برخه کي د کندهار د فرهنګپال والي پوهنوال ډاکټر توریالي ویسا تلاښ او خاصي هلي ځلي هم د زیاتي یادوني او منني وړ دي، دوی همېشه له ملي تاجرانو او خیریه موسساتو سره تماسونه نیولي دي، څو د اطلاعاتوا و فرهنګ ریاست ته د کتابو د چاپ له پاره مالي امکانات برابر کاندي.

د دواړو محترمینو دي کور ودان او عمرونه اوږده وي.

عبدالقدیم پتیال

د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس

۲-عقرب-۱۳۹۰

کندهار ښار-علامه حبیبي واټ

څو يادوني

[١]

د معاصرو افغاني پوهانو څخه يو هم استاد عبدالرؤف بېنوا دئ
چي موږ ته ئې د بېلابېلو موضوعاتو په باب تقريباً پنځوس ټوکه خور
غنيمت آثار په ميراث را پرې ايښي دي. د دوی په دغو آثارو کي ډېر
داسي آثار سته چي په پښتو ادب او تاريخ کي ئې د تاداو پيل د دوی د
نامه سره تړلی دئ. زموږ دغه پرکاره محقق او لوی شاعر په پردېسي کي
مړ سو، تر اوسه ئې هم هډونه د پردېسۍ شپې او ورځي تېروي، خو راپاته
ميراث ئې د ډېرو معاصرو پوهانو د لاري مشال دئ، او ډېرو ليکوالو او
پوهانو د دوی پر لار قدمونه اخيستي او د دوی د آثارو په برکت ئې د
څېړني خورا عميق مسايل حل و فصل کړي دي.

زموږ د دغه لوی او حقداره ليکوال او د دوی د آثارو په باب کماحقه
کار نه دئ سوی، ما ته چي کله نا کله د دوی په باب په ځينو موقوته
خپرونو او رسالو کي د مقالو څرک په لاس راغلی دئ، هغه مي د ځان سره
يادابنت کړي دي، څه موده مخکي چي په کندهار کي د اطلاعاتو او
کلتور رياست له خوا د دوی په باب دوه ورځنی سيمينار ترتيب سو، ما ته

دا خیال راپیدا سو که چیري دغه راټولي کړي مقالې رایو ځای او په یوه مجموعه کي ترتیب او خپرې سي کېدای سي د راتلونکي نسل له پاره په درد وخوري، نو مي خپلي ترتیب کړي مقالې بیا سره وپلټلې او دا دئ په دې مجموعه کي ئې دروړاندي کوم.

[۲]

په دې مجموعه کي ټولي ۲۵ مقالې راغلي دي، د دغو له ټله څخه څورلس مقالې هغه مقالې دي چي ما د بېلابېلو خپرونو څخه رایو ځای کړي دي، اته مقالې چي زیاته برخه ئې د علامه رشاد رحمة الله علیه په قلم لیکل سوې ده، هغه د دوی د (د بېنوا یاد) نومي اثر محتوی ده، درې مقالې په هغه سیمینار اړه لري چي څه موده وړاندي په کندهار کي دایر سوی وو.

[۳]

د دغي مجموعې وروستی برخه هغو نظمونو ته بېله سوې ده چي د اروابناد استاد بېنوا په یاد ویل سوي دي، د نظمونو په برخه کي هغه نظمونه چي په علامه رشاد رحمة الله علیه پوري اړه لري او ورسره د ښاغلي نصرالله حافظ نظم د (بېنوا یاد) نومي رسالې څخه را اخیستل سوي دي، پاته وروستی نظم د اروابناد عبدالمجید بابي له (ستاینې او وېرنې) نومي رسالې څخه را اخیستل سوی دئ.

په دې مجموعه کي ټولي راغلي مقالې او نظمونه کېدای سي ځینو لوستونکو ته زاړه وایسي، ما ئې فقط دلته د یو ځای کېدو کوښښ کړی دئ، که کوم وخت کوم لیکوال او څېړونکی وغواړي چي د اروابناد استاد بېنوا په اړه لیکلي مواد ترلاسه کړي، زه باور لرم چي دغه مجموعه

مقالي

پرېشانه افکار*

ګران بېنوا خپلو منظومو او منثورو اشعارو ته (پرېشانه افکار) وايي، د ده د شعرونو دا برخه د نظم مجموعه ده چي د پرېشانه افکارو لومړۍ برخه ورته وايو او دوهمه برخه به ئې که خدای کول د منثورو اشعارو مجموعه وي[۱].

ښاغلی بېنوا د افغانستان په اوسنيو ليکوالو او شاعرانو کي ډېر منلی او مشهور سړی دئ، چي د ځانته سبک خاوند ګڼل کېږي او د ادب په ډېرو خواوو کي ئې خپل استعداد او لياقت په کافي ډول ښودلی دئ.

دی په شاعرانو کي ښه شاعر، په ډرامه ليکونکو کي ښه ډرامه نويس او په مؤرخينو کي د ښې برخي خاوند دئ.

---

* اروابناد استاد ګل پاچا الفت خپله دغه مقاله د استاد بېنوا د لومړۍ شعري مجموعې (پرېشانه افکار) له پاره ليکلې ده. د استاد بېنوا دغه شعري مجموعه په ۱۳۳۵ش کال د پښتو ټولني له خوا چاپ سوېده. د دغي مجموعې دوهم چاپ د څه زياتونو سره په ۱۳۷۸ش کال په کوټه کي د صحاف نشراتي مؤسسې په توسط ترسره سو (م. روهيال).

[۱] د اروابناد استاد بېنوا د پرېشانه افکارو منثوره برخه په ۱۳۸۷ کال په کندهار کي د علامه رشاد خپرندويه ټولني له خوا خپره سوه.

په ادبي فنونو کي د ده تاليف او تصنيف يعني د ادبي فنونو کتاب د ده علمي او ادبي پوهه ډېره ښه څرګندوي.

سربېره پر دې د ده انتقادي آثار او مقالات د ډېري ستاينې وړ دي چي د ده ادبي جرئت او شجاعت پکښې ښکاره دئ او په شخصيت کي ئې ډېر اثر لري.

يو بل امتياز چي دی ئې له نورو ډېرو ليکوالو څخه لري هغه د ده په انګليسي پوهېدل دي چي له ده سره ئې په ليکلو کي ډېره مرسته کړې ده.

دا دومره راز راز فطري او کسبي ښېګني چي د ده په برخه رسېدلي دي بيا هم دی له بېنواتوب څخه نه ژغوري ځکه چي د ده بېنوايي شخصي او فردي نه ده بلکي پر اجتماعي احساس او شعور بنا ده.

زه د ښاغلي بېنوا شاعري د ده پر نورو کمالونو غوره ګڼم او په دې باب کي ورته په ډېر ښه حق قائل يم.

دی طبيعتاً شاعر دئ، د ده ژوند، د ده صحبت، د ده خوی، د ده فکر، د ده ناسته ولاړه، خوراک او څکاک ډېر شاعرانه رنګ لري او اصلي رنګ ئې همدغه دئ.

د ده د اشعارو دغه برخه چي پښتو ټولنه ئې د يوه ادبي ارمغان په ډول چاپوي د ده شاعرانه خيالات تاسو ته ډېر ښه معرفي کوي او د بېنوا معنوي او حقيقي څېره پکښې ډېره ښه ليدلی شئ. د ده په اشعارو کي تاسي د کلاسيک شعر خالونه او درې مه ګورئ، بلکي د خيال او فکر ښکلی ټوب او ښايست وګورئ. کوم درد او احساس چي له دغه شاعر سره شته ډېر قدر ئې وکړئ، او په محبت ورته وګورئ.

د ده له پرېشانۍ او پرېشانه افکارو نه د ډېرو هوښيارانو شخص
اندېښنې او ډېر بې رغمه او بې درده عالم ځار شه.

تاسي د ده په ظاهري بڼه او سور سپين رنګ مه غولېږئ. دی رښ
وايي: "خدايږو د ژړا يمه، خدايږو د ژړا يمه" او دا خبره ځکه رښتيا
چي بېنوا د خپل ملي او اجتماعي شعور په برکت د يوه لوی وجود جزء د
چي ژړل پرې په کار دي.

هغه څوک چي په اخترونو کي د يتيمانو په حال ځورېږي او
پردېسانو* په هديره کي اوښکې تويوي هغه په هر حال کي بېنوا دئ او
عيش او عشرت باده ئې له بېنوايانو نه شي بېلولی.

---

*په اصل کي د پرېشانو ليکلی دئ، چي يوه طباعتي سهوه ده، (د پردېسانو هديره) د
استاد بېنوا مرحوم د يوه مشهور شعر عنوان دئ (م. روهيال).

علامه عبدالشکور رشاد

د ګیت آنجلي پښتو ترجمه

او عبدالرؤف بېنوا*

د ګیت آنجلي پښتو ترجمه فاضل لیکوال ښاغلي عبدالرؤف بېنوا کړې ده، دغه ترجمه لومړی وار د انیس په ورځپاڼه کې ټوک ټوک خپره

* د رابندرناتهـ ټاګور (۱۸٦۱ - ۱۹٤۱ع) د مشهور اثر (ګیت آنجلي) پښتو ترجمه اول وار په ۱۳۳٦ش کال د پښتون ږغ مجلې ادارې په کتابي بڼه خپره کړه، کله چې په ۱۳۵٤ش کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي پښتو څانګې دغه ترجمه دوهم ځل خپروله، د دغه چاپ سره د فاضل استاد پوهاند رشاد یوه مغتنمه سریزه چې هم د ګیت انجلي په باب او هم د دغه اثر د پښتون مترجم په باب ډېر معلومات لري په (۱۰۳) مخونو کې خپره سوه. ګیت آنجلي په دریم ځل په ۱۳۸۳ش کال په کندهار کې بېنوا فرهنګي ټولنې د هغې د دوهم چاپ څخه بیا چاپ کړه، د دغه چاپ پر سریزه باندې علامه رشاد مرحوم د [استدراکات] تر عنوان لاندې نور اضافات کړي دي، دغه اوسنۍ لیکنه د دغې مغتنمې سریزې هغه برخه ده چې په اروا ښاد استاد بېنوا پورې اړه لري او د استدراکاتو هغه برخې مې چې د سریزې په متن اړه لري د هماغو ځایونو په لمن لیکونو کې ورضافه کړې دي او د هرې اضافې په پای کې مې د [استدراک] کلمه وراچولې ده، خو هغه اضافات چې د بېنوا صاحب د آثارو په باب ئې کړي دي هغه مې د دوی د آثارو سره یو ځای راوړي دي. څلورم چاپ ئې په ۱۳۸۹ش کال په کابل کې د اندیا - افغان فونډېشن په توسط تر سره سو (م. روهیال)

سوه، بیا د ۱۳۳۶ش کال د حوت په میاشت کي (۱۹۵۸ع) د پښتون ږ
(مجلې) د مدیریت له خوا د یوې رسالې په ډول چاپ او خپره سوې ده، پ
کوچنۍ قطعه ۶۱ مخه لري. ښاغلي بېنوا دغه ترجمه د افغان او هند
دوستۍ ټولني Afghan India Friend Ships Society ته اهداء کړې
ده، په دغه چاپ سوې پښتو ګیت آنجلي کي د ټاګور (۱۰۱) مناجاتونه
راغلي دي، ځلوېښتم او اویایم مناجاتونه ئې پاته وه، په دې دوهم ځل
چاپ کي هغه کمی بشپړ سو، فاضل مترجم خپله ترجمه بیا وتکله او
لازمي سموني ئې پکښې وکړې.

د افغانستان تکړه لیکوال او خوږژبي شاعر فاضل عبدالرؤف بېنوا
درې شپېته کاله پخوا (په ۱۳۳۲هـ ق = ۱۲۹۲ش = ۱۹۱۳ع) د کندهار په
ښار کي خرقې شریفي ته نزدې د سید حسن په کوڅه کي زېږېدلی او هلته
لوی سوی دئ. د فاضل بېنوا کورنۍ د کندهار یوه درنه علمي کورنۍ
وه، ده خپل تحصیلات زیاتره په خپله کورنۍ کي بشپړ کړي دي، لوی
استاد ئې د افغانستان مشهور او وتلی عالم مولانا عبدالکریم حقاني وو
چي د فاضل بېنوا مشر ورور دئ[1]. د دوی پلار مفتي عبدالله[2]

---

[1] مولانا حقاني د ۵۳ مؤلفاتو تښتن دئ، په ۱۳۱۵هـ ق کال په کندهار کي زېږېدلی دئ.

[2] د ارواښاد بېنوا صاحب پلار مفتي عبدالله په ۱۳۰۳هـ ق کال له کندهاره څخه پر پښو حج ته ولاړ، په دغه کال شاه ابوالخیر دهلوي مجددي نقشبندي هم حج ته راغلی وو، دوی په حجاز کي سره ولیدل مفتي عبدالله ئې مرید سو او د دغه کال د لوی اختر د میاشتي پر شپاړسمه ئې له شاه ابوالخیر څخه د ارشاد اذن وموند او په نقشبندیه طریقه کي د شاه ابوالخیر خلیفه سو.

(۱۳۳۴هـ ق مړ) وو، چې په کندهار کې ئې په مفتي عبده سره شهرت درلود، دی له ۱۳۱۱هـ ق کاله څخه تر مرګه پورې ۳۳ کاله د کندهار د ښار په محکمه کې مفتي وو[1]، د مفتي عبدالله پلار ملا عبدالحق اخوند الیزی[2] (۱۲۰۸-۱۲۸۸هـ ق) دئ[3]، چې په کندهار کې ئې د خپل وخت استاذکل باله، د کندهار د خرقې شریفې متولي صدیق اخوندزاده[4] او مشهور غازي د هډې ملا نجم الدین موسی خېل (۱۳۲۰هـ ق مړ) د ده له

مفتي عبدالله چې له حجه وطن ته راستنېده، په بغداد کې ئې د پیران پیر غوث الاعظم شیخ عبدالقادر جیلاني په هدیره کې چله وکښله او د بغداد د قادریه طریقې له نقیب الاشراف څخه ئې د ارشاد اذن هم ومونډ (وګ: مقامات خیر: ٦٧١ مخ) [استدراک].

[1] وګورئ: سراج التواریخ، درېیم ټوک د ۱۳۱۱هـ ق پېښې.

[2] الیزی (علي زي) په درانیو پښتنو کې یوه پښنه ده، الیزي زیاتره په زمینداور او معروف کې اوسېږي.

[3] د اروا ښاد ښېنوا صاحب نیکه ملا عبدالحق اخوند په نقشبندیه طریقه کې د میربازار د ملا محمد جان نورزي خلیفه وو، ملا محمدجان له حضرت شاه غلام علي دهلوي (۱۲۴۰هـ ق مړ) څخه د ارشاد اذن مونډلی وو (وګ: مقامات خیر: ٦٧١ مخ).
په مقامات خیر کې د ملا عبدالحق اخوند په مؤلفاتو کې د (نورالساری شرح صحیح بخاري) او (روح القرآن) نومونه راغلي دي. د کندهار په مشاهیر کې د نورالساري نوم کشاف البخاري لیکلی دئ(؟) او د قرآن شریف د څوارلسو سپپارو د تفسیر نوم نه دئ کښلی [استدراک].

[4] صدیق اخوندزاده د حاجي حفیظ الله زوی د حاجي عبدالحق اخوندزاده لمسی د ملا شکر اخوند کړوسی او د ملا زلال اخوند الکوزي کوسی دئ. حاجي ملا عبدالحق اخندزاده له ۱۱۸۳هـ ق څخه تر ۱۲۱۴هـ ق کاله پورې د خرقې شریفې متولي وو او دغه تولی تراوسه پورې د ده د کوديانو په لاس کې ده.

شاگردانو څخه وه[1]، د کندهار مشهور عالم ملا عبدالحق الکوزي (۱۳۵۳هـ ق مړ) هم دوولس کاله درس ځني لوستی وو. د سید جمال الدین افغاني (۱۲۵۴ - ۱۳۱۴هـ ق) په هغو یاداشتو کي چي اصغر مهدوي او ایرج افشار په ایران کي چاپ کړي دي د کندهار په علماوو کي د ملا عبدالحق خرقه نوم راغلی او د خرقې شریفي ملا محمدصدیق اخوندزاده ئې له شاگردانو څخه بلل سوی دئ[2].

د ملا عبدالحق اخوند علیزي په مؤلفاتو کي د کندهار مشاهیر نومی کتاب په ۱۷۷ مخ کي دغه آثار راغلي دي:

۱. د کتاب البخاري په نامه د جامع الصحیح بخاري شرحه[3].

۲. د قرآن عظیم الشلان د څورلسو سیپارو تفسیر چي د ده په خپل

---

[1] وگورئ: د کابل مجله د لومړي کال ۱۱ گنه (۱۳۱۰ش). ملا نجم الدین اخوند د غزني په شلگر کي د واغز سیمي او سېدونکی نیکزی موسی خېل پښتون وو، منتهي کتابونه ئې په پېښور کي د اکبرپوري پر قاضي محمدغلام غزنوي (۱۲۹۹هـ ق مړ) لوستي دي، په طریقت کي د اخوند عبدالغفور کندهاري ساپي (۱۲۱۳ - ۱۲۹۵هـ ق) خلیفه وو، له پرنگیانو سره د ده غزاوي مشهوري دي په ۱۳۲۰هـ ق کال ومړ او د جلال آباد په هډه کي خاورو ته وسپارل سو.

[2] وگورئ: مجموعه اسناد و مدارک چاپ نشده دربارهٔ سید جمال الدین مشهور به افغاني، د ۸ مخ حاشیه.

[3] جامع الصحیح البخاري د احادیثو له خورا معتبرو کتابو څخه دئ، دغه کتاب د بخارا اوسېدونکي امام ابو عبدالله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیره الجعفي (۱۰۴ - ۲۵۶هـ ق) په شپاړس کاله کښلی دئ د کتاب محتوی له شپږو لکو حدیثونو څخه انتخاب سوې ده، امام بخاري له سمرقنده دوه مزله لیري په (خوتنگ) نومي کلي کي ښخ دئ.

قلم ليکلی دئ، له حضرت مولانا حقاني څخه سته.

۳. پر اوقافو باندي يوه رساله.

۴. د سلم العلوم پر هغه شرحه باندي حاشيه ده، چي قاضي مبارک ګوپاموي فاروقي (۱۱۶۲هـ ق مړ) په ۱۱۴۳هـ ق کال په دهلي کي کښلې ده او په قاضي سلم سره شهرت لري[۱].

۵. د شرح ملا جامي[۲] پر هغه حاشيه باندي شرحه ده چي د جامي رحمة الله عليه شاګرد رضی الدين ملا عبدالغفور لاري (۹۰۵هـ ق مړ) کښلې ده.

خو د کابل مجلې د لومړي کال په يوولسمه ګڼه کي د شرح حکمت[۳]، مطول[۴] او چلپي[۱] ناچاپ سوي حاشيې هم د ده په مؤلفاتو

---

(۱) سلم العلوم په منطقو کي يو معتبر درسي کتاب دئ، چي مشهور هندوستاني ملا قاضي محب الله بهاري (۱۱۱۹هـ ق مړ) په عربي ژبه تاليف کړی دئ.

(۲) د هرات مشهور عالم او عارف ملا نورالدين عبدالرحمن بن احمد بن محمد الجامي (۸۱۷-۸۹۸هـ ق) د ابن حاجب کردي (۶۴۶هـ ق مړ) پر (الکافيه النحويه) يا (الکافيه فی النحو) باندي يوه شرحه کښلې ده، چي په افغانستان کي په (شرح ملا) مشهوره ده، د دغي شرحي نوم (الفوائد الضيائيه) دئ دغه کتاب د درس نظامي په نصاب کي شامل دئ.

(۳) هداية الحکمت د ابهري تاليف دئ، پر دغه کتاب باندي ملا علي هروي، ميبذي او نورو شرحي ليکلي دي د ميبذي شرحه د شرح الحکمت په نامه د افغانستان د مدرسو په درسي نصاب کي شامله ده او د هندوستان په درس نظامي کي هم سته.

(۴) مطول د سعدالدين تفتازاني (۷۹۱ هـ ق مړ) تاليف دئ، مطول (چي د افغانستان د مدرسو او درسي نظامي په نصاب کي شامل دئ) د تخليص المفتاح شرحه ده، چي خطيب تزويني (۷۳۹هـ ق مړ) کښلی دئ، تلخيص المفتاح د سراج الدين ابي يعقوب

کي ستنه.

استاد الکل ملا عبدالحق اخوند د ۸۰ کالو په عمر په ۱۲۸۸هـ ق کال مړ او د کندهار په لويه هديره کي د عيدګاه شمالي لورته ښخ دئ.

د ملا عبدالحق اخوند پلار ملا ګلستان اخوند (۱۲۸۸هـ ق مړ) دئ چي د موسی کلا په سرېښنه کي په تدريس بوخت وو او هلته ومړ.

د ملا ګلستان پلار ملا ګلاب اخوند دئ چي غالباً د دوولسمي هجري سدۍ په دوهمه نيمايي کي د معروف له عليزو څخه د هلمند موسی کلا ته تللی او هلته مېشت سوی دئ، ملا ګلاب اخوند هم د موسی کلا په سرېښنه کي مړ دئ.

د دغي درنې علمي کورنۍ فاضل زوی عبدالرؤف بېنوا د خپل درې شپېته کلن ژوند ډېرش کاله په رسمي چارو کي تېر کړي دي، لومړۍ درجه مطلا مېنه پال او دوهمه درجه د ستوري نښانونه ورکړه سوي دي، د افغان او هند او افغان او شوروي د دوستۍ د ټولنو غړی وو، ښاغلی بېنوا به د رسمي ماموريت په لړ کي کله مدير، کله به د پوهنتون استاد، کله به رئيس، کله به مستشار، کله به معين، کله به وزير او کله به د ملت وکيل پاته کېده، خو بېنوا په دغو ټولو بانواييو کي هغه بېنوا وو، چي پخوا وو، د ده د بېنوايۍ مصداق يوازي دا نه دئ چي د دنيا له مال و منال

يوسف بن محمد علي السکاکي (۵۵۵ - ۶۲۶هـ ق) د مفتاح العلوم د دريمي برخي لنډيز دئ.

(۱) کتاب الفتحيه په علم الهيات کي د مولانا علي بن محمد القوشجي تاليف دئ، شرحه ئې د ده د لور زوی مولانا محمود کړې ده چي په مرم چلپي سره شهرت لري.

څخه ئې په دې ټولو قدرتونو کې څه نه دي ټول کړي او له وزارته چې ایسته سو دریمه میاشت ئې د کور توري خرڅول، بلکې د ده د بېنوایی زیات صداقت په دې کې دئ چې د ماموریت په دغو ټولو دورو کې ئې له خپلو دوستانو سره رویې او صمیمت هیڅ فرق ونه کړ او بېنوا د دوستانو په منځ کې هغه بېنوا وو چې وو. فاضل بېنوا د لیکوالی څلوېښت کلنه سابقه لري، د ده په نثر کې تخلیقي او تحقیقي برخې دواړه سته، نظم ئې هم درد لري او هم رنګیني، د ده په شعر کې که یوې خوا ته د طبیعت ښکلا په ډېره پسته او خوږه ژبه ستایلې سوې ده[1] بلې خوا ته ئې د نظم په بحرونو کې سوز او درد څپې وهي[2]، زه د ده په شعرونو کې که یوه لور ته د مستی صراحي وینم چې د لفظو جامونو ته ورتویېږي[3]، بل پلو ته د مهجورانو او محرومانو هغه اوسېلی (اسوېلی) هم اورم چې د زړه تارونه لړزوي[4].

د فاضل بېنوا څېړنو په پښتو ژبه کې د ادبي فنونو دروازه خلاصه کړې ده[5] او د تحقیق ډېوې ئې د افغانستان د رجالو په باب ډېرې تیارې

---

[1] وګورئ: د کوهستان شفق، پسرلی، سپوږمی...

[2] وګورئ: د پردېسانو هدیره، زما اوښکو، بېنوا بلبل، اوښکه، د اتوم بم...

[3] وګورئ: د ویساک مېله، ګلونه لېوني سول، بوري سترګې، زه او ته، ډېره ور ساقي ته، د ښکلا ملکه...

[4] وګورئ: د یتیم اختر، د یتیم نغمه، د قفس مرغی، د مهجوري نجلی اختر، د یتیم آرزو، د مظلوم زګېروی...

[5] وګورئ: ادبي فنون نومی کتاب.

روښي کړي دي[۱]. د ده تخليق د زماني له آوازه سره همنوايي لري[۲] او قلم ئې همېشه د ابتکار په هڅه کي دئ.

د بېنوا په اشعارو کي د وطن پرستۍ، د نهضت په نامه يو کتاب په روسي ژبه په ۱۹۵۸ع کال په ماسکو کي خپور سوی دئ، د دې کتاب مؤلفه (اې، ايس، ګراسيموا) ده چي د ماسکو د آسيايي خلکو د انستيټوټ په پښتو څانګه کي يوه فعاله کارکنه وه، د ښاغلي بېنوا يو شعر چي (د زړه متروکه) ئې عنوان دئ د چکوسلواکيا مشهور پښتو پوه ډاکټر برژې پيچکا (۱۹۱۰ع کال زوکړی) په چکوسلواکي ژبه ترجمه کړی او د stracene srdee تر عنوان لاندي د Prace نومي اخبار د ۱۹۷۳ کال په ۲۷۴ ګڼه کي خپور سوی دئ. د ښاغلي بېنوا له لنډۍ نومي کتابه څخه څو منتخبي لنډۍ نصرالله مبشر طرازي عربي کړي او د قاهرې د الشعر نومي مجلې د ۱۹۶۴ع کال د نومبر په ګڼه کي د (من الادب الشعبي الافغاني) تر عنوان لاندي چاپ سوي دي. د کيسې او نکلونه په نامه کوم کتاب چي د اسلانوف په انتخاب او اهتمام په ۱۹۷۴ او ۱۹۴۹ع په ماسکو کي چاپ سوی دئ، د دغي مجموعې په (لومړي ټوک) کي د ښاغلي بېنوا نامراده نجلۍ، پلار او زوی، هيڅ وخت نه لري، ښه شپه نثرونه اخيستل سوي دي، د پرېشانه افکار څو شعرونه ئې هم په روسي ژبه منظومي ترجمې لري.

---

(۱) وګورئ: ميرويس نيکه، هوتکيان، اوسني ليکوال، د افغانستان نوميالي...

(۲) وګورئ: د خاندان خولۍ، غلی شانته انقلاب، ژوندي بتان، خان، زوږ ساز، زما دنيا، بر خوله مي لاس مه نيسه، زړه مي مه ماتوه، د کارګر ترانه، بډايي...

فاضل بېنوا د خپلي نه ستړي کېدونکي حوصلې په برکت تر اوسه پوري دغه مؤلفات او ترجمې افغاني ټولني ته وړاندي کړي دي:

۱ - اوسني ليکوال:

دا کتاب درې ټوکه دئ، لومړی ټوک ئې په ۱۳۴۰ش، دوهم ټوک ئې په ۱۳۴۱ش کال، د کورنيو خپرونو لوی مديريت له خوا او دريم ټوک ئې په ۱۳۴۶ش کال د پښتو د تعميم او انکشاف د لوی مديريت له خوا خپور سوی دئ، قطعه ئې ۱۷ = ۲۴ سانتي ده او درې سره ټوکه ۱۵۰۹ مخونه دي.

په دغو درو ټوکونو کي دوه سوه نه وويشت تنه د پښتو ژبي اوسني ليکوال د الفبې په ترتيب معرفي سوي دي، د نظم او نثر نمونې ئې هم سته، دغه کتاب د تاليف لومړۍ درجه جايزه وړې ده*.

۲ - د افغانستان نوميالي:

د دغه درانه اثر تر اوسه پوري دوه ټوکه د پښتو د انکشاف د آمريت له خوا په ۱۳۵۳ش کال کي چاپ سوي دي، په دغو دوو ټوکو کي يو زرو درې تنه د افغانستان نوميالي معرفي سوي دي او د زياتي څېړني له پاره د هر يوه ماخذونه هم ورسره سته، په کتاب کي نومونه د الفبې په ترتيب راغلي دي، د لومړي ټوک د پای سرې ئې ابوبکر خان غازي اليزی

* د مرحوم استاد بېنوا دغه درې ټوکيز اثر په ۱۳۸۸ش کال د اضافاتو سره په کندهار کي د علامه رشاد خپرندويه ټولني له خوا درې سره ټوکه په يوه ټوک کي په نوې او کمپيوټري بڼه چاپ سو. د اروابناد بېنوا د آثارو د نوو چاپونو په باب به ځيني ضمني توضيحات د ستورو په علامه سره په لمن ليکونو کي زه وراضافه کړم (م. روهيال)

پکښې راغلي دي، کتاب ۵۵ مخه دئ*.

له دغه کتابه څخه دا هم ژوند؟ (۳۱ مخ)، د مور ناره (۵۲ مخ)، د يتيم نغمه (۲۵ مخ)، د مهجوري نجلۍ اختر (۵۰ مخ) شعرونه، څلور رباعي ګاني او يوه قطعه په ماسکو کي په روسي نظم اړول سوي او په ۱۹۶۲ع کال په (ستيخي پييتئ افګانستانه) نومي کتاب چي د (د افغانستان د شاعرانو نظمونه) معنی لري له ۴۹ مخ څخه تر ۶۰ مخ پوري چاپ سوي دي[1].

۶- پښتني مېرمني:

د افغانستان د نوميالیو مېرمنو دغه تذکره په ۱۳۲۳ش کال د مطبوعاتو د رياست له خوا چاپ سوې ده، د کتاب ټول مخونه ۲۳۱ دي او

---

* د دغي مجموعې دوهم چاپ د څه زياتونو سره په ۱۳۷۸ش کال په کوټه کي د صحاف نشراتي مؤسسې په توسط تر سره سو (م. روهيال).

[1] د ارواښاد بېنوا صاحب د شعرونو او نثرونو يوه منتخبه مجموعه د (ژوند د انځور) په نامه شريف راټوله کړې ده.

په ۱۹۸۳کال په ماسکو کي د افغانستان د څلورو شاعرانو (بېنوا، الفت، لايق او بارق) د ځينو شعرونو روسي ژباړي خپرې سوي دي. په دغه مجموعه کي له ۳۸ مخ څخه تر ۶۱مخ پوري د اروښاد بېنوا صاحب د ولس شعرونه او يوولس رباعي ګاني په روسي نظم ژباړلي سوي دي. د اروښاد بېنوا صاحب د روسي سوي شعرونو عنوانونه په پښتو داسي بايد وي: ۱- خدايه و د ژړا يمه، ۲- بېنوا بلبل، ۳- غلی شاتته انقلاب، ۴- دا ولي؟ ۵- دا هم ژوند؟ ۶- د يتيم ژړا، ۷- د مهجوري نجلۍ اختر، ۸- د مور چيغي، ۹- بياباني ګل، ۱۰- د کارګر ترانه، ۱۱- ملګري، ۱۲- سپين غر.

په دغه مجموعه کي د اروښاد بېنوا صاحب پنځه رباعي ګاني عنوانونه نه لري، د شپږو عنوانونه دا دي: ۱- د اتوم بم، ۲- اجير عسکر، ۳- بدايي، ۴- شمعه، ۵- څپه، ۶- اوښکه [استدراک].

د ۱۱۸ مېرمنو حالونه پکښې سته*.

دې کتاب په ۱۳۲۳ش کال د خوشال خان خټک جایزه وړې ده.

۷- ادبي فنون:

دا کتاب د هغو درسونو مجموعه ده، چې ښاغلي بېنوا په ۱۳۲۳-۱۳۲۴ش کال په ادبیاتو پوهنځي کي تدریس کړي وه، په دې کتاب کي معاني، بیان، بدیع، عروض، قافیه، خطابه او د لیکني اصول په ښه اسلوب څېړل سوي دي. ادبي فنون په ۱۳۲۶ش کال د پښتو ټولني له خوا چاپ سوي دي، مخونه ئې ۱۰۶ دي، قطعه ئې لویه ده**.

۸- پښتونستان:

دا کتاب لومړی وار په ۱۳۳۰ش کال د انیس په ورځپانه کي ټوک-ټوک خپور سو، بیا په دغه کال د مطبوعاتو د مستقل ریاست له خوا په کتابي ډول هم چاپ سو، دا کتاب ۴۸۰ مخه دئ، په دې کتاب کي د پښتونستان زاړه نومونه، جغرافیه، تاریخ، قبیلې، رجال او د پښتونستان د تحریک کارروایی څېړل سوي دي، دا کتاب پر پنځو برخو وېشلی دئ.

۹- لنډۍ:

دغه کتاب په ۱۳۳۷ش کال د راډیو افغانستان له خوا په ډېر ښه

---

* د استاد مرحوم دغه تذکره د دوهم ځل له پاره په ۱۳۸۷ش کال د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست له خوا خپره سوه (م. روهیال).

** د دې اثر دوهم چاپ په ۱۳۸۲ش کال په کندهار کي د هیواد کلتوري ټولني له خوا تر سره سو، سږکال (۱۳۹۰ش) په کندهار کي د علامه رشاد خپرندویه ټولني له خوا د دریم ځل له پاره بیا چاپ سو (م. روهیال)

صحافت مصور چاپ سوی دئ، کتاب ۱۷۶مخه دئ، په دې کتاب کې منتخبې لنډۍ له پارسي او انګرېزي ترجمو سره راغلي دي، د لنډيو وېش پر موضوعاتو سوی دئ.

انګرېزي ترجمه ئې ښاغلي محمدابراهيم خان شريفي کړې ده.

۱۰- د زړه خواله:

دا کتاب څو ليکونه دي، چې ښاغلي بېنوا خپل فرضي ملګري ته ليکلي او په هغو کې ئې د اجتماعي دردو په باب له خپل ملګري سره د زړه خواله کړې ده. دا کتاب لومړی وار په ۱۳۳۸ش کال د اصلاح په ورځپاڼه کې ټوک- ټوک خپور سو، بيا په ۱۳۴۵ش کال د کتاب چاپولو موسسې له خوا په کتابي ډول هم چاپ سوی دئ، کتاب ۶۱ مخه دئ او ۲۱ ليکه پکښې راغلي دي، دې کتاب په ۱۳۴۰ش کال د داستان لومړۍ جايزه وړې ده**.

۱۱- پښتو څېړني:

دا کتاب تر ۱۸۸۶ع کال وروسته د فرانسې مشهور ختيځپوه ډاکټر جيمزډار مسټټر (۱۸۴۹ - ۱۸۹۴ع) په فرانسوي ژبه کښلی دئ، دوې برخې لري: فونولوژي- مورفولوژي.

دغه کتاب سيدقاسم خان رښتيا په پارسي ترجمه کړ، بيا فاضل

** د استاد مرحوم دغه اثر چې د خپل خيالي ملګري په نامه ئې د هنري نثر په انداز ليکلی، سږکال (۱۳۹۰ش) د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست له خوا د دوهم ځل له پاره په کتابي بڼه چاپ او خپور سو (م. روهيال).

استاد پوهاند عبدالحي حبيبي او ښاغلي بېنوا په ګډه پښتو ژبي ته راواړاوه.

پښتو ځېړني په ۱۳۲٦ش کال د پښتو ټولني له خوا چاپ سو، قطعه ئې لويه ده ۱۱۲ مخونه لرئ، دا کتاب په کابل مجله کي ټوک ټوک هم خپور سوی دئ.

۱۲- چند آهنګ پښتو:

په پارسي ژبه د ٦۴ پښتني آهنګونو شرحه ده، چي په عصري او غربي ډول د موسيقۍ نوټونه هم ورسره سته، دا رساله لومړی وار د ۱۳۲۵ش کال په کالنۍ (سالنامه) کي خپره سوه، بيا د راډيو افغانستان له خوا په ځانګړې توګه هم چاپ سوې ده، د دغي ځانګړي رسالې مخونه ۳٦ دي قطعه ئې لويه ده، دا د يوه کنفرانس متن دئ چي ښاغلي بېنوا د راډيو افغانستان په تالارکي لوستی دئ، د موسيقۍ د نوټو برخه ئې فرخ افندي ترتيب کړې ده. دغه رساله د آريانا دائرة المعارف د دريم جز په پای کي هم چاپ سوې ده.

۱۳- د غنمو وږی:

دا يوه تاريخي منظومه رساله ده، چي په ۱۳۲۵ش کال پښتو ټولني چاپ کړې ده، په دې رساله کي د لوی احمدشاه بابا (۱۱٦۱-۱۱۸٦هـق) د انتخاب او جلوس د ورځي منظره ترسيم سوې ده، دغه رساله چي (۳۰) مخه ده د مطبوعاتو جايزه ئې وړې ده. دغه منظومه د لسم ټولګی په پښتو قرائت کي هم راغلې ده.

۱۴- خوشال خان ختک څه وايي؟

په دې کتاب کي د خوښال خټک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) ارمانونه، آرزوګاني او وصيتونه راټول سوي دي، لس عنوانه لري، دا کتاب لومړی وار په ۱۳۲۷ش کال د بمبئي په محمدي چاپخانه کي د ښاغلي غلام حسن خان ساپي په مرسته د بلخ د اتحاديه شرکت له خوا چاپ سوی دئ، ۱۹۶ مخه لري، په پای کي ئې د بمبئي د انجمن پښتون مشر مولانا تاج محمد خليل يو تقريظ هم سته، د دغه کتاب چاپ ټولي نسخې په کراچۍ کي د پاکستان حکومت ضبطي کړې، ځکه نو په ۱۳۲۹ش کال دوهمه پلا د مطبوعاتو د رياست له خوا په کابل کي چاپ سو، د دغه کتاب چاپ مخونه (۱۵۸) دي*.

دغه کتاب د خوشال خان دريمه جايزه وړې ده.

۱۵- پرديس:

دا د علامه اقبال لاهوري (۱۲۹۱ - ۱۳۵۸ هـ ق) د (مسافر) نومي منظوم کتاب منظومه پښتو ترجمه ده، په ۱۳۲۱ش کال د انيس په ورځپاڼه کي ټوک - ټوک خپره سوې ده.

۱۶- د پير محمد کاکړ ديوان:

دغه ديوان په ۱۳۲۵ش کال د پښتو ټولني له خوا چاپ سوی دئ، تدوين، تصحيح او مقابله ئې ښاغلي بېنوا کړې ده، مقدمه ئې هم ښاغلي

---

* د دغه اثر دريم چاپ په کوټه کي د صحاف نشراتي مؤسسې په همت تر سره سو (م. روهيال).

بېنوا کښلې ده[1].

۱۸ - د رحمان بابا دېوان:

دغه دېوان چې په ۱۳۲۸ش کال د پښتو ټولنې له خوا په وړه قطعه او ښکلي خط چاپ سوی دئ تدوین، تصحیح او مقابله ئې ښاغلي بېنوا کړې ده، مقدمه ئې هم د ښاغلي بېنوا ده، خط ئې د افغانستان د مشهور خطاط عزیزالدین وکیلي پوپلزي دئ.

۱۹ - ویښ ځلمیان:

دا کتاب د هیواد د ځینو ځلمیانو او ځینو پوهانو د اجتماعي او سیاسي افکارو د مضامینو یوه مجموعه ده، چې د ښاغلي بېنوا په غوښتنه، ټولونه او اهتمام په ۱۳۲۶ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ سوی دئ.

۲۰ - پاچا خان:

دا کتاب فارغ بخاري په اردو ژبه د خان عبدالغفار خان، خدایي خدمتګار تحریک او د هغو د قربانیو په باب کښلی دئ او ښاغلي بېنوا په پښتو اړولی دئ. دغه کتاب په ۱۳۳۸ش کال د انیس په ورځپاڼه کې ټوک - ټوک خپور سوی دئ.

۲۱ - د لسم ټولګي پښتو قرائت:

دغه درسي کتاب د پوهنې د وزارت په غوښتنه ښاغلي بېنوا په

---

[1] د پیرمحمد کاکړ د دېوان یوه نیمګړې نسخه پخوا تر دې په هندوستان کې چاپ سوې وه.

۱۳۳۹اش کال کښلی او لومړی وار په ۱۳۴۴اش کال د پوهني وزارت له خوا چاپ سوی دئ، مخونه ئې ۲۳۷ دي، په پای کي لغتنامه هم لري، دا کتاب دوهمه پلا هم چاپ سوی دئ.

۲۲- پښتو کلي:

د پښتو کِلي څلرم جلد لومړی ټوک د پښتو ژبي درسي کتاب دئ، د پښتو کورسو په نصاب کي داخل وو، دا کتاب چي د ښاغلي بېنوا لومړی چاپي کتاب دئ په ۱۳۲۰اش کال د پښتو ټولني له خوا چاپ سوی دئ[1].

۲۳- پښتو د شاهانو په دربار کي:

دا یوه رساله ده چي په دې کي د هغو شاعرانو پښتو پالنه یاده سوې ده، چي دوی په خپلو دربارو کي پښتو لیکوالو، پښتنو پوهانو او پښتنو شاعرانو ته ځای ورکړی وو او هغه ئې روزلي او تشویق کړي وه، دا رساله د ۱۳۲۲اش کال په کالنۍ (سالنامه) کي چاپ سوې ده*.

۲۴- نظری به پښتونستان:

---

[1] د پښتو کلي د څلورم ټوک دوهمه برخه هم اروانباد استاد بېنوا لیکلې او په ۱۳۲۰هـ ش کال د پښتو ټولني له خوا چاپ سوې ده په دغه وخت کي اروانباد استاد بېنوا د پښتو ټولني د صحافت مدیر وو، د پښتو کِلي دغه برخه شپېته درسه لري او په ۱۰۳ مخونو کي ځای سوې ده [استدراک].

* د دغي رسالې نسبتاً بشپړه بڼه په ۱۳۵۷اش کال د (پښتو روزنه) په نوم د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له خوا چاپ سوه، په دې چاپ کي د استاد بېنوا له خوا پر پخوانۍ بڼه یوه مقاله اضافه سوې او د لوی استاد علامه حبیبي د یو مخیز یادښت پر راغلی دئ. یوه مغتنمه او د معلوماتو له نګاه څخه یوه غوښنه سریزه ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل پر کښلې ده (م. روهیال).

په پارسي ژبه يوه رساله ده، چي د پښتونستان پر موضوع باندي اجمالي څېړنه پکښې سوې ده، دا رساله لومړی وار د ۱۳۲۹ش کال په کالنۍ او بيا په ځانګړي ډول چاپ سوې ده.

۲۵ - خوشال او پسرلی:

دا يو کوچنی اثر دئ چي په هغه کي د خوشال خان پسرلني او رندانه اشعار را ټول کړه سوي دي او په ۱۳۳۷ش کال د پښتون ږغ (مجلې) د مديريت له خوا خپور سوی دئ.

۲۶ - د ګيت آنجلي پښتو ترجمه:

چي د دغه کتاب دئ.

۲۷ - افغانستان اليوم:

دا اثر په عربي ژبه د ښاغلي بېنوا په زيار په ۱۳۴۲ش کال په قاهره کي چاپ سوی دئ، په دغه وخت کي ښاغلی بېنوا په قاهره کي د افغانستان په سفارت کي مطبوعاتي مستشار وو.

۲۸ - اربعين حقيقة عن افغانستان:

دا اثر په عربي ژبي د ښاغلي بېنوا په زيار په ۱۳۴۳ش کال په قاهره کي چاپ سوی دئ.

۲۹ - آثار افغانستان:

دا کتاب په ۱۳۴۳ش کال په قاهره کي د ښاغلي بېنوا په زيار چاپ سوی دئ. مخونه ئې ۹۶ دي.

۳۰ - هديا العام الجديد:

دا تقويم په ۱۹۶۶ع کال په قاهره کي د ښاغلي بېنوا په زيار چاپ

سوی دئ، مخونه ئې ۱۳۴ دي.

۳۲-آشيانه عقاب:

يوه تاريخي او حماسي ډرامه ده چي په پارسي کښل سوې او په کابل ننداره کي تمثيل سوې ده.

۳۳-اشتباه:

يوه اجتماعي ډرامه ده چي په پارسي کښل سوې او د کابل د جشن په صحنه کي تمثيل سوې ده.

۳۴-کار بر اصل:

يوه اجتماعي او تنقيدي ډرامه ده چي په پارسي کښل سوې او د کابل په پوهني ننداري کي تمثيل سوې ده، د دغه ډرام پښتو ترجمه د (اصلي کار) په نامه د وږمې په مجله کي چاپ سوې ده.

۳۵-زوړ گنهکار:

يوه اجتماعي او تنقيدي ډرامه ده، چي په پښتو کښل سوې ده، متن ئې په کابل مجله او پښتون ږغ کي خپور سوی دئ او ډرامه د کندهار په پوهني ننداره کي تمثيل سوې ده.

۳۶-زرنگ:

يو راډيو ډرام دئ چي په پارسي ژبه کښل سوی او په راډيو افغانستان کي تمثيل سوی دئ.

۳۷-حکومت بيدار است:

يو پارسي راډيو ډرام دئ چي په راډيو افغانستان کي تمثيل سوی دئ، متن ئې د پښتون ږغ په مجله کي چاپ سوی دئ.

۳۸- لیدران امروز پښتونستان:

په دې رساله کې د پښتونستان د اوسنیو ځینو مشرانو لنډ پیژند ګلوي راغلې ده، دا رساله لومړی وار د ۱۳۳۱ش کال په کالنۍ کې چاپ سوې ده بیا په ځانګړي ډول چاپ ته رسېدلې ده، د دغې رسالې مخونه ۳۰ دي، قطعه ئې لویه ده.

۳۹- آریایي پارسي، پښتو وېرني:

دا رساله د ۲۶-۱۳۲۵ش کلو په کالنیو کې خپره سوې ده[1].

۴۰- د هوتکو په دوره کې پښتو:

دا یوه وړوکې رساله ده چې د پښتو ژبې د انکشاف او ادب په باب د هوتکو مشرانو او شاعرانو توجه پکښې څېړل سوې ده، د چاپ ځای ئې کابل مجله ده.

۴۱- طوق لعنت:

یو تمثیلي ډرام دئ چې په ۱۳۲۴ کال ئې د مطبوعاتو جایزه وړې ده.

۴۲- صدای وطن:

یو تمثیلي ډرام دئ په ۱۳۲۶ش کال ئې د تالیف څلرمه درجه جایزه وړې ده.

۴۳- برګ سبز:

په پارسي ژبه یو فکاهي اثر دئ، په ۱۳۲۶ش کال کې ئې د تالیف دوهمه درجه جایزه وړې ده، تر اوسه چاپ سوی نه دئ.

---

[1] آریایي پارسي او پښتو وېرني په ۱۳۶۲هش کال د زېري د جریدې له خوا په ځانګړې توګه چاپ سوي دي، دغه رساله ۴۰ مخونه لري [استدراک].

۴۴ - د چین سفر:

دا کتاب ښاغلي بېنوا په ۱۳۳٦ش کال کښلی دئ تر اوسه نه دئ چاپ سوی.

۴۵ - خوشال خان از زبان خوشال خان:

یوه کوچنۍ رساله ده، چي ښاغلي بېنوا د خوشال خان په باب په پاړسي ژبه کښلې ده، دغه رساله په انیس کي خپره سوې ده.

زه فاضل لیکوال ښاغلي بېنوا ته د عمر اوږدوالی، روغتیا او فراغ غواړم چي پښتو ژبه او ادب د ده له زیار او کار څخه نوره هم ډېره برخورداره سي او د دغه اثر مبارکي ورته وړاندي کوم.

۴٦ - د افغانستان تاریخي پېښي*:

د دغه کتاب لومړی ټوک چي د ۱۳۵۴ هـ ش کال د لېندۍ په میاشت کي د ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګي له خوا خپور سوی دئ ۱۸۸ مخه لري او تر ۳۲۹ هـ ق کاله پوري پېښي پکښې څېړل سوي دي.

د دغه کتاب دوهم ټوک په ۱۳۵۷ هـ ش کال د ادبیاتو د پوهنځي له خوا د کابل په دولتي چاپ خانه کي چاپ سوی دئ ۴۲۹ مخه لري او تر ٦۰۲ هـ ق کاله پوري پېښي څېړل سوي دي.

۴۷ - آئینه سکندري:

د (المصقلة المرضیة للمرآة الرضیه) پاړسي ژباړه ده، د دغي ژباړي یوه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کي په ۴۷ ګڼه کي خوندي

---

* تر دغه عنوان وروسته کتابونه د هغو استدراکاتو برخه ده چي د ګیتانجلي د دریم چاپ په سریزه کي د اضافاتو په ډول راغلي دي (م. روهیال).

ده. اصل کتاب د (یوسرفندیک) امریکایي تالیف دئ.

۴۸ - خوږه ژبه پښتو:

ارواښاد استاد بېنوا د پښتو ژبي صرف نحوه په پارسي لیکلې ده د دغه کتاب یوه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کي په ۱۲۶۸ګڼه کي خوندي ده.

۴۰ - د افغانستان لنډ تاریخ:

د لوی استاد ارواښاد پوهاند عبدالحي حبیبي د تاریخ مختصر افغانستان د دواړو ټوکو پښتو ژباړه ده، په ۱۳۵۶ هـ ش کال په کابل کي چاپ سوې ده.

۵۰ - د شیطانانو کابینه:

ډارمه ده.

۵۱ - د افغانستان نومیالي - دریم ټوک:

دا کتاب د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا د آمریت له خوا په ۱۳۵۶هـ ش کال چاپ سوی دئ، د کتاب مخونه ۵۵۴ دي، د دغه کتاب وروستی سړی ایوب هروي دئ چي د افغانستان د نومیالیو ۱۳۵۹ سړی کېږي، په دغه ټوک کي ۳۵۶ تنه راپېژندل سوي دي.

۵۲ - د افغانستان نومیالي - څلورم ټوک:

دا ټوک په ۱۳۶۰هـ ش کال د افغانستان د مطبوعاتو او کلتور د وزارت له خوا چاپ سوی دئ د کتاب مخونه ۴۸۴ دي، په دې ټوک کي ۴۰۸ تنه نومیالي راپېژندل سوي دي. وروستی سړی ئې ایوب خان دئ چي د افغانستان د نومیالیو ۱۷۶۸م سړی کېږي.

۵۳- د پښتو متلونه:

دغه کتاب په ۱۳۵۸هـ ش کال د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له خوا په کابل کې چاپ سوی دئ. مخونه ئې ۴۵۴ دي په دې مجموعه کې اروا ښاد استاد بېنوا ۴۵۰ پښتو متلونه په الفبائي ترتیب راټول کړي او په پارسي ئې ژباړلي دي، د استعمال ځایونه ئې هم ښودلي دي. انګرېزي ژباړه ئې ښاغلي عبدالمحمد شینواري کړې ده.

۵۴- لنډۍ:

په ۱۳۵۸هـ ش کال د پښتو څېړنو نړیوال مرکز له خوا په کابل کې چاپ سوی دئ مخونه ئې ۱۲۲ دي. په دغه مجموعه کې اروا ښاد استاد بېنوا ۳۲۴ لنډۍ په پارسي ژباړلي او پر ۱۷ موضوعاتو ئې وېشلي دي. انګرېزي ژباړه ئې د ښاغلي سعدالدین شپون ده.

۵۵- پارسي عربي قاموس:

دغه قاموس اروا ښاد استاد بېنوا د لیبیا په پایتخت طرابلیس کې تالیف کړی وو. دی په دغه وخت کې د افغانستان د دولت له خوا په لیبیا کې سفیر وو، اروا ښاد استاد بېنوا په ۱۳۶۳ د غوایي پر دوولسمه په یوه لیک کې ما (رشاد) ته لیکلي دي:

"ما خو دلته د پارسو د لغاتو قاموس په عربي ژبه بشپړ کړی دئ زیار باسم چي کوم ټایپسټ پیدا کړم چي هغه پاکنویس یا ټایپ کړم بیا به نو یوه نسخه تا ته درولېږم، نور نو د نورو څېړنو په باب زما صحي وضعیت او ډاکټر اجازه نه راکوي چي ډېر کار وکړم".

۵٦- د هسک پېغله:

د اروابناد استاد بېنوا د څلوېښتو* پښتو شعرونو مجموعه ده چې ښاغلي افضل ټکور راټوله کړې ده. د هسک پېغله په ۱۳٦۷هـ ش کال د کابل په دولتي چاپ خانه کې چاپ سوې ده، ټول مخونه ئې ۵۷ دي.

۵۷- زوړ ګنهکار:

دا د استاد بېنوا د ډرامو مجموعه ده.

۵۸- د نړۍ په کتابخانو کې د مولانا جامي خطي آثار:

د اروابناد بېنوا دغه رساله ناچاپه پاته ده.

۵۹- شین کتاب:

دا د لیبیا د واکمن قذافي د یاداښتونو د مجموعې پښتو ترجمه ده. استاد بېنوا د ۱۳٦۳ هـ ش کال د مرغومي په یوویشتمه (= ۱۲ د دوهمي خور ۱۴۰۵ = د جنوري ۱۱ - ۱۹۸۵ع) د امریکا د اضلاع متحده د نیوجرسي په ایالت کې مړ سوی او د نیوجرسي د Rose Hill په غونډۍ کې خاورو ته سپارل سوی دئ. زه (رشاد) ئې قبر ته ورغلی یم. (خدای ﷻ دې ئې وبخښي). د اروابناد استاد بېنوا عمر په شمسي حساب ۷۱ او په قمري حساب ۷۳ کاله وو.

---

* په اصل کې څلورو لیکلی دئ، خو په یاده مجموعه کې د بېنوا مرحوم څلوېښت پښتو شعرونه چاپ سوي دي (م. روهیال).

د اروابناد بېنوا د پنځمي تلينې په تقريب زما (رشاد) وينا:

د اروابناد استاد بېنوا
د ژوند وروستي څلور کاله*

درنو اروېدونکو!

د ليکوالو د اتحاديې په (۹) کلن عمر کي دا لومړی وار دئ چي زه د دوی په يوه کنفرانس يا غونډه کي ګډون کوم، د دې ګډون سبب دا دئ چي زه د اروابناد استاد عبدالرؤف بېنوا د يوه تېروني اشنای او ملګري په توګه رابلل سوی يم، د اشنايي او ملګري حق زه دې ته اړ ايستلم چي هغه تحريم مات کړم.

ښاغلو، پېغلو او مېرمنو!

زه خپله وينا د پښتو ژبي د خوږ ژبي شاعر پيرمحمد کاکړ په هغو بيتونو پيلوم، کوم چي ما دوه ويشت کاله پخوا د پغمان په يوه شنه او سمسور بڼ کي له سرمست بېنوا څخه اروېدلي وه او نن هغه زړه .

* دغه مقاله او د علامه رشاد مرحوم راتلونکي پنځه مقالې د دوی له (د بينوا ياد) نومي اثر څخه را اخيستل سوي دي.

رېبلونکې صحنه په دغه غونډه کي د سر په سترګو وينم، هغه بيتونه دا دي:

د رېغه ګل به د ګلزار وي، مور به نه يو
د بلبل به پرې چيغار وي، مور به نه يو
ځلمي، جونه به سيلونه په صحرا کا
دښت و غر به لاله زار وي، مور به نه يو
څوک به بيا دي تازه ګلونه په اوربل کي
چا به ايښي په دستار وي، مور به نه يو
د زړه يار به مو افسوس پر مزار کاندي
تور لېمه به ئې خونبار وي، مور به نه يو



ورمه ورځ د اروانباد استاد بېنوا د مرګ پنځم کال پوره سو، استاد بېنوا د ۱۳٦۳ ش کال د جدي په يوويشتمه (۱۹۸۵ جنوري ۱۱ع) په پرديسي کي مړ دئ او نن ئې د افغانستان د ليکوالو د اتحاديې له خوا د پنځمي تلينې په درناوي دا مجلس جوړ سوی دئ.

د اروانباد استاد بېنوا د ژوند وروستي څلور کاله په ليبيا کي د افغان سفير په توګه تېر سوي دي، ځکه نو د افغانستان محققينو او ليکوالو ته د ده د دغو څلورو کلو علمي زيار او ادبي فعاليت څه تت غوندي دئ او زه غواړم درنو اروېدونکو ته په دغه باب څه معلومات وړاندي کړم.

د ليبيا د سفارت په دغو څلورو کلونو کي له اروانباد بېنوا سره هغه بدمرغې ناروغي مله وه، چي پای ته ئې دی د مرګ مزله ته ورساوه، د

هډوکو او پلو درد به ئې کله دومره سخت سو، چي بې ټکورونو او مسکنو ملهمونو به ئې آرام نه کېده او کله به ئې د ده په قول په ګوتو کي د ليکلو توان نه وو، خو په دغسي حال کي هم له تتبع او تحقيق څخه د ده مينه ماته نه سوه، ماغزه، سترګي او ګوتي ئې د علم او ادب په چوپړ بوختي وې، ده د لېبيا د رئيس جمهور سرتيپ معمرالقذافي کتاب الاخضر په پښتو واړاوه او شين کتاب ئې ونومه، پارسي عربي فرهنګ ئې وليکه، اروابناد استاد بېنوا په هغه ليک کي چي د ۱۳۶۳ ش کال د ثور په دوولسمه ئې په لېبيا کي ليکلی او ما ته ئې رالېږلی دئ، د دغه فرهنګ د بشپړېدلو په باب داسي کښلي دي:

"پر ما ډېر ګران او زړه ته راتېر پوهاند رشاد صاحب!

ما خو دلته د پاړسو د لغاتو قاموس په عربي ژبه بشپړ کړی (دئ) زيار باسم چي کوم ټايپسټ پيدا کړم چي هغه پاکنويس او ټايپ کړي او بيا به نوې يوه نسخه تاسي ته درولېږم".

په دغه ليک کي اروابناد استاد بېنوا دا هم زياته کړېده:

"نور نو د نويو څېړنو په باب زما اوسنی صحي وضعيت او ډاکټر اجازه نه راکوي چي ډېر کار وکړم او بل دا چي تر دې وروسته زموږ زړې علمي بابولالي او خبري له مؤډه لوېدلي او د اوسني انقلابي نسل په درد نه خوري او نه ئې زلمی طبقه خوښوي، نو ښه دا ده چي موږ نور استراحت وکړو او نوي زلميان پرېږدو چي نوي پروسې منځ ته راوړي او وئې څېړي، موږ به نو اوس د بابولالي د يوې سندري په اساس ووايو:

چي پر موړ وه، موړ خو وکړه، اوس وار د خېښانو دئ چي څه به وکړي ....".

د اروابښاد بېنوا د دغه پارسي عربي فرهنګ کومه نسخه زما ګوتو ته نه ده راغلې، خو د ده له هغه لیکه څخه چي د ۱۳٦۰ ش کال د جوزا په یوولسمه نېټه ئې راته لیکلی دئ داسي معلومېږي چي دا یو غټ فرهنګ دئ، د استاد بېنوا خپل عبارت دا دئ:

"زما څخه خو لیکنه پاته ده، یوازي د دري ژبي لغات د عربي لغاتو سره د قاموس په شکل لیکم چي اوس پنځو زرو دري لغاتو ته رسېدلي او د سین ردیف مي تر لاس لاندي دئ، خو د دري د پنځو زرو لغاتو په مقابل کي ممکن تر شلو زرو زیات عربي لغات راغونډ سوي وي، ځکه چي د دري د یوه لغت په مقابل په متوسط ډول پنځه شپږ مترادف عربي لغتونه راوړه سوي دي". ما ته دومره معلومه ده چي استاد بېنوا دوه کاله نور هم د دغه فرهنګ په لیکلو بوخت وو.

د اروابښاد استاد بېنوا تر مرګ وروسته د دغه فرهنګ او شنه کتاب پته راڅخه ورکه وه، د استاد بېنوا درېیم زوی خوشحال بېنوا په شنه کتاب نه وو خبر او د فرهنګ په باب ئې راته وليکل هغه په لیبیا کي د افغاني سفارت له سکرتري څخه وو، نور نو نه یم خبر چي سکرتري صاحب څه په وکړله؟

څه موده وروسته ښاغلی عبدالرحیم هاتف لیبیا ته په یوه رسمي سفر رهي وو، ما هیله ځني وکړله چي د دغو دوو کتابونو درک معلوم کړي، ښاغلي هاتف چي له دې سفره راستون سو، راته وئې ویل:

"په لیبیا کې د افغاني سفارت د نوي سکرتري معلومات د دغو دوو کتابو په باب فقط دومره وه چې شین کتاب له یوه رسمي لیک سره په خپله استاد بېنوا د لیبیا د بهرنیو چارو کمیټې ته لېږلی دئ او پارسي عربي فرهنګ ئې په لیبیا کې د افغاني سفارت له پخوانی سکرتري څخه وو، نه یم خبر چې څه ئې کړ؟"

ارواښاد استاد بېنوا د لیبیا د سفارت په څلور کلنه دوره کې نه یوازې په ترجمه او تالیف بوخت وو بلکې د پښتو او دري ژبو د خطي کتابو لټه ئې هم کوله، په یوه خط کې ئې راته لیکلي وه:

"دلته په لیبیا کې یوه پښتنه کورنی اوسي، دوی وایي: زموږ دوستان د کندهار په ده خواجه کې اوسي او زموږ نیکه عمرجان صاحبزاده وو، له دوی سره د پښتو نظم یوه خطي نسخه خوندي ده چې د سر و پای پاڼې ئې نسته، ځکه ئې نوم نه معلومېږي، دا دې څو بیته مې ئې درته ولیکل، ګوندې وئې پېژندلای سې".

ما په جواب کې ورته ولیکل:

"دا د حافظ نظام لیلی و مجنون کتاب دئ چې په ۱۱۰۰ یا ۱۱۴۵ ه ق کال ئې نظم کړی دئ".

ارواښاد استاد بېنوا چې په ۱۳۶۲ ه ش کال د علاج له پاره ماسکو ته راتی، دغه کتاب ئې ما ته د رالېږلو په نیامت ورسره راوړی وو، په ماسکو کې چې ئې ډاکټر شېرزی لیدلی وو، نوموړی کتاب ئې د ده په لاس ما ته راولېږه، خو دا کتاب ما ته راونه رسېده او شېرزي لالا خوله پر پټه کړله، شېرزی دغه وخت د کابل د وزارت صحې معین وو.

د اروانښاد استاد بېنوا خطونه له لېبيا څخه ما ته منظم راتلل، په دوو دريو هفتو کي ئې يو خط راته ليکه، د بېنوا په هر خط کي به يو نوی او دلچسپ مضمون وو، کله به ئې خپل يو نوی شعر زاته ليکلی وو کله به ئې کومه ټوکه راته ليکلې وه او کله به ئې د خپل علمي فعاليت په باب څه تفصيل راته ليکلی وو او کله به ئې خپل مشکلات. په دغو خطونو کي ئې په يوه خط کي داسي راته ليکلي وه:

"زه د سفارت په دوهم پوړ کي اوسم، يوه ورځ سهار د سفارت غولي ته راکښته سوم چي لږ قدم ووهم که ګورم يو سور سپی د سفارت د غولي په رېګو کي پروت دی څو پلا مي چغه کړ، پروا ئې و نه کړله سترګي ئې سپيني راته نيولي وې، ما ځان ته وويل: سپي و نه پېژندلې چي ته د کابل د دولت له خوا دلته سفير يې، ځکه نو بيرته دوهم پوړ ته وختلم، د سفير رسمي دريشي مي وکړله، کلونيا مي په ځان ووهل سر مي بږمنځ کړ، په خورا اډمار راکښته سوم او په يوه آمرانه لهجه مي سپی چيغه کړ او دا مي پسي زياته کړله ته نه ئې خبر چي دا د کابل د دولت سفارت دی، پر دروازه ئې په غټو تورو ليکلي دي:

سفارت الدوله الديموقراطيه الافغانستان

تا څه حق درلود چي د بل هيواد د سفارت په حريم بې اجازې راننوتلی يې؟

سره سپي چي دا واورېدل داړي ئې راته سپيني کړلې راته وئې غپل او په خورا قهر ئې د حال په ژبه راته وويل:

ته نه شرمېږې چې دا خبري کوې که ته داسي مېړه يې ورسه خپل ملک آزاد کړه، خپل ملک دي نورو نيولی دی، هغه چا چي ستا پر ملک بريد کړی دی هغو ته ولي د ويلو جرئت نه لرې، ته خبر يې ستا په ملک کي د وينو ولې بهېږي، دېري مېرې سوي دي، کلي کورونه هوار دي، د بورو ورارو، کونډو او يتيمانو چيغارو ستا د ملک فضا پر سر اخيستې ده، ته که دومره غيرت لرې...

ما چي د سره سپي خبري اروېدلې له شرمندګۍ مي مځکي ته کتل، سر مي نه سوای پورته کولای، په سترګو کي مي اوښکي راغلې او پر ګرېوانه ئې څڅېدل پيل کړل زه په ډېر خجالت ستون سوم او په ځينو کي دوهم پوړ ته وختلم".

ارواښاد بېنوا د کابل د دولت سفير وو، خو د دوی له ټولو خپلسريو سره ئې موافقت نه درلود او کله کله به ئې د خپل ملک پر بده ورځ دغسي زړه دردونکي کوکي تر خوله ختلې.

زه چي د استاد بېنوا په مرګ خبر سوم هغو کسانو ته مي خطونه وليکل چي بېنوا ئې د ژوند په وروستيو ورځو او شپو کي ليدلی وو او له دوی څخه مي وغوښتل چي د بېنوا د ژوند له وروستيو حالاتو ما خبر کړي، په دې لړ کي مي يو خط سيد عبدالوهاب کندهاري ته هم وليکه چي په فيدرالي المان کي اوسي، ده راته وليکل:

"تر څو چي استاد بېنوا دلته په روغتون کي بستري وو، زه هره ورځ د ده پوښتني او خدمت ته ورتلم، هره ورځ به ئې دا خبره په خوله کي وه:

کشکي په خپل وطن کي وای یاران به رابانديي راټول وای زما غمخوري به ئې کولای او ما به د دوی په دیدار زړه خوشالاوه، رنځ به مي سپکیدی او...

یوه روځ ئې د دغو خبرو په ترڅ کي او ښکي پر مخ راغلې دغه ورځ ده په اوښکو او حسرت کي دومره اغېزه وه چي زه ئې هم ورسره وژړولم او اوس چي هم هغه پېښه درته لیکم سترګي مي اوښلني دي."

د ۱۳۶۴ ش کال په لومړۍ نیمایي کي چي زه په جاپان کي وم د اروا ښاد استاد بېنوا درېیم زوی خوشال بېنوا د خپل پلار منظومه وصیت نامه راته راولېږله په دې وصیت نامه کي د افغانستان پر بده ورځ ډېري اغېزه تاکي اوښکي توی سوي وې، دا وصیت نامه ما له ځان سره ډهلي ته راوړله او هلته مي د یوه شاګرد په کور کي پرېښووله، اوس اروم چي هغه وصیت نامه د افغاني مهاجرینو په کوم اخبار کي خپره سوېده (ګومان کوم دغه اخبار به مجاهد اولس وي چي په ناروې کي خپرېږي)، د دې وصیت نامې پیغام دا وو:

"زما پر شنخته ولیکئ دلته د زړه په ناجوړۍ مړ پردېس افغان عبدالرؤف بېنوا ښخ دی، ګوندي پښتانه ځلمیان یو وخت د ده هډونه خپلي پاکي خاوري ته ورسوي او د مات او وطن ته د تږي زړه ارمانونه ئې تر سره کړي".

دا وه د بېنوا د ژوند د وروستیو ورځو د ژوندانه یوه لنډه یادونه. اوس به راسو د کابل د حکومت هغې خاصمانه رویې ته چي د بېنوا تر مرګ وروسته ئې د ده له نامه او د ده له آثارو سره اختیار کړې وه:

اروابناد استاد بېنوا د ۱۳۶۳ ش کال د جدي په يوويشتمه ومړ، دغه وخت زه د زړه په ناروغي ناروغه وم او د کابل د علي آباد په روغتون کي مي علاج کېده د داخله ناروغيو په څانګه کي بستري وم، ملګري او دوستان د بېنوا په ويرجنه مړينه خبر وه خو زه ئې نه خبرولم او دا بد خبر ئې له ما څخه پټ ساته، يوه ورځ چي ما په کور کي د نقاهت دوره تېروله، زموږ د يوه خورا درانه ملګري (وکيل صاحب نورمحمد) تر خوله ووتل: "اروابناد بېنوا ..." زه ورته ځير سوم او پوښتنه مي ځني وکړله:

"څوک اروابناد؟" خبره نوره د پټېدلو نه وه، ملګري مجبور سول چي ما د استاد په ويرجن مرګ خبر کړي، د پاتا او د هغه د اعلان په تکل کي سوو، اعلان چي مو د کابل راډيو د اعلاناتو څانګي ته ولېږه نه ئې ومانه، سبا زه په ناروغه صورت په خپله ورغلم، د اعلاناتو اخيستونکي د لوړو مقاماتو څخه اجازې ته اړ سول، زيار ئې يوست چي زه د دوی په اضطراب ونه پوهېږم، بلي خوني ته ولاړل راغلل او د پاتا اعلان ئې راڅخه واخيست، څلور سوه افغانۍ ئې محصول سو، رسيد ئې راکړ، دا رسيد چي (...) ئې لمبر دئ تر اوسه پوري زما سره خوندي دئ. مازديګر او سبا سهار مو د راډيو اعلانونه واورېدل، د بېنوا اعلان مو تر غوږ نه سو، ملګري او دوستان زموږ کره راغلل او په تعجب او تاسف ئې ويل:

هغه بېنوا چي (څه باندي ۴) کاله د کابل راډيو رئيس وو، نن د کابل راډيو د هغه د پاتا اعلان نه تېروي".

موږ پوه سوو چي د کابل د هغه وخت مارکسيستي حکومت د اروابناد بېنوا پاتا نه پرېږدي، نو مو په کور کي د نوموړي پاتا واخيستله

او د قرآن عظیم الشان ختمونه مو پسي وکړل. د ختم په یوه ورځ موږ په خپل کور کي د غرمې پر ډوډۍ ناست وو چي ښاغلی کرگر او ښاغلی زرین انځور زما د پوښتني له پاره راغلل، په دغه وخت کي کرگر د طبع و نشر د مؤسسې رئیس وو. له غټانو سره ئې پېژندل او له هغو سره ئې تگ او راتگ درلود، ما ده ته وویل: "اروېدل کېږي د بېنوا مرگ او د حکومت مخاصمانه رویې د تاجک فاشست پلویانو ته موقع په لاس ورکړله او په دې تکل کي دي چي د کابل پوهنتون له کتب خانې څخه هغه کتابونه او رسالې وباسي چي پر هغو باندي د مؤلف یا مترجم یا مدون په توگه د بېنوا نوم لیکلی دئ، لیري نه ده چي عامه کتب خانه هم د دوی پر پله ولاړه سي، ته که صدراعظم یا بل کوم کالخوایه په دې تکل خبر کړې ښایي د بېنوا له آثارو څخه به د افغاني ملت د محرومیت زیار شنډ سي".

ښاغلي کرگر په جواب کي راته وویل:

"ښه خبره ده، خو ته حاضر یې د دغه جریان د مخ نیوي له پاره له کالخوایانو سره وگورې؟"



ما ورته وویل:

"چاره نسته!"

ښاغلی کرگر او ښاغلی انځور ولاړل، د ماښام تر لمانځه وروسته انځور راغی او راته وئې ویل:

"سبا پر نه بجې صدراعظم صاحب (ښاغلی کشتمند) تا گوري".

ما له کالخوایانو سره د لیدلو پرهېز ساتلی وو اووه کاله کېده د مارکسیستي دولت له مشرانو سره مي نه وه لیدلي هریان پاته سوم، له

یوې خوا د ګران بېنوا دوستۍ او له بلې خوا د ده له آثارو څخه د افغان ملت د بې نصیبۍ د ایسته کولو امید دې ته اړ ایستلم خپل پرهېز مات کړم او ګران انځور ته ووایم: "ښه!".

سبا پر نه بجې د ښاغلي انځور په لارښوونه صدارت عظمی ته ورغلم، تر څو ځایه تلاښیو او اجازو وروسته د صدراعظم ښاغلي کشتمند خوني ته ورسېدلم، دا خونه د صدارت عظمی د ماڼۍ په دوهم پوړ کې د ځینې (زینې) کېڼ لور ته واقع وه، خونه ډېره لویه وه د دروازې په متناظر ګوټ کې د دغه وخت په مروجه اصطلاح د وزیرانو د شورا رئیس د یوه مېز شاته ناست وو، راولاړ سو، د خوني په نیمایي کې یو و بل ته ورسېدلو، د خوني په منځ کې یو اوږد مېز پروت وو شاوخوا ته ئې چوکۍ اوډلي وې، د وزیرانو د شورا رئیس د دغه اوږده مېز کیڼې خوا ته پر لومړۍ چوکۍ کښېناست او زه ئې د مېز ښۍ خوا ته په مقابله چوکۍ کې کښېنستلم، تر متعارف روغبړ وروسته ما په خبرو پیل وکړ، د بېنوا د پاتا د اعلان سرګذشت ور واوراوه، ما ولیدل چې د بېنوا په مقابل کې د صدراعظم خصومت د اعلاناتو د مؤسسې تر کارکوونکو ډېر وو، ده دا لا هم راته وویل:

"که بېنوا په خدایي مرګ نه وای مړ، هرو مرو وژل کېده".

زه دلته پوه سوم چې دا خلک په نوې اصطلاح ترورونو ته هم حاضر دي.

له کتابخانو څخه د بېنوا د کتابو د ایستلو خبره مې منځ ته راواچوله، ښاغلي صدراعظم وویل:

"زه په دې نه یم خبر".

ما ورته وویل: "دا کتابونه خو له بېنوا سره فقط د تالیف یا ترجمې یا تدوین نسبت لري، نور خو نو د افغاني ملت مال دئ، د کتابخانو کالخوایان افغان ملت ولي له دغو علمي او ادبي پانګو څخه محرومو، بل د بېنوا د چاپ سوو آثارو شمېر دوپنځوسو ته رسېږي که دا دوپنځوس کتابه له کتابخانې وایستل سي، د پښتو کتابو په ذخیره کي لویه خلا منځ ته راځي، پښتو خو پارسي غوندي غني نه ده چي په لکو کتابونه پکښې سته او د دوپنځوسو کتابو کمی پکښې معلومېږي نه.". ښاغلي صدراعظم د تلیفون غوږی پورته کړله د صدارت فرهنګي مرستیال ښاغلي عبدالمجید خان سربلند ته ئې د بېنوا د کتابو ماجرا وویله او دا ئې پسي زیاته کړه: ته د پوهنتون د کتب خانې څخه پوښتنه وکړه. د ښاغلي سربلند د جواب تر وخته ښاغلي کشتمند د جوړېدونکي لویي جرګې په باب خبري پیل کړې او ما ته ئې وویل اوس نو زما وار دئ. ښاغلي صدراعظم ما ته بلنه راکړله، په هغه غونډه کي چي دوی لویه جرګه بلله او څو ورځي پس ئې په کابل کي جوړوله د یوه انتصابي وکیل په توګه برخه واخلم ما د خپلي ناروغی عذر وړاندي کړ او د رد جواب مي ورکړ.

په دغه وخت کي د ښاغلي سربلند تلیفون راغی او ښاغلي صدراعظم راته وویل:

"دی وایي دا سي کار نه دئ سوی".

ما ورته وويل : "ښه! چي نه دئ سوی، تر اوسه به نه يي عملي سوی، ښه وو د آينده عملي کولو مخه ئې ونيوله سوله".

تر دې وينا وروسته ولاړ سوم، د خدای په اماني لاس مي ور اوږد کړ او له صدارته راووتلم. د ښاغلي کشتمند او زما ليدنه د ۱۳٦۴ ش کال د ثور په اوايلو کي وه.

په ۱۳٦٦ ش کال د مخاصمت پاڼه واوښتله او د کابل حکومت ظاهراً د ارواښاد ملال په ابتکار د کابل راډيو له خوا د ارواښاد بېنوا د دريېمي تلينې په وياړ يو مجلس جوړ کړ، د ۱۳٦۷ ش کال د جدي په دوهمه هفته کي د کابل د هيواد ورځپاڼي کالخوايانو له ما څخه وغوښتل چي د ارواښاد بېنوا د څلورمي تلينې په تقريب دوی ته يوه مقاله وليکم، ما د مقالې پر ځای دوی ته يو سرخلاصې عريضه ورولېږله او دوی د هيواد ورځپاڼي د ۱۳٦۷ ش کال د جدي په يوويشتمه هغه کټ مټ خپره کړله خو زما نوم ئې ځني ايسته کړی وو، د دې سرخلاصې عريضې عنوان وو : له خيره مي دي توبه ده، خپله کاسه مي راکړه!

او متن ئې په دې ډول وو :

پروسږ کال مي ژمی په جاپان کي وو، د دلوي مياشت وه د وطن د نيازمنو خط راغی، پکښې ليکلي وو :

"د افغان اولس د پياوړي ليکوال، حساس شاعر، په پرديسي کي مړ استاد بېنوا دريېمه تلينه په کابل کي د دولت له خوا ونمانځله سوه، د ده د خوږمن زړه په ياد مشاعره وسوله، ستا ځای تش وو".

دا خبر چي مي ولوست، د هرياني ځپو لاهو کړم، له خپل زړه سره مي

وويل: دا هغه بېنوا دئ چي درې کاله پخوا ئې په کابل کي د دولتي

نشراتي مؤسسو د پاتا اعلان نه مانه او اوس ئې بيا تلينه نمانځي.

څو شېبې پس مي فکر سو چي دا د روغي جوړي د پاليسۍ غوښتنه

ده، رشتيا هم سياست هر وخت خپله بڼه بدلوي او د خپلي ګټي په غالب

کي ځان ځايوي، ښه ده چي بېقدره سوی او د دولت له نظره لوېدلی بېنوا

بيرته قدرمن سو او د وطن په معاصرو فاضلانو کي ئې له خپل علمي او

ادبي ارزښت سره سم ځای بيا مونده، خو دا مي ارمان سوه چي کشکي زه

په کابل کي وای ما به د دولت اراکينو ته ويلي وای: نوره نمانځنه ئې

پرېږدئ، هغه دوه چاپ سوي کتابونه ئې چي شپږ اووه کاله کېږي د کابل

په دولتي مطبعه کي بنديان دي له بنده خوشي کړئ، د افغانستان

نوميالي څلورم ټوک او د افغانستان تاريخي پيښي دوهم ټوک، له

ښاغلي اروانښاد بېنوا سره يوازي د تاليف اړيکي لري، نور نو د افغان

ملت فرهنګي پانګه ده، اجازه ورکړئ چي افغان اولس له دغو فرهنګي

پانګو څخه معنوي ګټه واخلي او د ملت پال بېنوا زيارتوی ولاړ نه سي.

۱۷ جدي ۱۳٦۷ - پوهاند رشاد

اوس چي زه د اروانښاد بېنوا د پنځمي تليني په مجلس کي خپلي

خبري پای ته رسوم، بيا د هيواد د ورځپاڼي هغه يو کال د مخه خپور سوی

عنوان تکراروم: "له خيره دي مي توبه ده، کاسه مي راکړه!"

او د وخت له حکومت څخه غوښتنه کوم چي د بېنوا بنديان سوي

کتابونه خوشي کړي.

علامه رشاد:

هغه څوک

هغه څوک چې په درست عمر کې د دنیا شته مني د ده تر خرڅ زیات نه سوه ریاستونه، وزارت او سفارت ئې وکړ، خو چې بېکاره به سو، د څو هفتو د زېرمي څښتن به نه وو، او له وزارته څخه تر ایسته کېدلو درې میاشتې پس به د کور د تَوَرُو (شیانو او کالیو) خرڅولو ته اړ وو.

هغه څوک چې د خپل یو اویا کلن عمر نه څلوېښت کاله ئې د یوه مبتکر شاعر او بادرده ډرامه لیکونکې په توګه تېر کړل، د بېوزلو غمونه ئې وژړل، د محرومو پر نامېندیو ئې اوښکې تویې کړلې، بې لارې زورور او بې جلوه قدرتونه ئې وغندل او د بېوسو د زړونو دردونه ئې په زړه دردونکې ډول بیان کړل.

هغه څوک چې د نثر شاعرانه ټوټو ئې تر نظم زیات تخیل او اغېزه درلوده او په نظم کې ئې تر ادبي ټوټو ډېر صدق، سوز او انتباهي خاصیت خوندي وو.

هغه څوک چې درې څلوېښت کاله ئې څېړنه وکړله، په زرو کتابونه ئې وکتل، په دریو ژبو (پښتو، پاړسي او عربي) ئې پنځه پنځوس کتابه او رسالې ولیکلې، د پښتو ادب د تاریخ په ذخیره کې ئې د قدر وړ

زیاتوب راوست، په ادب پوهنه کې ئې د تادا او دبري کښښونې، تدریسي او ګرامري کتابونه ئې وکښل، د افغانستان نومیالي ئې را ټول کړل او د افغانستان د تاریخ ځیني تیاره ګوټونه ئې تر ډېره حده رانه کړل.

هغه څوک چې د پښتنې شفاهي ادب ځیني ډولونه (لندۍ او متلونه) ئې د نړۍ په نورو ژبو واړول او د نورو ژبو ویونکو ته ئې د پښتني فولکلور په وړپېژندلو کې مهمه او درنه برخه واخیستله.

هغه څوک چې له دریو ژبو (عربي، اردو او پارسي) څخه ئې کتابونه او رسالې پښتو ژبې ته راواړلې، د پښتو ژبې پانګه ئې زیاته کړله او پښتانه ئې د نورو ژبو له ادبي او تاریخي آثارو سره اشنا کړل، د هغو د لیک سبک او د تفکر طرز ئې پښتنو ته وروپېژانده.

هغه څوک چې د ده ځیني شعرونه او نثرونه د نړۍ په څلورو ژبو (انګرېزي، روسي، چکي او عربي) ترجمه سول او په دې وسیله د پښتنو لیکوالو د انشاء او بلاغت قدرت بهرنیو اولسونو ته وروپېژندل سو.

هغه څوک چې تر څو ئې په ګوتو کې سېک وو، له شاعرۍ، لیکوالۍ او څېړنو څخه ئې لاس ونه نیوه، د ۱۳۶۳ ه ش کال د جدي په ۲۱ (د ۱۹۸۵ ع کال د جنوري په ۱۱مه) په پردېسي کې ومړ، د پردي هیواد د پردېسانو په هدیره کې خاورو ته وسپارل سو او له وصیته سره سم ئې پر شنخته دا جملې ولیکلې سوې:

"دلته د زړه په ناجوړۍ مړ، پردېس افغان عبدالرؤف بېنوا ښخ دی، ګوندي پښتانه ځلمیان یو وخت د ده هډونه خپلې پاکي خاوري ته ورسوي او د مات او وطن ته تږي زړه ارمانونه ئې تر سره کړي".

علامه رشاد :

داسي وزيران هم پيدا کيږي

دا پښنه دوه ويشت کاله پخوا پېښه ده، خو زما د پروني پېښي په شان په ياد ده، د ديارلس سوه شپږ څلوېښتم هجري شمسي کال دوبی وو، د اسد د دوهمي هفتې پيلامه وه، په کابل کي د خطي نسخو نړيوال کنفرانس جوړ سو، د دوولسو هيوادو پوهانو ګډون پکښې درلود.

د جمعې په روځ د کنفرانس د ګډون کوونکو پوهانو په ويار د پغمان په يوه شنه او سمسور بڼ کي غرمنۍ مېلمستيا جوړه سوې وه، زه هم دې مېلمستيا ته بلل سوی وم، په دغه روځ د پغمان هوا د کابل د ښار تر هوا تقريباً پنځه شپږ درجې سړه وه، د ګلو له تنکيو پاڼو سره د پستو وږمو شوخيو د مشکو نافې وېشلې، په لښتيو کي به د رڼو اوبو شور د نغمو له زړه وړونکي موسيقيت سره کله داسي هم آهنګي کوله چي تا به ويل دا هم د ارکستر جز دئ، غرمه ډېره ښه تېره سوه، پرېمانه خوندور خواړه وه، هري خوا ته د يارانو مجلسونه وه، ټوکي ټکالي وې، خندا وه، خوشحالي وه، ساز و سروز، اتڼونه وه، پاکه پرېولې او خوشګواره سړه هوا وه، د ګلو موج وو، داسي ښکارېده چي طبيعت په دغه روځ د رنګ او بوی او طراوت هيڅ سامان نه وو سپمولی.

هر څه تېرېده لري، مېلمستيا هم پای ته ورسېده، مېلمانه يو په بل پسي رهي سول او بېنوا د کوربه په توګه ټولو مېلمنو ته په مسا او صميمانه لهجه په مخه ښه ويله، کرار-کرار مېلمانه ټول له باغه ووتل، لوی استاد علامه حبيبي، بېنوا او زه سره پاته سوو او د څه به کوو؟ چيري به ځو؟ پوښتني را منځته سولې، بېنوا له خپل خصلت سره سم په ډېر صميميت وويل:

"زه وام په کابل ښار کي ګرمي ده، تر مازيګر پوري به دلته پاته سو، د پغمان دا سړه هوا او د طبيعت دا تازه ګي ګوره چي بيا کله ميسره سي؟ د ملا پير محمد کاکړ خبره ده:

د ربغه ګل به د ګلزار وي مور به نه يو
د بلبل به پرې چيغار وي مور به نه يو
د زړه يار به مو افسوس پر مزار کاندي
تور لېمه به ئې خونبار وي مور به نه يو

نور نو ستاسو خوښه ده".

د بېنوا پيشنهاد ومنل سو او موږ دري سره د پغمان د تپې باغ ته راغلو، دوري هوري وګرځېدلو، تر مازيګره مو ښه سات تېر سو، لمر و غر چي سره نږدې سول، د تللو په تکل کي سوو، موټر ته راغلو، موټروان چي په ډېره تلوسه ئې زموږ لار څارله، را وئې ځغستل، په ډېر ادب ئې د موټر دروازه پرانيستله، بېنوا له خپل عادت سره سم د موټر په مخکي کښېناست، لوی استاد او زه د موټر په شا کي کښېنستلو، موټر مخ پر کابل را وخوځېد، خواجه مسافر ته لا څه څکل لار پاته وه، څو تنه

سپاهیان مو ولیدل، د سړک بښۍ څنډه ئې اخیستې ده، یوستوي کتار غوندي پلي مخ پر کابل رهي دي او د هر یوه پر اوږه یوه-یوه کیزه ځړیږي، د سر سپاهي ته چي زموږ موټر ورورسېد، هغه په ډېره چټکۍ یو ګام د سړک منځته را وړاندي سو او لاس ئې داسي او چت کړ چي د موټر د درولو مانا ځني اخیستل کېده، موټروان چي د هیواد د یوه وزیر په څنګ کي ناست وو، د سپاهي دغي غوښتني ته ئې په خورا بېباکي وکتل او په ډېره استغنا ئې د موټر سټرنګ کیڼ لور ته تاواوه، چي بېنوا پر بږغ کړه "ودرېږ !" موټر ودرېد، بېنوا د موټر دروازه پرانستله، په ډېره مینه او مهربانۍ ئې پړک مشر صاحب وپوښتېد :

څه وایې؟ پړک مشر وویل :

"صاحبه! څو سرکاري اسان مو پغمان ته راوستل، چي دلته د پغمان په تازه او سړه هوا کي څو ورځي شنه وخوري، اسان مو مهترانو ته وسپارل موږ پلي پاته سوو، تاسو مو وینئ چي پیاده مخ پر کابل رهي یو، لمر و غر سره ورغلی دئ، را باندي شپه کېږي، هیڅا موټر را ته و نه دراوه او موږ ..."

بېنوا د دغو خبرو له اورېدلو سره سم د موټروان څنګ ته ښه ور وځخېدی او سپاهیانو ته ئې وویل: "را خېژئ" دوه تنه له ده سره په مخ کي ځای سول، څلور تنه د موټر په شا کي زما "رشاد" او لوی استاد سره د اري د غاښو په شان تېر و بېر کښېنستل او درې تنه اسکېرلي سپاهیان تر موټر دباندي پاته سول، بېنوا موټروان ته وویل:

د شورليټ موټر ټول بکس لوی او پراخ وي، دوی هم هلته ځايېږي. موټروان چې دا واروېدل هرياني ئې نوره هم پسي زياته سوله، مګر څه ئې کړي وای، مجبوره وو د جلالتمآب حکم ومني، سر ئې وښوراوه، په خورا بې خوندي له موټره ورتا سو، ټول بکس ئې خلاص کړ، دريو تنو پاته سپاهيانو ځانونه په ټول بکس کي داسي ځای کړل چې سينې ئې پر زنګنو ايښې وې، موټروان چې سپاهيان په ټول بکس کي سپاره کړل، له خوله خلاصي ټول بکس څخه يو ګام تر شا سو، د موټر شا و خوا ته ئې په ځير-ځير وکتل، په خورا حسرت ئې سر وښوزاوه، زما په خيال ده به په زړه کي ويلي وي: "دا د وزير نازولی موټر، لس تنه د منځ سپړلي او درې تنه د ټول بکس سرباری... (؟)

موټروان راغی پر خپل ځای کښېناست او موټر مخ پر کابل وخوځېده، خو تګ ئې تر پخوا ورو وو، دا ځکه چې موټروان نه غوښتل په رڼا کوټه سنګي ته را ورسېږو، ښايي دی به د خپل موټر په دغه بده ورځ شرمېده، مګر زموږ آرزو بيا دا وه چې ګړندی موټر نور هم ګړندی سي، يو خو به د ځای د تنګۍ له عذابه ژر خلاص سو او بل به ژر خپلو کورو ته ورسېږو، نوري درېشۍ به واغوندو او پر وخت به هغې مېلمستيا ته ځانونه ورسوو چې د شپې له خوا د دغه کنفرانس د ګډون کوونکو پوهانو په ويار د مطبوعاتو په کلپ کي جوړېدونکې وه.

د ماښام اذانونه نژدې وه چې کوټه سنګي ته را ورسېدلو، موټروان موټر کرار کړ چې وئې دروي او سپاهيان ځني کښته سي. بېنوا په دغه

ترڅ کي له پړک مشر صاحب څخه چي اوږه ئې د بېنوا په اوږه پوري کلکه نښتې وه، پوښتنه وکړله : "تاسي چيري ځئ؟"

پړک مشر صاحب ورته وويل: "موږ خو د همزنګ ته ځو، خو ستاسي ئې کور ودان چي تر دې ځايه مو راورسولو، موږ به دلته ... ".

پړک مشر صاحب خپله خبره نه وه تمامه کړې چي نورنو د موټروان له توانه ووتل او بېنوا ته ئې وويل:

"وزير صاحب! تاسي خو د شپې بلي مېلمستيا ته تشريف وړئ، ښه نه ده چي پر وخت کور ته ورسېږئ او ...".

پړک مشر صاحب دغه وخت د خپل څنګ سړی د وزير په صفت وپېژانده، ځان ئې څه سره ټول کړ او د کښته کېدلو اجازه ئې په ډېر ادب سره وغوښتله، خو بېنوا د ده غوښتنه ونه منله، موټروان ته ئې وويل: "دهمزنګ ته درځه!" موټر چي له کوټه سنګي وخوځېده او د خلکو په ګڼه ګوڼه کي تېرېده، موږ ليدل چي د شاوخوا خلک د شپږ ګزي تور شورليټ موټر په ټول بکس کي ناست سپاهيان يو و بل ته د ګوتو په اشارو ښيي، او دغه بدعت (نوښت) ته د تعجب په ستر ګه ګوري.

موټر دهمزنګ ته ورسېده د موټر دروازې خلاصي سولې، سپاهيان کښته سول د ټول بکس سپاره سپاهيان هم په منډه زاغلل د خپلو ملګرو څنګ ته ودرېدل، پړک مشر وزير صاحب ته عسکري سلامي وکړله نورو سپاهيانو چي پړک مشر ته وکتل هغو هم خپل لاسونه تنديو ته يووړل او د بوټو پوندي سره ئې وجنګولې.

زموږ موټروان د مامورینو د کارتې په نیامت د عبدالوکیل خ
لي پر چاپیره په راګرځېدلو پیل وکړ، تر څو چې موټر له سترګو نهامې
پاهیانو سترګو هغه بدرګه کاوه او زما باور دئ چې تر دغه وروس
ې هرو مرویو و بل ته سره ویلي وي:

"وګورئ! داسي وزیران هم پیدا کېږي!".

۱۹ مېزان ۱۳۷۰

علامه رشاد :

چې زوړ سوم،

د هرې ګړنګنې د پېغور سوم

اروا ښاد استاد بېنوا دې لوی خدای وبخښي زړه وړونکې ځواني ئې درلوده، ونه ئې جګه وه رنګ ئې سور و سپین وو، پزه ئې جګه او سترګې ئې ښایستې او غټې وې، د اندامونو تناسب ئې په ښکلا کې بشپړه برخه درلوده، هر چا به د ده ښکلې ځواني ستایله، پېغلو به د تېغو پر سرو او د دروازو تر چولو پسې کتل او په لیدلو به ئې نه مړېدلې.

بې له خدایه څخه نور څه تل تر تله نه پایي، په پسرلیو پسې اهاړونه راځي او په اهاړونو پسې مني، د ژمي سړې سېلۍ د ونو پاڼې ولوټې ګلونه بې ورژوي او د مېوو په کور ئې تالان ګډ کړي.

د اروا ښاد استاد بېنوا په ځواني هم خزان ګډ سو هغه زړه وړونکې ښکلا ورپاته نه سوه، تازه ګېو خپل ځایونه زمولتیا ته ورپرېښوول، اروا ښاد بېنوا د عمر اویا پسرلي تېر کړي وه د اندام د تناسب دلربایۍ په مخه ښه ورته ویلي وه او ځواني په مزلو ځني پاته وه د ژوند په دغسي پړاو کې اروا ښاد بېنوا یوه ورځ ماپښین زموږ له کوره چې د کابل د

خير خانې په د وهمه برخه کې وو، د خپل کور په نيامت رهي سو اروانې

خوا خوږې ئې هم مل وو.

زړتيا ځپلي بېنوا قصه کوله: هغه روځ چې ستاسي له کوره ره

سولو د پروان کارتې د وهمي برخي ته چې ورسېدلو له ښاري بسه را

سوو د اريوب سېنما له لاري د مامورينو د کارتې لور ته رهي سولو، د

لار د باغ بالا تر سړکه پوري مخ پر لوړه ده، زه چې پر دغه لوړه ختلم پښ

ملګري نه راسره کوله نګوښېدلم او له ستړيا مي ستمی هم وو.

د باغ بالا سړک ته رسېدلو چې له مخامخ لوري دوې مستې او

ځپلو ځوانيو مغروري پيغلي رارهي وې چې پر ما ئې سترګي ولګېدل

يو و بل ئې په اوږو سره ووهلې او پر ما ئې وخندل، خداى په رښت

خوښېږي د دوی خندا زما پر زړه د غشي په څېر ولګېده او په خورا

حسرت مي له ځانه سره وويل:

"ولاړې ځوانۍ ولاړې - داسي راڅخه مروره سوې ئې چې نه

زاريو پخلا کېږې او نه په جرګو او مرکو! پخواني دي خداى وبخښي

ښه ئې ويلي دي:

"چې ځوان وم د هري چټي ځان وم، چې زوړ سوم د هري ګرنګني

پيغور سوم".

علامه رشاد:

توره...

ښاغلی استاد عبدالرؤف بېنوا دي خداي وبخښي، کله چي په لېبیا کي د افغانستان لوی سفیر وو، په دوو درو هفتو کي ئې یو لیک ما ته رالېږه، په دغو لیکونو کي ئې په یوه لیک کي داسي کښلي وو:

"په لېبیا کي د افغانستان سفارت دوه پوړیزه دئ په دوهم پوړ کي زه اوسم او په لاندي پوړ کي د افغاني سفارت دفتر دئ.

یوه روځ سهار وختي د پلي ګرزېدلو په نیامت زه د سفارت انګړ ته راکښته سوم که ګورم د سفارت په انګړ کي یو سپی په شګو کي غزېدلی دئ او خپلي شني ګروي.

زه ورو ورو ورنژدې سوم او په خښم مي ورته وویل:

"ته نه پوهېږې چي دا د افغانستان سفارت دئ وزه ژر وزه کنه ..."

سپی له ځایه ونه خوځېده هسي ئې داړي راته سپیني کړلې خو راته ئې ونه غپل. ما ته نور هم خښم راغی ګومان مي وکړ چي راباندي وئې خندل او بیا مي له ځانه سره وویل: پېژندلی ئې نه ئې، دا مردار خور نه پوهېږي چي زه په لېبیا کي د افغانستان لوی سفیریم. په تلوار د سفارت د ودانۍ لوړ پوړ ته وختلم هلته مي د دیپلوماتانو دریشي واغوستله، بوټونه مي

وتړل، د سر وېښتان مي ږمونځ کړله څه کلونيا مي هم په ځان پوري ووهله په ديپلوماتيکو ادابو راکښته سوم، دا پلا مي په ډېر خښم پر سپي غږ کړه:

"اوس خو به مي پېژني چي د افغانستان سفير يم، زه حکم کوم ژر وزه دا د افغانستان سفارت دئ نه ستا کوډله" سپي دا پلا په خښم راته وغپل او په غپا کي ئې په خورا بې پروايي راته وويل:

"ته که داسي مېړه ئې خپل ملک ته ولاړ سه، هلته سره سپي لنګ سوېده او کوتريو ئې ستاسي ملک پر سر اخيستی دئ، ته که غيرت لري هغه سره سپي له خپلي مېني وباسه او کوتري ئې پسي واخله".

ما چي د سپي له خولې دا زياړي واروېدلې ډېر خړ سوم ژر مي سپي ته شا ور وګرزوله او د سفارت لوړ پوړ ته مي په ختلو پيل وکړ په ځينو (زينو) کي چي ختلم او ښکي مي پر مخ رابهېدلې په خپله خونه چي ننوتلم د ملک پر بده ورځ مي ډېر وژړل".

ما چي د ښاغلي بېنوا دا ليک په دې ورځو کي بيا ولوست له ځانه سره مي وويل:

اوس که ښاغلی استاد بېنوا ژوندی وای او د افغاني سفارت له غولي څخه ئې د لېبيايي سپي د ايستلو هڅه کړې وای هرومرو به لېبيايي سپي په توصيفي ترکيب کي د سرې پر ځای د توره کلمه د صفت په توګه کار کړې وای.

علامه رشاد:

"د پښتو ادب ځلانده څېره"

تقریظ

مرګ تنونه خاوري کوي خو د دغو تنونو د ځینو خاوندانو په قبول ئې زور نه رسېږي چي محوه ئې کړي، له دغسي ښاغلو څخه په افغاني جامعه کي یو اروابناد استاد عبدالرؤف بېنوا دئ. زه باور لرم چي د ده قبول به په دې ملک کي تر اوږدې زمانې وپایي، که راتلونکي بېقدرۍ د هېري ملا و نه تړي زما په خیال د هېري وس به هم و نه رسېږي چي د استاد بېنوا د فرهنګي کارنامو یاد تر ډېره وخته پوري د راتلونکو افغاني نسلونو له زړو وباسي.

استاد بېنوا پر قام و مېنه مین، د لطیفو جذباتو تښتن، نازکخیاله شاعر وو، د ده په شعر کي اغېزه وه، د ده شعر د زړه آواز او د جذباتو ژبه وه، د ده ادبي ذوق او د شاعرۍ قریحه تل د هغو نکتو په تلاښ کي وه چي په زړونو کي ئې مینه، ایثار، همدردي او نژدېکت پیدا کاوه، د فکر باز ئې د تعمیر، تخلیق او ابتکار په ښکار پسي تر ګړنګو لوېدی، د ده تحقیقي تلاښ د قام په تاریخ کي د څېرونکو لاري روښانه کولې.

زه ډېر خوشحاله يم چي ښاغلي عبدالنبي خان فراهي توفيق ومو
د دغه کم ساري اديب او شاعر د ژوندانه حالات او فرهنګي فعاليتونه
يوه رساله کي راټول او افغاني جامعې ته ئې وړاندي کړي، د ښاغل
فراهي دا زيار و کار د ارواښاد استاد عبدالرؤف بېنوا د نامه په ژوند
ساتلو کي يو اغېزمن ګام دئ، زه ده ته مبارکي وايم.

د بېنوا ډرامې*

دوې میاشتې پس د افغانستان د لوی او نامتو لیکوال ارواښاد عبدالرؤف بېنوا د ویرجنې مړینې څلرمه تلینه ده، ځکه چې د ۱۳٦۳ش کال د مرغومي پر یوویشتمه د دې په ناورین پېټ او په وینو لړلي ملک ادب او تاریخ د ده له علمي فیضه څخه بې برخې سوی دئ.

د ارواښاد استاد بېنوا د شاعرۍ ږغ تر لیرو ملکونو پورې تللی وو او د یوه مخلص محقق په توګه ډېرو خپلو او پردیو پېژانده، خو د یوه ډرامه لیکونکي په توګه د ده د پېژند ګلوۍ غولی تنګ وو او تر اوسه پورې له دغه تنګوالي پر خپل حال پاته دئ، لږ خلک به په دې خبر وي چې دې تکړه، نه ستړي کېدونکي او هر اړخیز لیکوال په پارسي او پښتو ژبو لس خورا مهیجې ډرامې کښلې دي، زما د معلوماتو له مخې له دغو

---

* علامه رشاد مرحوم دغه لنډه لیکنه د (زوړ ګنهکار) د مجموعې له پاره کړې ده چې په ۱۳٦۷ش کال د سیدجان ملال په زیار په کابل کې چاپ سوه، هلته ئې عنوان (څو خبرې) دئ، دغه لنډه لیکنه چې ټوله د ارواښاد استاد بېنوا پر ډرامو او د هغوی د ډرامه لیکنې پر فن راګرځي نو دغه عنوان (د بېنوا ډرامې) ما (روهیال) ورته وټاکه.

ډرامو څخه دوې (آشيانهٔ عقاب او کار بر اصل[1]) د کابل په پوهنې ننداري، يوه ئې چې (اشتباه) نوميدله د کابل د جشن په صحنه، يوه ئې چې (زور ګنهکار) نوميدله د کندهار په پوهني ننداري، دوې ئې (زرنګ او حکومت بيدار است) د افغانستان په راډيو کي تمثيل سوي دي، يوې ډرامې ئې چي (طوق لعنت) نوميدله په ۱۳۲۴هـ ش کال د مطبوعاتو جايزه او بلې ئې چي (صداى وطن) نوميدله په ۱۳۲۶ش کال کي د تاليف څلرمه جايزه وړې ده.

د اروابناد استاد بينوا دغه لس ګوني ډرامې ټولي انتباهي او اصلاحي دي، د خپل بيده قام له پاره د ويښتابه پيغام لري، د ساتيري (تفريح) له پاره نه دي ليکل سوي او د ټولو غرض فقط تبليغي دئ. په دغو ډرامو کي اروابناد مؤلف زيار کښلى دئ د افغاني ټولني د زورورو بې لاري او د اولس ناوړه دودونه په پسته خو اغيزه ناکه ژبه بيان کړي، د ده په ځينو ډرامو کي د دولتي ادارو فسادونه او د وطن تر ګټو جار کردارانو جعل کاري، سازشونه او حرام خوري بې پردې سوي دي.

د فن له لحاظه د اروابناد بينوا د ډرامو جوړښت او رغاونه (Plat) تر زياته حده منطقي نظم لري، د پردو ويش ئې هم د اولس روزمره ژوند ته نژدې دئ خبري اتري (Dialogue) ئې د خلکو په عاميانه ژبه دي او د ځايه سره وړ دي خو د (زاړه ګنهکار) په دوهمه پرده کي که د توري

---

[1] د (کار بر اصل) ډرامه ما لومړى وار په کندهار کي ليدلې ده. هلته د کابل د پوهني ننداري ناټکيانو تمثيل کړله، د دغي ډرامې پښتو متن د (اصلي کار) په نامه د وږمې په مجله او دغه مجموعه کي چاپ سوى دئ.

کن) خالو حوالدار خبري په توره ژبه ثبت سوي وای ښه به وو، منظر
اري (Setting) ئې هم بده نه ده، خو داسي معلومېږي چي اروانښاد
ف د ستېج هغه وختني امکانات په نظر کي نیولي او د هغو لوازمو له
ي ئې منظر نګاري کړې ده چي ورته میسر وه، د ناټکیانو د کالیو،
کتونو او کردارونو په باب هم قلم ښه ځان نه دئ ستړی کړی، مګر د
و ډرامو په لیکنه کي چي یو خصوصیت له ورایه ځلېږي هغه د قصو
اقت او د لیکوال خواخوږي ده، زما خیال دئ چي په دغه تخلیقي ادب
د اروانښاد بېنوا غرض هنرنمایي نه وه خو سره له دې ئې هم د فکر او
برخه درنه ده او د دې ملک د ډرامو په تاریخ کي د قدر وړ ځای نیسي.
ای کي زه د ښاغلي ملال ذوق، زیار او قدرداني ستایم او توفیق ورته
رم چي د بېنوا پاته نمایشنامې هم د دغسي یوې مجموعې په بڼه د
ان اولس د ادب دوستانو ته وړاندي کړي.



عبدالباري جهاني

بېنوا*

چي په خپله مستقل يمه له ځانه
تر څو تر څو کړمه د نورو تقليدونه
زما شعر دئ نسيم له کوهستانه
ويښوي د پښتنو سپېڅلي زړونه

عبدالرؤف بېنوا د پښتو ژبي داسي شاعر وو، چي داسي څوک به نه ژي او يا به ډېر كم پيدا سي چي د پښتو معاصر شعر ئې اورېدلی وي او د بېنوا نوم ئې اورېدلی نه وي او يا ئې د هغه خوږ كلام لوستی نه وي. بېنوا د شلمي پېړۍ داسي شاعر وو چي تقريباً ټول شعرونه ئې د زمان د

* د مشكو كاروان، د صحاف نشراتي مؤسسې له خپرونو څخه، د ۱۳۸۷ش كال دريم چاپ، ۲۶۶ – ۳۷۸ مخونه.
ښاغلی عبدالباري جهاني د ارواښاد استاد بېنوا په اړه يوه بله مقاله هم لري، چي د (بېنوا چي زه پېژنم) تر عنوان لاندي د ۱۳۸۱ ش كال د ښـ مجلې په دريمه ګڼه کي خپره سوې ده، د هغې مقالې او دغي مقالې په عمده مسائلو كي كوم تغير نسته خو جزئيات ئې څه ناڅه د عنوان په شمول توپير لري، (م. روهيال)

شرایطو او ماحول انعکاس دئ او لکه په خپله چي وایي شعر ئې د کوهستان نسیم دئ او د پښتنو د ویښولو له پاره ئې لیکلی دئ. د بېنوا د شعرونو یو ښه خصوصیت دا دئ چي شعر ئې دونه ساده دئ چي د پوهېدلو له پاره ئې هیڅوک تکلیف نه لري او کلمات ئې دونه پر غوږونو ښه لګېږي چي سړی ئې په اورېدلو نه ستړی کېږي. د ده ځیني شعرونه خو په خپل وخت کي دونه مشهور سول چي د ډېرو زیاتو خلکو به تکي په تکي په یاد وه. بېنوا د یوه ویښ شاعر په حیث خپلي اجتماعي وظیفې ته ښه متوجه وو، او په دې پوهېدی چي د خپل فطري استعداد څخه چي د هر چا سره موجود نه وو د خپل قام د ویښولو له پاره څرنګه کار واخلي. خو کله چي ګوري چي څوک ئې پر چیغو غوږ نه نیسي او داسي ښکاري لکه ټول چي ویده وي، نو دی ځان د هغه بېنوا بلبل په څېرویني چي حتی د ګل تر غوږونو ئې ږغ نه رسېږي:

سر تر پایه سره لمبه سوم   روغ زړګی مي سوی سکور سو
نه ایرې نه مي دود ښکاري   بل رابانـدي څنګه اور سو
نه لمبه مي سوه خاموشه   نه رڼا دا تیاره کور سو
په نارو مي ګل ویښ نه سو   څه عبث مي د خولې شور سو
آه سپیره لو هدیره ده   له بلبلو دا بڼ تور سو

ټوله مړه دي ټوله مړه دي
که زاړه دي که واړه دي

نباخته شیدا بلبل وم   کړه پر ګل مي آوازونه
سحري نغمو کي ګل ته   راوړه ما پټ الهامونه

ما وې زه به ګل خبر کړم — د خزان له شوا خوند
ګل ویده غماز راپاڅېد — زما ئې مات کړل وزرونه
آه و چاته درد اظهار کم — په سینه مې ځي خارونه

توله مړه دي – توله مړه دي
که زاړه دي که واړه دي

په خندا په نڅا راغلم — ما وې اوس به نو هوس کړم
د سره ګل پر څانګو باندي — به خوشاله خپل نفس کړم
د بوستان زېب و زینت به — په نغمو کې یو په لس کړم
دا ویدې غونچې به ویښې — په آهنګ د خپل جرس کړم
له صیاده چا ته زار کړم — چې بندي ئې د قفس کړم

توله مړه دي توله مړه دي
که زاړه دي که واړه دي

پرون ګل سره همرازوم — نن ئې بوی موندلای نه سم
چا له سیله را جلا کړم — خپل همزولي موندای نه سم
وزرونه ئې رامات کړه — په هوا الوتای نه سم
ژبه تېزه لرم خوله کې — خو آزاد ږغېدای نه سم
غمشریک یاران مې ولاړل — زه تنها پاتېدای نه سم

توله مړه دي – توله مړه دي
که زاړه دي که واړه دي

بڼ خالي له زوږ او شور سو — اواز نسته د بلبلو

ځالي وراني پاتي ژړي — سرخي والوتـه لـه ګلـو
نـه بـه بيـا د ګـل لمن وي — چي ئې نيسم پـه منګولـو
نـه غيبي قاصد بـه راسي — چي احوال راوړي د تللـو
نـه ملګري سوه راپاتـه — د خپـل زړه د رازويلـو

ټوله مړه دي - ټوله مړه دي
کـه زاړه دي کـه واړه دي

ښه دئ ښه چي ګل تالا سو — لـه خزانـه بـه څـه وايم
جوړ بهار پر ما خزان دئ — چي قفس کي مبتلا يم
آه صياد لـه سخته دلـه — لا بـه څـه پـه واويلا يم
لـه ازلـه بد نصيب يم — داسي نـه چي نن پيدا يم
څوک مي نسته چي مي ياد کړي — بېنوا يم - بېنوا يم

ټوله مړه دي - ټوله مړه دي
کـه زاړه دي کـه واړه دي

بېنوا په کال نولس سوه ديارلس کي د کندهار د ښار د خرقې شريفي سره نژدې د عليزو په يوه ديندار ه کورنۍ کي سترګي دنيا ته پرانيستلې. ديني او مروج علوم ئې په کندهار کي له ښوونځي څخه دباندي ولوستل او په ډېره ځواني کي ئې ادبي ژوند پيل کړ. نور ئې نو تقريباً ټول ژوند د پښتنو د کلتور او د ادب خدمت ته وقف کړ او په اصطلاح شپه او ورځ ئې پر ځان يوه کړه. ګوره چي يو وخت به ئې په څه حالت کي پردېسي سترګو ته دريدلې وي او د پردېس د پسرلي په نوم شعر به ئې ليکلی وي، چي يو وخت په خپله پردېس سو او دا پردېسي په داسي وخت کي ورباندي راغله

چي تر هغه چي ده ئې خوب ليدلی وو او د شعر په ژبه ئې تصوير ايستلی وو سل چنده وربانديي سخته وه، بېنوا په داسي وخت کي پرديس سو چي د پسرلي په باره کي ئې فکر قدر هم نه سو کولای. د هغه د وروستيو سلګيو او زګېرويو د اورېدلو له پاره چنداني څوک حاضر هم نه وو او تر هغه چي ده ئې تصور کړی وو سل چنده له خپل ګران وطن څخه ليري پروت وو. بېنوا په کال (۱۹۸۴م د جنورۍ پر يوولسمه) د امريکا د نيوجرسي په ايالت کي سترګي پټي کړې او له هغو يارانو څخه چي ده ته ډېر ګران وه او په خپلو ډېرو شعرونو کي به ئې د هغوی يادونه کوله ډېر ليري وفات سو.

د سبا وږمه چي راسي نوي نوي غوټۍ واسي

بلبلان نغمه سراسي

د خوښۍ صحنه خپره سي خو يو زه په زړه خوږمن يم

آه پرديس د بل وطن يم

لاس په لاس ياران تېرېږي يو و بل ته هوسېږي

په ورو ورو سره مسېږي

زه د زړه سره ژړا کړم له نصيبه ګيله من يم

آه پرديس د بل وطن يم

په ګلونو پټ سول غرونه غاټول سره کړله دښتونه

زلمي نجوني کړي سيلونه

نو به څه دا پسرلی کړم پرورده د خپل چمن يم

آه پردېس د بل وطن یم

څوک مي نسته چي ئې یاد کړم پـه لیدو ئې زړګی ښاد کړم
بېلـتون هسي نامراد کړم
زړه تـه تېر ملګري نـسته چي ئې میني ته نیازمن یم
آه پردېس د بـل وطـن یم

د خـنـدا تلقـین را مـه کـړه پـه ژړا مـي زړګی ښـه کـړه
ستا چي زړه وي هـغه وکړه
مـا نـو پرېږده چي همداسي پـه زړې میني دردمـن یـم
آه پردېس د بـل وطـن یم

تـر دې شـنه آسمان را لانـدي ډېري سـترګي ژړا کانـدي
څوک خبر نه سوه پرې باندي
زه هـم دوی سـره ژړا کـړم پـه سر سترګو ئې مین یم
آه پردېس د بل وطن یم

عبدالرؤف بېنوا داسي ادبي شخصیت او داسي خوږ ژبی شاعر وو چي چنداني ئې چلا کلام ته د ګوتي نیولو زړه هم نه کاوه. بېنوا د پښتو د نوي شعر د سمبول حیثیت غوره کړی وو. او ده په خپله ساده او خوږه ژبه داسي شعرونه ولیکل چي د هره اړخه په ستایلو ارزېدل. په هغه زمانه کي چي بېنوا ژوند کاوه د انتقادي ادب زمانه وه. په وطن کي لیکوالو او منورینو ته تازه دا زمینه برابره سوې وه چي څه ولیکي او څه ووایي. او هغو لیکوالو چي څه لیکل هغه ئې انتقادي او معمولاً احساساتي خو ډېر

بنایسته لیکل. بېنوا د وخت شرایطو دومره ځورولی دئ چي د وجود نه په عدم خوښ دئ او په یوه شعر کي داسي وايي:

د عدم په غېږ کي پروت وم خبر نه وم له جهانه
نه محتاجه د نسیم وم نه مي وېره له خزانه
نه مي پاڼي وې نه څانګي نه غوټۍ چیري خندانه
څنګه راغلم څه راوسول چي هیڅ پوه نه سوم له ځانه
څه شیرین خوب د عدم وو له هر څه فراموشي وه
کوم بې نیازه راییدار کړم هري خوا ته خاموشي وه

نه د شپې تیاره خوره وه نه د ورځي څه رڼا وه
نه ښادي نه غم وو هلته نه ژړا وه نه خندا وه
نه د میاشتو کلو شمېر وو نه د نن پرون سودا وه
خوب به څه وایم چي څه وو د سکوت پټه دنیا وه
نه ورېمه نه بوی نه رنګ وو چي اوس پاڅي له دې ګلو
نه کړاو د بوراګانو نه اتڼ وو د بلبلو

څه فایده له دې ژوندونه چي مي دوې ورځي ژوندون دئ
غونچه خوله له خندا ډکه ګړی پس ئې بیا رژون دئ
لاله سر له خاورو هسک کړ بیا په زړه داغ ځګر خون دئ
غېږ په غېږ پاڼي دي رېږدي چي په مخ کي ئې بېلتون دئ
نن که زېب یمه د مځکي سبا خاوري د بیابان یم
دا هوس به نیمه خوا سي تر پښو لاندي د آسمان یم

د عبدالرؤف بېنوا ژبه انتقادي ده. خو د انتقاد د افاده کولو له پاره چنداني د احساساتي کلماتو او الفاظو څخه کار نه اخلي. معمولاً سمبولونه استعمالوي. ښايسته الفاظ انتخابوي او لوستونکي نه ستړي کوي. دغه سبک هغه ته امتياز وربخښلی او دغه سبک هغه بېنوا کړی او مشهور کړی دئ، بېنوا په داسي حالاتو کي شعر ليکي چي په افغانستان کي داخلي تغيرات او په بين المللي سطحه تحولات روان دي. د ده غلی شانته انقلاب شعر ئې چي له سر څخه تر پايه پوري د زمان د تحولاتو په مقابل کي د خبرداری معنی لري، د خپل وخت ډېر مشهور او ژوندی شعر وٌو او تر ډېره نوره وخته پوري به د پښتو ژبي د شعر له بهير سره ملګری او ژوندی پاته وي:

نسيم ووې د ګل غوږ کي بدل سو د ياراني رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زماني رنګ

ورسره نوي رنګونه – رنګارنګ تحولونه
کړي سمسور به راغ رغونه
موسم دئ هم بل سوی د بلبل د تراني رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زماني رنګ

دړي وړي زوړ رباب دئ – زوړ مطرب خانه خراب دئ
زوړ اٰهنګ د روح عذاب دئ
نوی ساز نوی آواز دئ هم سو نوی د نغمې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زماني رنګ

نوی دام نوی صیاد دئ - نوی چل نوی بېداد دئ
نوی آه نوی فریاد دئ
هوښیار صید لره ئې بویه بدل سوی د دانې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ

لري لوی لوی محبسونه - نه یو سرای نه یوه خونه
حبسوي لوی هیوادونه
چي بندي نه پرې پوهېږي داسي سو د زولانې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ



طلایي جام کي د دور - شراب زهر دي په دور
نوشول ئې غواړي غور
اې سرمست زلمیه پام کړه بل راز سو د میخانې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ

سره واوښتل قومونه - ویښ خبر سول له ژوندونه
د بیدو سول وران کورونه
ګوره کله به سي نوی د پښتون د کاشانې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ

عبدالرؤف بېنوا یوازي انتقادي شاعر او لیکوال نه وو. بلکي د جام او ساقي په ستایلو کي ئې هم د رنګینو الفاظو کم ساری پیدا کېږي. د دې مستیو د ستایلو تر څنګ د خپل هیواد د هغو بېوزلو، کونډو، رندو

او یتیمانو او ښکو ته هم متوجه دئ چي جام او ساقي مفهوم نه ورته لري او د ژوند د ېره لویه آرزو ئې د لوڅو سرونو او لوڅو پښو پټول دي. بېنوا نقاش وو، خو د طبیعت ښکلا ته د ومره عمیق متوجه وو چي هغه څه چي نقاش ئې په تابلو کي ترسیموي دی ئې په شاعرانه تصور افاده کوي. دی ئې د الفاظو او کلماتو په زور ښیي، او داسي ئې ښیي چي کله کله د نقاش تر توان وتلی کار وي. هغه شفق چي بېنوا ترسیم کړی دئ نقاش به ئې بې له شکه ترسیم کړای سي خو هغه څه چي بېنوا ئې د شفق د لیدلو په وخت کي وایي هغه د نقاش په تابلو کي نه ځایېږي. نقاش به د خپلي تابلو لیدونکو ته څرنګه هغه څه وایي او څرنګه به هغه پیغام ورکړي چي بېنوا ئې په لیکلو او ویلو قادر دئ.

هندوکش پر سر لمبې دي
که آسمان سره کناره ده
د کوم سوي زړګي آه دئ
یا د وینو فواره ده
که چنګېز د عصر توره
چي له تېکي راښکاره ده

یا خو بل د میني اور دئ
د فلک پرې سوی کور دئ

د سکندر د وخت شهید دئ
په حسرت ګوري بګرام ته
یا لېوال روح د عاشق دئ
چي ورځي د یار سلام ته
یا ویاله د سرو شرابو
چي تویېږي یوه جام ته

دا میدان د کربلا دئ
که سالو سور د لیلا دئ

دا زړګی د آسمان وچاود
که سینه د دېوانه ده

یا ساقي لـه لاسـه کښته — چپـه سـوې پيمانـه ده
او که درس د عبرت ليک دئ — ښـه رنګينـه افسانه ده
مور ته ياده جانبازي کړي
د نيکونو سرپازي کـړي
د مـومن د زړه پـه وينـو — شـېرينو سور کـړی لاس دئ
کـه کفـن د شـهيدانو — پرشـتو نيـولی پـاس دئ
يـا دنيـا کـي خـونريزي ده — پـر افـق ئـې انعکـاس دئ
يا شفق د کوهستان دئ
را چاپيره پر اسمان دئ

د بېنوا د غنمو وږی:

د شلمي پېړۍ د دوهمي نيمايي په لومړيو کلونو کي د پښتو ژبي د نوي ادب يو پهلوان عبدالرؤف بېنوا د وږي په نوم يو اثر له چاپه راوايست. د غنمو وږی د پښتنو د سياسي تاريخ د هغه فصل منظومه حماسه يا تقريباً منظوم تمثيل دئ چي پښتانه د ايران د نادر افشار د کورنۍ د استبداد څخه تر خلاصېدو وروسته د يوې واحدي رهبرۍ په تلاښ کي وه او بالاخره ئې د دې واحدي رهبرۍ د جوړولو له پاره د کندهار د شېرسرخ بابا په زيارت کي يوه قومي جرګه جوړه کړه. د دې تاريخي قومي جرګې په نتيجه کي د پښتنو د تاريخ يوه لويه ستونزه حل سوه. پښتنو مشرانو د رايو په اتفاق لوی احمدشاه بابا د خپل پاچا په حيث انتخاب کړ او احمدشاه بابا هم د معاصر افغانستان د مؤسس په

هیئت د پښتنو د پراخو او تیت او پرک پرګنو په یو کولو لګیا سو. د شېرسرخ بابا په زیارت کي د پښتنو د خپلواک دولت اساس نه بلکي د یوې لويي امپراتورۍ اساس کښېښېنودل سو چي د احمدشاه بابا په قول ئې هند او ایران تر نګین لاندي وه. عبدالرؤف بېنوا د پښتنو د دې تاریخي قومي جرګې په باب داسي وایي:

ارغنداو د غرو لمني د غاټوي په ګلو سرې سوې
د دامان هوسۍ دي مستي زرغونې ورته درې سوې
د باغو ونې ويښېږي د بلبلو پرې نارې سوې
آسمان ځکه ټوله خاندي نوي نوي ننداري سوې
واه! دا څه نوی ژوندون دئ دا نسیم راغی له کمه
چي ئې نوی روح وطن ته وباخښه له خپل قدمه
ته وا جوړ ملي اختر دئ نجونو سره کړل خپل لاسونه
په ملالو غاړو زانګي د روپو سپين امېلونه
لور پر لور ئې خپاره کړي په تندي تور اوربلونه
له کېږدیو راوتلي پر دښتو کړي اتڼونه
زلمیان هم تو پک په غاړه پښتنې ترانې وایي
په ملي جوش او خروش ټول ننګیالي پلرونه ستایي

د شیرسرخ بابا پر مزار باندي سپين بيرغ رپېږي او د پښتنو د ملت مشران ترې لاندي راغونډ دي. یوې خوا او بلې خوا پر آسونو سپاره ځغلي. د پښو ګرد ئې اسمان ته پورته کېږي. د شنه آسمان لاندي سپيني توري ځلېږي. ځکه له هیبته رېږدي. د پښتنو مشران سره مرکه دي او

کشران د خپل کاروان سالار د ټاکل کېدلو په انتظار ولاړ دي. دا وخت صابرشاه ملنګ په دې حساس وخت کې د پښتنو د مشرانو او سپین ږیرو تر منځ د اختلافاتو او جرګو مرکو د ختمولو په مقصد راپاځېږي او د احمدشاه بابا په بګړۍ کې د غنمو وږۍ ټومبي. هغه ته د پاچهۍ مبارکي ورکوي او وايي:

تخت و تاج دې مبارک سه د پښتون تبر زلمیه
دا ملت دې په تا لوړ سي پر غلیم سي بریالیه
ستر واکمن سوې د دې خاورې رب دې ستر لره زمریه
د اولس په غم شریک سه ملت ویښ که ننګیالیه
یو ګړۍ غفلت ونه کړې واک ئې ستاسو د دې پسه
په دردو ئې ځان خبر که لاس دې مینځه له هوسه
نور د هیڅ شي کمی نسته خو تنها چې تربیه سي
په ملي روح ئې ژوندون وي له تقلیده بېګانه سي
یو د بل په غم شریک وي له نفاق څخه ګوښه سي
خپل ځان وپېژني هسې چې پر ځان باندي تکیه سي
اوس نو ستا و لاس ته ګوري ملا دې وتړه احمده
د خپل قام په خدمت پاڅه مرسته غواړه له احده

د صابرشاه د درنې او پخې وینا څخه وروسته وار د شېرسرخ د جرګې و بل درانه مشر حاجي جمال خان د بارکزو د قبیلې سردار ته ورسېدی. حاجي جمال خان احمدشاه ته بیعت ورکړ. د مشرتوب او پاچهۍ مبارکي ئې ورته وویله. هغه ته ئې وویل چې نور نو د پښتنو

ستر کي تا ته دي. زموږ په تا اعتماد دئ او د خدای ﷻ په مرسته به په تا سرلوري سو دا تا ته توبې به ودان سي او زموږ ټولو زړونه په دغه زېري سره ښاد دي. حاجي جمال خان وروسته داسي ووي:

بست به سي آباد له سره بيا به جوړي کنډوالې سي
هري خوا ته به رواني د سرو اوښو قافلې سي
په څپو به هلمند راسي هر طرف ډکي شېلې سي
په هر کڅ باندي به جوړي د زلمو نجونو مېلې سي
چي هلمند به په څپو کي دوی ته کړي زاړه نکلونه
په ورو ورو به ئې څرګند کړي خپل د زړه پټ ارمانونه
شکر شکر خدايه تا ته چي دي مشر را پيدا کا
اوس د دې زلمي ته مل سې خپله مرسته ورعطا کا
چي دا تيت اولس راغونډ کړي له بېلتونه ئې جلا کا
په يوه آواز راپاڅي يو له بله سره ملا کا
له فراه تر هريه له زرنجه تر زابله
ټول ملت په يوه زړه سي له تخاره تر کابله

عبدالرؤف بېنوا د حاجي جمال خان تر وينا وروسته د نورمحمد خان عليزي وينا راوړي او هغه احمدشاه ته د مبارکۍ ويلو سره وايي چي ګوندي ستا په برکت د پښتنو زوړ برم راژوندی سي او ستا د تېرې توري له برکته پر دښمن باندي لړزه راسي. نورمحمد خان د خپلي اوږدې او احساساتي وينا په جريان کي داسي وايي:

که ظاهريم تر تا مشر يا تر تا مي ډېر اولس دئ

که جګړن مي تر لاس لاندي یا ملت زما په وس دئ
خو د پر زور مي دئ په لاس کي دا قدرت رالره بس دئ
مشرتوب نه غواړم ځکه کشرتوب ته مي هوس دئ
نه چي پيښن رانه ورانی سي څه غبرګون به کړم په حشر
یا منلې مي په سترګو زه یم کشر ته یې مشر

عبدالرؤف بېنوا وروسته د قام د نورو مشرانو محبت خان، نصرالله خان او موسی خان احساساتي او د پښتني غرور څخه ډکي ويناوي يو په بل پسې راوړي او د جرګې په پای کي په خپله د لوی احمدشاه بابا وار چي په عمر کي تر ټولو حاضرو قومي مشرانو کشر وو رسېږي. احمدشاه بابا له یوې خوا د خپل قوم د سپين ږيرو د میني ډکي ويناوي اوري او بلي خوا ته ګوري چي پښتانه زلمي په جنګي آسونو سپاره او د تورو ځلائې د لاهور د جنګونو د فتحي او د پاني پت د وهلو زېرى ورکوي. احمدشاه بابا هم د ميني او احساساتو دې ډکو صحنو دې ته وهڅاوه چي د پښتنو سپين ږيرو په جرګه کي ودرېږي او خپل قوم ته داسي ووايي:

د لوی خدای دا اراده وه چي زې مشر کړمه ستاسو
له همده نه مرسته غواړم غوښت مي دي په دواړو لاسو
چي پښتون بيا راژوندی کړم لکه وو چي هسي بيا سو
ټوله يو لاس يو اولس سو بېګانه له ملکه باسو
يو د بل په ژبه پوه سو چي موږ څه يو څه به سونه
د ژوندون لاري دي کومي موږ به کومي خوا ته ځونه
که موږ يو له بله پوه سو نور کارونه ټول آسان دي

ضروري تر هر څه موږ ته پېژندل لومړی د ځان دي
ځان به وينې کو هري خوا ته هري غلميان دي
يو په بل مو سره وژني وايي خپل يو دښمنان دي
زموږ ظلميان وينو کي رغړي دوی چکچکي کړي خندا کړي
منتظر دي هغه وخت ته چي به کله موږ تباه کړي
زه يم ستاسي تاسي زما ياست په وحدت خدای خوشحالېږي
ها اولس چي لاس ئې يو وي ژر مقصد وته رسېږي
هم په علم هم په توره له هيچا نه نه پاتېږي
که کرهنه وداني ده يو د بل په مرسته کېږي
که پوهنه که عظمت دئ که مړانه شان شوکت دئ
وداني يا که عزت دئ ثمر هر يو د وحدت دئ

د ښار نجوني او ښځي چي د پښتنو د معمول دود او دستور سره سم ئې د پښتنو په دې قومي جرګه کي برخه نه وه اخيستې د خبر د اورېدلو سره خوشحالېږي او د احمدشاه بابا مور زرغونې انا ته د مبارکۍ له پاره ورځي. زرغونه انا د دې خبر په اورېدلو له خوشحاليه په جامو کي نه ځايېږي. د خوښۍ اوښکي او موسکا ئې سره ګډه ده. د خدای ﷻ شکر ادا کوي چي داسي زوی ئې ورکړی دئ چي د ټولو پښتنو ورباندي اعتماد دئ او د يوه ملي رهبر په حيث ئې مخ ته کړی دئ.

زرغونه انا خدای ته لاسونه پورته کوي او وايي:

خدای دي وکي چي دوا سي ما هم دی غوښت دې د پاره
چي خدمت د قام وطن کړي ځان کړي جار په دغه لاره

د نیکونو نوم ژوندی کړي قوم وژغوري له ناتاره
د پښتون جنډه کې پورته له خیبره تر خیساره
زه به هله دی زوی بولم چي پاشلی اولس غونډ کړي
د زمري زلمو پوځونه و هر لوري ته ورپنډ کړي
ستاسي هم پالنه وکړي و مو ژغوري له خواریه
و پوهني ته مو مخ سي سي مخ څټ له ناپوهیه
هم هر پلار به خبروي تل د خپل لور له بېوزلیه
چي د لور غوښي ونه خوري سي بېزار له خونخواریه
هر مېړه پوه کې په دې چي مېرمن هم لري حقونه
که مېرمن په کور کي نه وي څه به خوند وي له ژوندونه



د بېنوا پاتا*

[د بېنوا د پاتا په باب علامه رشاد رحمه الله په خپله يوه ليکنه کې، چې د ادبي نثرونه، د بېنواياد، د کارنامو مېرمني، د ګلو ګېډۍ) په نامه کتاب د (بېنوا ياد) د برخي په ۱ - ۱۳ مخونو کي چاپ سوې ده، رغبدلی دئ. ښاغلي اکبر کرګر هم د دغي موضوع په ارتباط د ښکلا مجلې په ګڼه کي څه ليکلي دي. زما سره هم په دې برخه کي يو لړ خبري سته چي يادونه به ئې د راتلونکو څېړنو له پاره بې ګټي نه وي. م. **هوتک**].

د اروا ښاد عبدالرؤف بېنوا (۱۳۶۳ ش مړ) د مړيني خبر کابل ته د ۱۳۶۳ ش کال د جدي په پای کي راورسېدئ. په سخته ناروغتيا ئې تر دې پخوا غوړېدلي وو. زموږ فاضل استاد علامه رشاد بابا (۱۳۰۰ - ۱۳۸۳ هـ ش) په دغو شپو کي د زړه د ناروغۍ له امله د کابل په علي آباد روغتون کي بستري وو. د علامه استاد رحمه الله د کورنۍ، دوستانو او متعلقينو مصلحت پر دې سو، چي د بېنوا د مړيني خبر له استاد رحمه الله څخه پټ وساتل سي. موږ ټولو کوښښ کاوه چي علامه مرحوم د خپل

* د هوتک صاحب دا مقاله پر ښکلا مجله سربېره د دوی د مقالو په (کچکول نومي مجموعه - څلرمه برخه - ناچاپه) کي راغلې ده (م. روهيال).

تېروني اشنا او ملګري په غم غمجن نه سي. د علامه استاد مرحوم روغتيايي حالت مخ پر ښه کېدلو سو. د معالج ډاکټر اروابناد پوهاند نوراحمد بريڅ له خوا په کور کي د بشپړ استراحت کولو توصيه ورته وسوه او استاد رحمه الله ته ئې په کور کي بستر وغوړاوه. زه به لکه څرنګه چي روغتون ته هره ورځ د استاد خدمت ته حاضرېدلم، کور ته به مي هم هره ورځ ځان ور رساوه. ورځ مي ئې هېره ده، چي کومه وه، د استاد پوښتني ته ورغلم. په څېره کي يې د ژور خپګان نښاني ليدل کېدلې. پر مېز باندي کاغذ ورته پروت وو او داسي راته ښکاره سوه چي شعر ئې ليکه. قلم ئې کښېښو او تر سترګو ئې اوښکي راايله سوې. په وارخطايي مي پوښتنه ځني وکړه:

- چا په خبر کړلاست؟

په نيولي آواز ئې راته وويل:

- د يو چا په ناپامي کي تر خوله ووتل او وروسته نو په ټول حال خبر سوم. نور ئې نو اوښکو د خبرو کولو مجال ځني واخيست او څو شېبې دواړه پټه خوله کښېنستلو. ما سکوت مات کړ او په ډېر ادب مي ورته وويل:

- استاده! مرګ حق دئ خو اوس مو ړ ته تر هر څه زيات ستاسي صحت مهم دئ. وې فرمايل:

- هو! ټول همدا راته وايي.

بيا ئې نو د پيل سوي وېرني (مرثيې) مطلع راته ولوستل.

د قلم څوکي لمبه سه سوځه لاندي باندي

د "پر سترګو" تر ویلو وروسته مې لاس مچ کړ او رخصت مې ځنې واخیست. زما د هغه وخت خوښي او مباهات هیڅکله له ذهنه نه وزي چې علامه استاد به د یوه کار کولو ته امر کړم. د امر د تعمیل تر وخته به په کالیو کې نه ځایېدلم. په هغه سبا مې سهار په خړه بیا له خیرخانې مېنې څخه مخ پر ښار رونیو. د مخه تر دې مې چې د افغان اعلانات د دفتر مامور حاضر سوی وي، ځان هغه دفتر ته رسولی وو. د افغان اعلانات ځانګه په سالنګ واټ کې وه. په دې ترڅ کې دوه درې تنه نور هم د اعلانو خپرولو او پیسو تحویلولو له پاره دفتر ته راورسېدل او د مؤظف مامور له راتګ سره سم زه لومړی سړی وم چې د استاد پاڼه مې پر مېز ورته کېښېښووله. د مامور له کړوړو څخه داسې ښکاره سوه چې د دغه راز اعلان د رسېدو انتظار ئې کاوه. له مقدمې پرته ئې راته وویل:

- بیادر! ای اعلانه تیر کده نمیتانم.

ځنې و مې پوښتل:

- علتش پرسیده میتوانم.

راته وېویل:

- هدایت مقامات است.

کاغذ او پیسې مې راواخیستلې او استاد رحمة الله علیه ته مې ټول حال ووایه. ډېر متاثر سو. وې فرمایل:

- په دې شکوفان نظام کې د برحاله سفیر د پاتا اجازه هم نسته. سبا ئې په خپله وروړم.

غوښتل مې چې د دوی د ناروغۍ او د ډاکټر له خوا د استراحت د

چي په تا ليکلي کېږي د اشنا د مرګي ساندي[1]

وروسته ئې په بزرګوارۍ سره زما د هڅوني او تشويق په خاطر وفرمايل:

- په دې مرثيه کي مي ستا اقتفاء کړې ده.

زه لاس و پښه سوم خو ډېر ژر مي درک کړه چي د علامه مرحوم مراد زما هغه مرثيه وه چي د لوی استاد علامه حبيبي مرحوم پر مړينه مي ويلې وه او سرليک مې ساندي ليکلی وو[2].

ورپسې ئې د اروانباد بېنوا د ځوانۍ د شپو ورځو او د دوی د کورنۍ په باب او ږدې آموزنده خبري راته وکړې. د خپلي ملګرتيا څو په زړه پوري خاطرې ئې راته وويلې او په هغو کي ئې له پغمان څخه د راتګ پر وخت د څو تنو سپاهيانو کيسه راته بيان کړه چي اروانباد بېنوا د وزارت په موټر کي له ځان سره د کابل ښار ته راوستل[3]. د خبرو په پای کي ئې يوه ليکلې پاڼه او څه پيسې راکړې، وئې فرمايل:

- سبا به د افغان اعلانات دفتر ته ورسې او د مرحوم بېنوا د پاتا اعلان به ورکړې، رسيد به ئې ځني واخلې.

---

[1] د دې مطلع لومړی نيم بيتی د استاد رحمه‌الله په نوي چاپ سوي اثر (ادبي نثرونه ...) کي داسي لاس خوړلی راغلی دئ:

د قلم څوکي لمبه، سبڅه سوځه لاندي باندي

[2] دغه مرثيه د کابل مجلې د ۱۳۶۳ش کال په دوهمه ګڼه کي چاپ سوې ده خو زما نوم ئې ځني غورځولی وو. د استاد ياد په مجموعه کي بيا زما په نامه چاپ سوې ده.

[3] دا کيسه علامه استاد د (داسي وزيران هم پيدا کېږي) تر سرليک لاندي وروسته وليکل.

سپار ښتني یادونه ورته وکړم. جمله مي تر خوله پوره راوتلې نه وه چي په قاطعیت یې راته وویل:

- د بېنوا حق تر دې خبرو ډېر لوړ دئ.

سبا ته مي زړه کښانده وو. له ځانه سره مي ویل، خدای مه کړه د استاد روغتیا ته څه خطر پېښ نه سي. د اتو (بجو) شاوخوا مي د افغان اعلانات د دفترمخي ته ځان ورساوه او د سړک پر درې ګزي مي ورو ورو قدم وهل پیل کړل. څه شېبه وروسته مي استاد په سترګه سو چي دفتر ته ور وخوت. له بیرته راکښته کېدلو سره سم مي ځان په ولید. راته وې مسل:

- لیدل مي چي تعقیبوې مي. خدای دي برکتونه درکړي.

له جیبه ئې د اعلان رسید راوایست په اندېښمنه لهجه ئې وویل:

- اعلان خو ئې واخیست. وګورو چي نور څه پېښېږي.

سبا ته زما په شان نورو ډېرو دوستانو سهار وختي د راډیو فوتي اعلانو ته د ویاندله خولې څخه د "پایان اعلانات فوتی" تر ویلو پوري غوږ نیولی وو، خو د بېنوا د پاتا اعلان ئې وانهورېد.

د استاد کور ته په تلوار ورغلم. اروانښاد خواخوږی صاحب تر ما دمخه رارسېدلی وو. علامه استاد په جدي لهجه راته وفرمایل:

- صادق[1] ته مي هم ویلي دي، ته به هم په پوهنتون کي هر چا ته دا خبره ورسوې چي دولت پر خپل تندي باندي یو بل ملي ضد داغ کېنېښو.

---

[1] مراد ئې د اروانښاد انګار کشر زوی صادق انګار وو چي په دغه وخت کي په پوهنتون کي محصل وو.

د بېنوا د پاتا اخيستلو ممانعت ئې وکړ. موږ به که د خدای رضا وه د دهلهٔ پاره په خپل کور کې د قرآن عظيم الشان د ختم سرېښته وکړو.

د استاد امر مې پر ځای کړ.

درې کاله وروسته چې د روسانو په امر د گرباچف د پروسترويکا په تعقيب په افغانستان کې د ملي روغي جوړې تر نامه لاندې د رژيم د بقا له پاره نوې هڅه پيل سوې وه او په دې لړ کې د کابل په اريانا هوټل کې د اروابښاد بېنوا د دريم تلين د نمانځلو غونډه جوړه کړه، اروابښاد عطايي په خپلو خبرو کې وويل:

نن د همامغه بېنوا مرحوم په ياد دلته راغونډ سوي يو چې درې کاله وړاندې موږ چا د هغه پاتا اخيستلو ته نه پرېښوولو.

اروابښاد خواخوږي صاحب راته وويل: دې غونډې ته زموږ ملگري هم دعوت سوي وه خو موږ د اعتراض په نامه غونډې ته حاضر نه سولو. زه (هوتک) دې غونډې ته د ښاغلي هيوادمل په بلنه ورغلی وم. په غونډه کې ډاکټر طارق رشاد د علامه بابا هغه مرثيه ولوستله چې مطلع يې ما په وړاندې کرښو کې تاسي ته راوړې ده.

کلونه تېر سول. زه د ازل کښلو کاناډا ته راورسولم. په ۱۹۹۸ع کال د اکتوبر په مياشت کې چې علامه رشاد رحمة الله عليه امريکا ته تشريف راوړی وو. زه ئې ليدلو ته ويرجينيا ته ورغلم. څو د خوند شپې و ورځې مې د دوی په محضر کې تېري کړې. وروسته مو نيويارک ته گډ سفر وکړ او په نيوجرسي کې علامه مرحوم د اروابښاد بېنوا قبر ته ولاړ. د شپې چې کور ته راغی راته وې فرمايل:

- بېنوا ته مي وويل: "آرام بيده سه. نور روسان او هغه روسپال په وطن كي نسته چي موږ ئې ستا پاتا اخيستلو ته لا هم نه پرېښولو".

له علامه رشاد رحمة الله عليه سره دا زما وروستى ليدنه كتنه وه. ما په كاناډا كي په خپل كتابتون كي د كار مېز ته مخامخ هغه عكس ځوړند كړى دئ چي علامه مرحوم د اروا ښاد بېنوا قبرته لاس په دوعا ولاړ دئ.

خدا رحمت كند آن عاشقان پاك طينت را

محمد معصوم هوتک

اوكويل - اونتاريو

د اګست لومړى ۲۰۰٦ع

سرمحقق زلمی هیوادمل

پښتو روزنه*

د پښتو د لوی ادیب او د افغانستان د نومیالي مؤرخ محمد هوتک د نمانځني د غونډي په ویاړ د پښتو د زړه سواند خدمتګار او لوی لیکوال فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا د دغي رسالې د چاپ سپارښتنه د نمانځني د دغي غونډي علمي کمېټې ما ته وکړه.

رساله چي پخوا په کابل کالنۍ کي خپره شوې وه، له کالنۍ څخه ولیکل شوه او بیا مو فاضل استاد بېنوا ته وسپارله، دوی رساله له سره وکتله او خپله هغه ابتکاري مقاله چي په دوو وروستیو پېړیو کي د پښتو د چاپي آثارو په سیمینار کې لوستې وه، هم ورسره مله کړه او د پښتو روزني په باب ئې نور ګڼ معلومات پر اضافه کړل. په دې ترتیب له

* پښتو روزنه د استاد بېنوا مرحوم یو په زړه پوري اثر دئ، چي لومړی وار په کابل کالنۍ کي چاپ سو، دغه رساله د څه زیاتونو سره په ۱۳۵۷ش کال د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز له خوا د محمد هوتک د نمانځغونډي په ویاړ په کتابي بڼه چاپ سوه، او د ښاغلي زلمي هیوادمل دغه لیکنه د نوموړي اثر د سریزي په توګه راغلې ده، چي د استاد بېنوا د یاد سوي اثر په باب معلوماتي ټکي او زیاتوني پکښې راغلي دي (م. روهیال).

رسالې نه یو بل ګټور او نوی او دلچسپ اثر جوړ شو. وروسته تر هغې فاضل استاد بېنوا خپل دې شاګرد ته لارښوونه وکړه، چې یوه سریزه زه هم پرو کاږم.

او دا دئ د خپل استاد په امر د دې رسالې په باب څه مطالب ښاغلو لوستونکو ته وړاندې کوم:

پښتو د افغانستان له لرغونو او اصیلو آریایي ژبو څخه یوه زړه ژبه ده چې د تحریري ادبیاتو تاریخ ئې آن تر دوو زرو کلونو پورې رسي[1]، دغه ژبه د لرغونو تحریري ادبیاتو تر څنګه د شفاهي ادب یوه درنه ذخیره هم لري، چې قدامت ئې تر تحریري هغې ډېر پخوانی او لمن ئې خورا ویړه ده. دغې ژبې ته که له یوې خوا د خپلو ویونکو له خوا څه نا څه کار شوی او ویونکو ئې په دغه ژبه آثار کښلي او نوي ادبي ایجادات ئې کړي، دغه رنګه د دغه قوم د مشرانو له خوا هم پاملرنه ورته شوې او ځینو مشرانو ئې هم په دې ژبه شعرونه ویلي آثار ئې کښلي، ادباء او شعراء ئې روزلي، او همدارنګه ئې د آثارو په تخلیق او د مؤلفینو او شاعرانو په تشویق او روزنه کې هم کار کړی دئ.

په دې رساله کې فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا په خورا محققانه او عالمانه توګه زیار ایستلی، چې د پښتنو مشرانو ذغه ډول هڅې د امیر

---

[1] وګورئ: د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، دوولسم مخ، دریم چاپ ۱۳۵۴ش، د لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي، پوهاند میرحسین شاه: ۱۵۰۰ ق م د پښتو د یوه زاړه کتاب په لټه کې، زېری: ۵۰ ګڼه، ۱۳۵٦ کال، څېړنوال محمدصدیق روهي، د پښتو تولني تاریخچه، ص ۲، ۱۳۵٦ش.

کرور ۱۳۰هـ ق له عصره تر ۱۳۰۷ش پوري مستدلي او مستندي وڅېړي زه په دې سريزه کي دغه سير له ابتدا تر انتها تعقيبوم، او دا زيار باسم چي څه داسي خبري او مطالب په دې خصوص کي راوړم، چي له لوستونکو سره په دې موضوع کي نوره اضافي مرسته هم وکړي.

د رسالې په پيل کي استاد د غور د سوري شاهانو پښتو پاللنه مفصله راوړې او دا زيار ئې کښلی چي د اسنادو په راوړو سره دا زبانته کړي، چي د غور سوري شاهانو د ۱۰۰هـ ق په حدودو کي په خپلو دربارو کي پښتو پالله. هم په دغه وخت کي د لويکانو کورنۍ په زابلستان او غزني کي حکومت درلود، او قديم لويک ئې چي د ۱۲۰هـ ق په حدودو کي وو جوير (هجوير) نومېد. د دغي کورنۍ شاهان تر ۳۶۵هـ ق د اقتدار خاوندان وو او په دغه کال د سبکتګين په وسيله له منځه ولاړل[1].

د افغانستان ستر مؤرخ او د پښتو زړه سواند خدمتګار لوی استاد پوهاند عبدالحي حبيبي د سخي سرور كراماتو ته له مربوطو حکاياتو نه په يوه حکايت کي د دغي کورنۍ د يوه تن يو پښتو بيت پيدا كه، او په ډېرو معتبرو او ثقه تاريخي دلايلو او اسنادو ئې دا ثابته کړه چي د لويکانو کورنۍ په لومړيو اسلامي پېړيو کي په لوړو يادو شوو سيمو کي حکومت درلود او دغي شاهي کورنۍ له کابلشاهانو سره خپلوي هم لرله.

د پښتو د يوه بيت ويونکی لويک د خنچل کابلشاه معاصر وو، چي

---

[1] وګورئ: پښتو و لويکان غزنه: ص ۱۰۰–۱۰۱.

د ژوند زمانه ئې ۱٦۳ هـ ق وه. لوی استاد د دغي کورنۍ د موجوديت او د دوی د ژبې د اثبات له پاره د تاريخي مهمو اسنادو د راوړو تر څنګه د ژېپوهني د اصولو په مرسته او د ادبي نظايرو په راوړو سره دا هم ثابته کړې، چي په حکايت کي راغلی بيت په زړه پښتو کښلی شوی دئ، بيت دا دئ:

په زمي ګـــزنه ښـخېد لويک لـــويانو بويله لـــويا
کښه تور به براغلوم (بلوم؟) ممه تيزيو په ملا[1]

لوی استاد د دغي شاهي کورنۍ او د لويکانو د دغه يوه پښتو بيت په باب خپل عالمانه تحقيق په يوه رساله کي د (پښتو و لويکان غزنه) (طبع ۱۳٤۱ کابل) په نامه په دري ژبه کښلی او يو جامع فصل ئې په دې باب د پښتو ادبياتو تاريخ په دوهم ټوک دوهم چاپ ۱۳٤۲ (۱۷ – ۷۳ مخونه) کي راوړی دئ. دوی هلته دغه خبري په ډېر تفصيل سره راوړي دي.

له دغو اسنادو څخه ښکاري چي د اسلام په لومړيو پېړيو کي د غور د سوري شاهي کورنۍ تر څنګه په زابل او غزني کي د لويکانو پښتني شاهي کورنۍ قدرت درلود چي د پښتو ژبې د روزني او پالني په باب د دوی د هڅو نور اسناد په لاس کي نشته او د پښتو د دغه يوه بيت څرک ئې موږ ته رسېدلی دئ. تر دغي شاهي کورنۍ وروسته چي غزنويان په دې سيمه مسلط شوي، د دوی په دربارو کي هم د پښتو آثارو د رامنځته کېدو څرک نه لګي مګر څه چي دلې په بحث ارزي دا دي چي د پښتو ادب

---

[1] وګورئ: د پښتو ادبياتو تاريخ، ج ۲، ص ٦۳، دوهم چاپ، ۱۳٤۲، کابل – پښتو ټولنه.

او تاریخ زیاتره محققین په دې عقیده دي چي د پښتو اوسنۍ الفبې د سلطان محمود غزنوي (۳۸۷ - ۴۲۱ه ق) په وخت کي جوړه شوې ده.

قاضي خيرالله نوښاري د خيراللغات په مقدمه کي ليکلي دي:

د سلطان محمود وزير احمد بن حسن ميوندي (۴۲۴ه ق مړ) قاضي سيف الله وګوماره، چي د پښتو ژبي الفباء جوړه کړي[1] او ښاغلي اثر په (پښتو ادب) نومي کتاب کي د مراة الانساب د افاغنه وو د بحث په حواله دا خبره تائيد کړې ده[2]. مرحوم الله بخش يوسفي غزنوي (۱۶۶۸ع مړ) په يوسفزي افغان کي کښلي دي: د پښتو موجوده اصلاح شوی رسم الخط د سلطان محمود په زمانه کي شيخ ابو الفتح راويستلی دئ[3].

دغه مباحث بيا ستر افغاني محقق فاضل او محترم استاد پوهاند عبدالشكور رشاد د خيرالبيان د دوهم (عكسي) چاپ په مقدمه كي مفصل راوړي دي[4] او استاد بېنوا هم دغه مطالب د افغانستان نوميالي په دريم ټوک کي د احمد بن حسن ميوندي په بحث کي ټول رااخيستي دي[5]. په غزنوي دربار کي د پښتو له پاره د دغه کار تر څنګه د دغي دورې د يوه پښتون تورزن د يوه حماسي شعر د يوې کړۍ موجوديت موږ په دې باوري کوي چي که دغه دربار پارسي ادب ته ډېر ډېر کارونه کړي

---

(1) وګورئ: خيراللغات، لومړۍ برخه، ص ۴، د ۱۹۰۹ع کال چاپ.

(2) وګورئ: د پښتو ادب ص ۳۹، د ۱۳۷۰ه ق کال د پېښور چاپ.

(3) يوسفزي افغان: د ۹۷ مخ حاشيه، څلورم چاپ، کراچي.

(4) وګورئ: د خيرالبيان د عكسي چاپ په مقدمو کي د خيرالبيان د الفبې بحث: ۶۰ - ۶۲ مخونه، د فاضل او محترم استاد پوهاند رشاد ليکنه، ۱۳۵۳ کابل.

(5) وګورئ: د افغانستان نوميالي، دريم ټوک: ص ۶۱ - ۷۰.

دي، خو پښتانه ئې هم په دربار کې موجود وو، او پښتو هورې هم ويله کېده. د سلطان محمود د لښکرو څخه د هغه نوميالي تورزن پښتون د حماسي شعر دوه بيته دا دي:

ترکو نامردو هسني ودانګل له نام و ننګه
زه يو پښتون وم چې ولاړ وم د سلطان تر څنګه
توره په لاس په سره اور د عرصات وختم
له بت شکن سره په دژ د سومنات وختم[1]

د غزنويانو سره معاصر په غور کې سوريانو او ترې را وروسته د نورو غوري شاهانو په دربارونو کې پښتو پالل کېده. پښتانه شاعران په دغو دربارونو کې روزل کېدل، چې د دغو کورنيو د پښتو پالنې هڅې فاضل استاد بېنوا د پټې خزانې او نورو اسنادو په اتکاء په همدغه رساله کې مفصلې راوړې دي.

همدارنګه د ملتان د لودي شاهي کورنيو او په هند کې د لودي او نورو پښتني شاهانو په پښتو پالنه دغه رساله ښې او ګټورې خبرې لري. خو يوه بله خبره چې د هند د پښتنو شاهانو د پښتو پالنې په باب ئې بايد دلې وکو، هغه د سلطان العادل شېرشاه سوري (۹۵۲هـ ق مړ) د پښتو پالنې موضوع ده. که څه هم د ده کوم اثر موږ ته نه دئ رسېدلی، مګر د تاريخ شېرشاهي دغه کښنه: "... از افغانان بزبان افغانی پرسيد، هر که بزبان فصيح افغانی جواب ميداد، می فرمود که کمان بکش اګر کمان

[1] پښتانه د تاريخ په رڼا کې، د ظفر کاکاخېل، ص۳۵۹، د ۱۹۶۴ کال د پېښور چاپ.

خوب میکشید ماهیانه او را از سایر مردم اضافه مینمود و می فرمود من
زبان افغانی دوست دارم"[۱]. موږ په دې باوري کوي چې د شېرشاه
سوري په دربار کې پښتو ويله کېده، او پښتانه پالل کېدل.

په دې ترتيب د (۱۰۰۰هـ ق) تر شاوخوا پوري د پښتنو مشرانو د
پښتو روزني احوالونه په دې رساله کې ډېر ښه راوړل شوي او تر دې
وروسته د حاجي ميرويس نيکه (۱۱۱۹ - ۱۱۲۷هـ ق) او بيا د هوتکي
کورنۍ پښتو روزنه په مشرح ډول پکې راغلې ده، او د دغې دورې
اديبان، شاعران ياد شوي او کوم کارونه چې دغې درنې کورنۍ د پښتو
ژبې له پاره کړي هغه ټول په رساله کې راوړل شوي دي، او نور اضافي
بحث پکې نه ځايېږي. خو څه چې د دغو درنو مشرانو په پښتو روزنه او يا
ئې د پښتو روزني په اثراتو اړه لري دا ده، چې د دغې دورې د هغو مهمو
کتابو تر څنګه چې په پټه خزانه کې راغلي، بل مهم کتاب د محمدامين
سرپړېکړي (۱۰۹۹ - ۱۱۷۴هـ ق) (جګړه د محمود افغان او نيول د
اصفهان) نومېږي. ده د اصفهان په جګړه کې (۱۱۳۵هـ ق) له شاه محمود
هوتک سره برخه درلوده، او تر راستنېدو وروسته ئې بيا دغه کتاب
وکيښ[۲]. همدا ډول هغه نصرالدين خان اندړ چې پټې خزانې ياد کړی او
وينا ئې ورته راوړې[۳] د دې سړي هم يو بل کتاب شته، چې (پلار

---

[۱] وګورئ: تاريخ شېرشاهي، ۲۱۰ مخ، د ۱۹۶۴ کال د ډاکې چاپ.
[۲] وګورئ: کابل مجله، د ۱۳۵۵ کال ۷ ګڼه، ص ۳۸، د ګران رفيع مقاله.
[۳] وګورئ: پټه خزانه، ص ۱۱۶، دوهم چاپ.

ویلي)[1] نومېږي چي اوس پیدا شو، او په دې ډول د حاجي میرویس خان نیکه د درنې کورنۍ د یوه متاخر غړي عبدالغفار هوتک د زمانشاه (۱۲۰۷ - ۱۲۱٦ هـ ق) معاصر د دېوان او د ده د هوتکیانو د منظوم تاریخ پیدا کېدل[2] د دې کورنۍ د پښتو روزنې یو بل ثبوت تر ګوتو کوي.

د هوتکي دورې تر مشرحې څېړني وروسته فاضل استاد په همدې رساله کي د لوی احمدشاه بابا (۱۱٦۰ - ۱۱۸٦ هـ ق) پښتو پالنه راوړې ده. که څه هم د دغه وخت د دربار رسمي ژبه پښتو نه وه، مګر بیا هم دغه زمانه د پښتو شعر او ادب د ودې او پرمختیا یوه ښه دوره بلل کېدای شي. ځکه لوی احمدشاه بابا سربېره پر دې چي خپله ادیب وو او د شعر دېوان او نور رسایل ئې لیکلي، د ده په عصر کي زیاتو پښتنو ادیبانو او شاعرانو او لیکوالو ژوند کاوه، او هم ئې له زیاترو د علم او ادب کورنیو سره ټینګ روابط درلودل، لکه له مشهور پښتون روحاني میا عمر څمکني (۱۰۸۴ - ۱۱۹۰ هـ ق) سره، چي دی ئې د مریدانو په حلقه کي

---

[1] وګورئ: زېری د ۱۳۵٦ کال ۳۴ ګڼه، زیار ایستل کېږي چي په دغه تاریخ باندي فاضل استاد بېنوا د موادو د ترلاسه کېدو په صورت کي یوه درنه علمي مقاله د محمد هوتک د نمانځني د غونډي له پاره وکاږي.

[2] دغه تاریخ په ۱۳۵۵ کال کيَ ما او ګران رفیع د کلات سیوري ته په یوه سفر کي د بدین په کلي کي د ښاغلي شینواري خان هوتک په کور کي وموند او اوس د یوه بل سري په واک کي دئ، ستر افغاني محقق فاضل استاد پوهاند رشاد پرې ګټوره مقاله کښلې ده.

شامل وو، میا عمر[۱] او د ده زامن سربېره پر دې چې خپله شاعران او لیکوال وو د دوی د مریدانو په حلقو کې هم ډېر پښتانه شاعران او ادیبان تېر شوي چې د ځینو په کتابو او آثارو کې د لوی احمدشاه بابا د وخت ځینې واقعات په تفصیل سره راغلي دي، لکه د دادین په مناقب میاعمر کې[۲]. همدارنګه د پېښور د قاضي خېلانو له کورنۍ سره چې په هغه وخت کې د فضل او دانش کورنۍ وه، د لوی احمدشاه بابا روابط د ده د علم دوستۍ ښه ښکارندویې کوي. له دغې کورنۍ څخه قاضي محمدغوث د لوی احمدشاه بابا له خوا د پېښور قاضي وو[۳]. ده د احمدشاه بابا عرفاني ویناوې او منثور کلمات د (شرح الشرح) په نامه په یوه کتاب کې شرح کړې[۴] او د ده د یوې الف نامې شرح ئې په پښتو نثر کړې ده[۵].

همدارنګه استاد بېنوا په دې رساله کې د لوی احمدشاه بابا د پښتو پالنې اغېزو ته په هندوستان کې هم اشاره کړې ده او د حافظ رحمت خان

---

[۱] د میا عمر مؤلفات دا دي: خلاصهٔ کیداني منظوم پښتو، شمایل نبوي (پښتو)، شرح امالي، نسب نامه او خزینة الاسرار، وګورئ: پښتانه شعرا، ج ۴، روحاني تړون.

[۲] وګورئ: روحاني تړون او روحاني رابطه، ۷۵۵ مخ نه وروسته، د دادین د مناقب میا عمر یوه خطي نسخه له ښاغلي محمد حلیم سلیمي سره شته.

[۳] وګورئ: نوای معارک تازه: ۸۲۷ مخ، د ۱۹۵۹ کال د کراچي چاپ.

[۴] لوی احمدشاه بابا، ۹۸ مخ.

[۵] د دغې شرحې یوه خطي نسخه د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په خطي کتب خانه کې شته، چې په دوو وروستیو پېړیو کې د پښتو د چاپي آثارو د [illegible] سمینار په ویا[illegible] د فاضل او محترم استاد پوهاند رشاد له عالمانه سریزې سره خپره شوه (د تفصیل له پاره وګورئ: پلوشه د ۱۳۵۶ کال ۴ ګڼه.

برېښ د کورنۍ ادبي فعالیتونه ئې ښوولي دي. په خپله حافظ رحمت خان (۱۱۲۰ - ۱۱۸۸ هـ ق) د سیاست او جنګاورۍ تر څنګه لیکوال او عالم سړی هم وو. د ده په غوښتنه پیرمعظم شاه (۱۲۳۱هـ ق مړ) د پیر فاضل شاه زوی تاریخ افاغنه د تواریخ حافظ رحمت خاني په نامه اختصار کړ[1]. همدارنګه د ده په زامنو کي نواب محبت خان (۱۱۶۴ - ۱۲۲۴هـ ق) د پښتو ژبي لیکوال او شاعر وو، چي په آثارو کي ئې ریاض المحبت او دېوان محبت موږ ته معلوم دي[2]. د دغه پښتون نواب بل زوی نواب الله یار خان (۱۱۵۷ - ۱۲۴۸هـ ق) هم د پښتو ژبي شاعر او لیکوال دئ. د عجایب اللغات په نامه ئې یو قاموس کښلی[3]. په هندوستان کي د لوی احمدشاه بابا د پښتو پالني په تفصیل یو پنډ کتاب کښل کېدای شي، چي هغه بحثونه ټول دلې نه ځایېږي. ستر افغاني محقق فاضل او محترم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په خپله اثر (روهیله پښتانه) کي دغه خبري مفصلي او مستندي راوړي دي[4].

---

[1] تواریخ حافظ رحمت خاني په ۱۹۷۱ کال د پېښور د پښتو اکاډیمۍ خپور کړ، او اردو ترجمه ئې د خان روشن خان له حواشیو سره په ۷۳۰ مخونو کي د همدغي مؤسسې له خوا په ۱۹۷۶ کال خپره شوې، د حافظ رحمت خان خپل کتاب خلاصة الانساب هم پښتو اکاډیمۍ په ۱۹۷۳ع کال له پښتو ترجمې سره خپور کړ.

[2] وګورئ: د میکنزي فهرست: ۵۳ - ۵۵ مخونه (ریاض المحبت او د دېوان د معرفۍ له پاره ۵۸ مخ) د ۱۹۶۵ع کال د اکسفورډ چاپ.


[3] د میکنزي فهرست: ص ۵۵.

[4] د فاضل او محترم استاد پوهاند رشاد دغه قیمتي اثر تر اوسه نه دئ چاپ شوی، د مسودې په حال کي دئ.

د احمد شاهي عصر له ادبي مزايااو ځانګړنو څخه يوه موضوع دا هم ده چې د دغه عصر د اکثرو شعراوو دېوانونه او آثار په لاس کې دي او دغو شاعرانو په خپل وار د لوی احمد شاه بابا يادونې په خپلو آثارو کې کړې دي. ځينو خپل آثار او کتابونه د ده نامه ته منسوب کړي لکه احمد شاهي شاهنامه[1] چې حافظ مرغزي احمد شاه بابا ته وړاندې کړې ده، په خپله يو ځای ويلي دي:

شاهامه کړه ما تياره ... دېر شېرينه دېر آبداره
چې تحفه ده د بادشاه ... د خسرو ګيتي پناه
امانه ده سزاوار ... چې نمود شي په دربار
چې بادشاه لري کمال ... نشته ځای د قيل و قال[2]

او فتاوای احمد شاهي چې عبدالله کندهاري[3] په پښتو نثر کښلې، په پيل کې ئې د لوی احمد شاه بابا صفتونه هم کړي دي په دې بحث کې يو ځای وايي:



---

[1] احمد شاهي شاهنامه لومړی ځل ۲۰۶ مخه د مشتاق احمد مشتاق له سريزي سره د پېښور پښتو اکاډيمۍ خپره کړه. د همدغي شاهنامې يو غوره متن فاضل او محترم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد تهيه کړی وو، او د پښتو ټولنې په کتابخانه کې وو، بيا د پښتو ټولنې د پخوانيو ځينو خلکو په اشاره محوه کړی شو.

[2] شاهنامه: ص ۴۱.

[3] په دوو وروستيو پېړيو کې د پښتو د چاپي آثارو په سيمينار کې د فاضل او محترم استاد پوهاند حبيبي مقاله.

د دې وخت پادشاه سني دئ
پـه مـذهب کـي حنفـي دئ
محبـت ئـې د کتـاب دئ
بې عـدد و بې حساب دئ
دی پـه خپلـه مـصنف دئ
په دې کار کي ډېر منصف دئ
څو ښایسته ئې دي تصنیف
چي ئې کړی نه سم تعریف
سیال ئې نشته دی یکتا دئ
دی پـه چـارو بې همتـا دئ
هم عـالم دئ هم شـاعر دئ
پـه نکتـو کـي ډېر ماهر دئ
چـي د ده دېـوان هِـرا دئ
پـه تحقیـق سـره هـرا دئ
تـر هِـرا بلکـي فـایق دئ
مـشتمل پـه دقـایق دئ
هر غزل ئې عشق آوېز دئ
او هر بیت ئې درد امیز دئ

تـه بادشـاه دردران یـې
عـالي رایـه عـالي شان دئ
هر هغه چي ستا خطاب دئ
هغـه وارہ پـه صـواب دئ(۱)

په دې توګه که چیري د دې دورې د اکثرو شعراوو، لکه لتاړ، حبیب الله(۲) او نورو دېوانونه وکتل شي د لوی احمدشاه بابا ستاینې او یادونې پکي مومو. ځیني نور شعراء او علماء او ادباء هم په دې دوره کي تېر شوي، چي په پښتو ژبه غنیمت آثار ترې پاتي دي او ټولو په خپلو آثارو کي احمدشاه بابا په ډېر ښه نامه یاد کړی دئ، لکه: د معزالدین(۳) طب

---

(۱) وګورئ: فتاوای احمدشاهي، ص: ۴ – ۵ د دهلي چاپ.
(۲) وګورئ: پښتو څېړني، ص ۹۲، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶.
(۳) د معزالدین ۵۳ غزلي په ورکه خزانه، ج ۱، ص ۴۵ – ۵۶ کي راغلي دي، د تېرهېر شاعران مؤلف ئې د دغه کتاب په ۵۲ مخ کي پېژندنه راوړې ده، ده ربقة الاسلام په ۱۱۶۰ه‍ ق کال نظم

دلیل العلیل او ربقة الاسلام چي دواړه ئې د ده په زمانه کي نظم کړي دي،
معزالدین خټک د طب دلیل العلیل یو ځای وایي:

سـلطنت د احمد شـاه وو
دی پښتون صاحب د جاه وو
رب توفیـق د عـدل ورکـړ
پـه عـالم ئې داد گستر کړ (۱)

اخوند کبیر، چي د لوی احمدشاه بابا د زمانې پښتون شاعر دئ او
تالیفات ئې په دې ډول ښوول شوي: درالمجالس، جنت الفردوس، سیف
الظفر، دفع الفقر، نورنامه، شمایل نامه، جنگ نامۀ امامین، معجزات
کلان او معجزات خورد (۲). دی په خپلو معجزاتو کي یو ځای وایي:

چي زر سل او شپږ شپیته وو
داوو تلـی نـور پـه تلـه وو
احمدشاه بادشاه پښتون وو
اووم کال کي په رفتون وو (۳)

قابل اورکزي خپله ترسنامه دغه مهال نظم کړې، دی یو ځای وایي:

کړی دئ، لومړی ځل په ۱۲۹٦ هـ ق کال په دهلي کي، او دوهم ځل په ۱۳۳۰ هـ ق کال په لاهور کي چاپ شوی دئ. د طب دلیل العلیل بشپړه پیژندنه ئې د پیاوړي او محترم ملگري ښاغلي عبدالکریم پتنګ په کتاب (د خلکو تجربې) کي شوې ده.

(۱) وگورئ: طب دلیل العلیل، ص ۴، د لاهور چاپ.

(۲) وگورئ: فرهنگ زبان و ادبیات پښتو، ج ۱، ص ۳۹۴، د دغه شاعر لنډه پیژندنه په پښتانه شعراء، ج ۳، ص ۸۲۵ – ۸۲٦ کي هم راغلې ده.

(۳) وگورئ: د کبیر معجزات، ص ۴، د لاهور چاپ.

پادشاهي د احمدشاه ده
تر د کنه ئې غوغا ده
پادشاهي د احمدشاه
په قرار لرې بادشاه[1]

رکن الدين چي د دغي دورې يو عالم او پوه او مؤلف شاعر دئ. دوه کتابونه ئې د مناقب غوث الاعظم[2] او قانون القرا په نامه موږ ته معلوم دي. دی په خپلو دواړو کتابو کي د احمدشاه بابا يادوني لري. د مناقب غوث الاعظم په پای کي وايي:

هر ساعت درته دعا کړم
ستا د فتح تمنا کړم

ته مي خيال په زړه درون يې
تمام پوزه د پښتون يې
ته يې سر د بادشاهانو
ننګيالی د افغانانو

---

[1] وګورئ: ترسنامه، طبع ۱۲۹۶ هـ ق دهلي، فرهنګ: ج ۱، ص ۳۸۲.

[2] د مناقب غوث الاعظم يوه خطي نسخه د پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ په کتب خانه کي شته (وګورئ: پښتو خطي نسخې د ګران رفيع مسوده)، د دې مناقبو نسخه مرحوم مولانا قادر ته هم چا راوړې وه، د لوی احمدشاه بابا مدح ئې ترې نقل کړې او د احمدشاهي شاهنامې په ضميمه کي ئې خپره کړې ده، د رکن الدين سوانح د وروستي ماخذ له مخي د پښتانه شعراء د څلورم ټوک مؤلف هم د دغه کتاب په ۹۷۵ – ۹۷۶ مخونو کي راوړې ده.

چي احمد بادشاه د دين وي
خود تازه به رکن الدين وي[1]

په قانون القراء کي وايي:

په حساب کي دراويا زرسل کلونه
د هجرت په دا وقت واوره پوره ونه
خو چي سپک مي له خاطر د فکر زور که
پادشاهي د احمدشاه په دکن شور که
په شان د رعد پرق برې غره هار شه
د کفارو په ځان تندر قندهار شه

ننګيالي دی د اسلام په کار پښتون
ځکه ښکوم په دعا د ده متون[2]

دا وو څو مثالونه چي لوړ ياد شول. له دغو يادونو څخه د لوی احمدشاه بابا د لوړ شخصيت او ادب پالني احساسات ښه ترا

---

[1] مناقب غوث الاعظم (خطي) د پروفيسور سيال کاکړ نسخه.

[2] وګورئ: د قانون القراء ۳ مخ، د دهلي چاپ. د رکن الدين د دغه کتاب يادونه نه د پښتانه شعراء مؤلف کړې او نه ما په فرهنګ ج ۱، ص ۱۹۷ کي ياد کړی دئ. دغه اثر وروسته پيدا شو، رکن الدين د دغه اثر په يوه ځای کي ويلي دي:

چي ما کښلی په پښتو ژبه کتاب وه
نوم د ده واره له ما حفظ الاداب وه

د حفظ الاداب يوه خطي نسخه د انګلستان په کتابخانو کي شته. د ميکنزي د فهرست په ۴۱ ــ ۴۲ مخونو کي ئې يادونه شوې ده.

څرګندېږي. که چیري د دې دورې ادبي آثار ښه وپلټل شي نوري داسي نمونې به هم پکي پیدا کولای شو.

په دې رساله کي د لوی احمدشاه بابا تر پښتو پالني وروسته د تېمورشاه (۱۱۸۶ – ۱۲۰۷هـ ق) او زمانشاه (۱۲۰۷ – ۱۲۱۶هـ ق) د پښتو روزني په باب هراړخیز او مفید معلومات استاد وړاندي کړي دي.

د دغي یادوني تر څنګه یوه بله خبره چي په یادولو ارزي دا ده چي د تېمورشاه زوی شاه شجاع (۱۱۹۸ – ۱۲۵۸هـ ق) د پارسي شاعرۍ تر څنګه په پښتو هم شعرونه ویل، او د پښتو غزلو نمونه ئې د چاردرې اوسېدونکي ذوقمن ادیب ښاغلي عبدالقیوم عسکر ضبط کړې ده[1]، د ده د نورو پښتو غزلو څرک تر اوسه نه دئ ایستل شوی.

په رساله کي تر دغي دورې وروسته د امیر دوست محمد خان او امیر شېرعلي خان په پښتو پالني خبري شوي دي. د دغو دورو د ادباوو او شعراوو یادونه پکي شوې ده.

کله چي د امیرشېرعلي خان (۱۲۹۶ هـ ق مړ) په پښتو روزنه خبري کېږي او د دغي دورې د ادباوو او شعراوو یادونه منځ ته راځي په دې ډله کي یو مستحق سړی چي دلته ئې باید یادونه وشي هغه ملا فیض محمد اخونزاده (۱۲۵۰ – ۱۳۱۹ هـ ق)[2] د مولوي مغل خان زوی د مولوي یارمحمد لمسی او د مولوي اخترمحمد کوسی دئ. دی د دیني علومو یو متبحر عالم سړی وو. په پښتو، پارسي او عربي ژبه ئې لیکل کولای

---

[1] وګورئ: فرهنګ زبان و ادبیات پښتو: ص ۲۵۱ – ۲۵۲.
[2] وګورئ: پښتانه شعراء، ج ۳، ص ۷۰۹ – ۷۱۱.

شول. له آثارو څخه ئې روضة المجاهدین، ذخیرة السعادت، مجموعة الخطب، معدن الجواهر[۱]، لطایف او معروف الملوک[۲] موږ ته معلوم دي. ده خپل روضة المجاهدین د امیرشېرعلي خان په نامه په ۱۲۹۳ هـ ق کې نظم کړی دی[۳]. د دغه کتاب په پای کې وایي:

دا امیـر د دیـن مجلـي
مـسمی پـه شـېرعلي
داسـي وایـي مومنـانو
د حـضرت مطالبـانو
پیدا شوي یو طاعت تـه
د الله و معرفـت تـه
دی عاصـم دی د احبـابو
او هـازم دی د احزابـو
مـددگار دی د ابـرارو
خوارونکی د اشرارو[۴]

د امیر شېرعلي خان د دورې له پښتنو ادیبانو څخه چې د ده دربار ته رسېدلي، بل هم مولوي نورمحمد نوري کندهاری وو، چې د گلشن

---

[۱] وگورئ: فرهنگ زبان و ادبیات پښتو: ص ۳۸۱.
[۲] وگورئ: زېری: ۱۳۵۶ کال ۲۵ گڼه.
[۳] وگورئ: پښتانه شعراء، ج ۳، ص ۷۱۰، پېښ لیک، ص ۲۱۰.
[۴] وگورئ: روضة المجاهدین خطي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خطي کتب خانې (پښتو نسخې بناغلی رفیع).

امارت، تحفة الامير او د افغانستان تاريخ په نامه ئې کتابونه کښلي دي.
د خپل تحفة الامير په ۱۲۸۰هـ ق کال ليکلی او دا د پښتو ژبي ګرامر دئ، چي په پارسي ليکل شوی دئ[1]. د کتاب په پيل کي ئې يو مناجات راغلی، هلته د امير يادونه داسي راوړي:

دا امير دي قهرمان وي
هم دي جوړ دا خاندان وي
ګلستان يې خرم اوسه
بلبلان يې بېغم اوسه
پرې ګذر د خزان مه شه
هيڅ بلبل يې نالان مه شه
تل منصور دي زموږ شاه وي
دښمنان دې روسياه وي[2]

د امير شېرعلي خان د پښتو روزني له کارو څخه مهم کار دا دئ، چي د نوموړي امير په وخت کي پښتو د مطبوعاتو ساحې ته راووته او په ۱۲۹۸هـ ق کال د کابل په بالاحصار کي د پلو لښکرو د مشق د قواعدو کتاب ۳۸۲مخه مصور د قاضي عبدالقادر له خوا چاپ شو، چي بولی ئې پښتو دي[3].

په رساله کي د امير شېرعلي خان تر دورې وروسته د امير

---

[1] وګورئ: پښتانه شعراء، ج ۳، ص ۸۷۳.
[2] وګورئ: تحفة الامير ۳ - ۴ مخونه، د پښتو ټولني خطي نسخه.
[3] د افغانستان تاريخي پېښليک، د پوهاند حبيبي، ص ۱۹۹.

عبدالرحمن خان (۱۲۹۶ - ۱۳۱۹هـ ق) د پښتو روزني بحث راغلی دی. دلته لازمه بریښي چې د دغه امیر په دربار کې د پښتو روزنې په کارونو لږ څه مفصل وږغېږو، او ځیني نور اسناد وړاندې کړو، چې د امیر د پښتو روزني څرک تري راووزي:

په دې دوره کې میر محسن کندهاري[1] د شهزاده حبیب الله خان په خواهښت د (ګلدسته معاني) په نامه یو کتاب وکیښ، چې د دغه مطلب مؤلف په خپله یو ځای داسي راوړی دی:

"بر ضمایر مهر مظاهر مستخبران بدایع و معنی شناسان خیرت ووقایع مکشوف و مبرهن باد که درین ایام فرحت النظام و مسرت التیام مردم افغانستان که بعضی فارسی و برخی افغانست. افغان در لفظ فارسی و فارسي در لفظ افغاني عاجز و عاطل بوده و استفهام مدعا را بایماء و اشاه استخراج و ابراز می نمود، بلکه جناب بنده تعالی حضرت ظل سبحان را شوق تعلیم افغانی دامن ګیر و مقبول خاطر عاطر مهر مظاهر خورشید نظایرش ګردیده بود، لهذا حسب المدعا شهزاده بلند اقبال تحریر و تسوید و تسطیر این اوراق را به لفظ افغانی قندهاری که اسهل ترین و فصاحت قرین الفاظ افغانستان است املا نمودم، که عمله

---

(1) د میر محسن کندهاري سوانح پښتانه شعراء ج ۳ د مزاراتو د رسالې له مخې راوړې. په فرهنګ ص ۲۴۰ کې ئې دوه نور کتابونه هم یاد شوي دي. د مزاراتو رساله ئې په سراجي عصر کې په کابل کې چاپ شوې هم ده او خطي نسخې ئې هم شته. د ده بله منظومه رساله قواعد نظام نومیږي، چې د اماني عصر (۱۳۳۷ - ۱۳۴۷هـ ق) په لومړیو کلونو کې ئې نظم کړې او خطي نسخه ئې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په خطي کتاب خانه کې شته (وګورئ: پښتو نسخې، ښاغلی رفیع).

دولت خدا داد قوی بنیاد از خواندنش بهرمند و کامیاب گردد..."[۱].

همدارنګه امیر په خپل دربار کي د پښتو منشي درلود، چي لومړنی منشي ئې میرزا غلام جان لغمانی[۲] وو. د ده څلور منثوري پښتو رسالې موږ ته معلومي دي چي ټولي د امیر عبدالرحمن خان په وخت کي د کابل د دارالسلطنې په مطبعه کي خپرې شوي دي[۳]. تر غلام جان وروسته مرحوم ملا محمد خان ساپی (۱۳۰۵اش مړ) د پښتو منشي وو.

د امیر عبدالرحمن په دربار کي ځیني نادر خطي پښتو آثار هم موجود وو، لکه د پیر محمد کاکړ (۱۲۱٦ هـ ق ژوندي) د پښتنو تاریخ[۴].

همدارنګه د ملا احمد ګل (۱۲۵۸ - ۱۳۱۰ هـ ق) په آثارو کي د امیر عبدالرحمن د شاهنامې[۵] موجودیت موږ په دې باوري کوي چي امیر له پښتو شاعرانو سره هم روابط درلودل، او دوی ئې نازول. د پښتو ادب تاریخ مؤلف هم دغه خبره تائید کړې ده[٦]، چي ملا احمد ګل د امیر عبدالرحمن دربار ته ورغلی وو.

په دې دوره کي د ملا غلام جان لغاني د رسایلو د چاپ تر څنګه د عبدالقادر خان ختک (۱۰٦۲ - ۱۱۲۵ هـ ق) یوسف زلیخا (۱۱۱۲ هـ ق

---

[۱] وګورئ: ګلدستهٔ معانی خطي، د پوهاند دوکتور جاوید نسخه، ۴ مخ.

[۲] وګورئ: د پیرمحمد کاکړ دیوان د استاد بېنوا سریزه، ص ۱۵. د وږمې مجله، د ۱۳۵۳ کال ۱ ګڼه، ص ۱۱، د معرفة الافغاني سریزه د ګران رفیع.

[۳] پورته ماخذ.

[۴] پورته ماخذ.

[۵] وګورئ: کابل مجله، د ۱۳۵۱ کال، ۱۲ ګڼه، فرهنګ، ص ۲۲.

[٦] پښتانه شعراء، ج ۲، ص ، د پښتو ادب تاریخ: ص ۱۰۸.

تاليف) هم د ګل محمد خان محمدزي په اهتمام خپره شوې ده[1] او هم د عسکري پښتو بوليو ځيني کتابونه او رسايل کښل شوي دي[2]. په سراجي عصر (۱۳۱۹ - ۱۳۳۷) کي هم دربار د پښتو منشي درلود او مرحوم ملا محمد خان دغه کار کاوه. په دې دوره کي د پښتو پالني له پاره چي تر ټولو مهم کار شوی دا دئ چي پښتو د حبيبيه ښوونځي په درسي نصاب کي شامله شوې، او مرحوم صالح محمد خان هوتک (۱۳۳۹مړ) دغه وخت لومړني پښتو درسي کتابونه وکښل[3] او د همدغه مولوي د اطاعت اولی الامر رساله د مرحوم ملا محمدخان (منشي پښتو) تر کتني وروسته دغه وخت خپره شوه او د مير محسن مزارات هم دغه وخت د چاپ ډګر ته راووتل[4]، د امير حبيب الله په دوره کي چي د پښتو ژبي له پاره کوم کار شوی په هغو کي تر ټولو مهم کار چي د هېرولو نه دئ هغه د نوموړي امير په وخت کي د سراج الاخبار (۱۹۱۱-۱۹۱۹ع) خپرېدل وو او د دغي جريدې د ۱۲۹۳هـ ش کال په ګڼو کي پښتو ويښوونکي ادبي متون د اخبار په پاڼو کي چاپ شو او هم د اخبار فکور مدير علامه محمود طرزي (۱۸۵۶ - ۱۹۳۲ع) د دغه اخبار په بيلابيلو شمارو کي د پښتو ژبي لرغونو الي آثار، او د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا

---

(1) وګورئ: يوسف زليخا د ۱۳۱۵هـ ق کال د کابل د دارالسلطنې چاپ.

(2) د دغه وخت د عسکري بوليو يو خطي کتاب له ما سره شته.

(3) وګورئ: ليکوالي د استاد الفت: ص۶۹.

(4) وګورئ: د پښتو د چاپي آثارو په سيمينار کي د استاد پوهاند ميرحسين شاه مقاله.

له پاره مقالې وکښلې[1].

په دې رساله کې د اماني دورې د پښتو روزنې په باب هم ګټور او مفيد معلومات وړاندې شوي، چې له لوستونکو سره د دغو دورو د پښتو روزنې د پروګرامونو د پوهېدنې په برخه کې ښه مرسته کولای شي.
کله چې موږ د مشرانو په پښتو روزنه خبرې کوو، د پښتو د نوميالي مؤرخ، شاعر او اديب افضل خان خټک هغه علمي چارې مو هم تر سترګو کېږي، چې د ده په هڅونه د پښتو آثارو د کښلو په لار کې شوي دي.
همدارنګه د سوات د حکمران د ژبې او ادب په باب خدمات هم د هېرولو نه دي.

افضل خان خټک پر دې سربېره چې په خپله د پښتو ژبې شاعر او ليکوال وو. دغه رنګه د ده په هڅونه ځينو نورو ليکوالو او شاعرانو هم پښتو آثار کښلي دي، لکه: ګوهر خان خټک خپل قلب السير په ۱۱۲۰ هـ ق کال د همده په غوښتنه کښلی دئ[2]، همدارنګه مولانا عبدالحليم اختيارات بديعي (په ۱۱۳۰هـ ق)[3] او محمد مظفر بن اسمعيل په ۱۱۲۶هـ ق تاريخ اعثم کوفي[4] په پښتو ترجمه کړل. همدا ډول د سوات د

---

[1] وګورئ: مقالات محمود طرزي، د ۱۳۵۵ کال چاپ، دوکتور روان فرهادي.
[2] د پښتو ادب په تاريخ کي قصيده، د لوی استاد پوهاند حبيبي، ص ۱۱۷، پښتو ټولنه د ۱۳۵٦ش کال چاپ.
[3] د اختيارات بديعي يوه نسخه د رامپور په رضا لايبريري کي شته، او ميکروفلم ئې د پښتو ټولني په کتابخانه کي خوندي دئ.
[4] د تاريخ اعثم کوفي يوه نسخه د اطلاعاتو او کلتور وزارت په خطي کتابخانه کي خوندي ده (د پښتو نسخې مسوده).

حکمرانۍ پښتو روزنه هم د یادولو وړ ده، د دغې حکمرانۍ په تشویق او ترغیب ځینې پښتو کتابونه لیکل شوي[1] او ډېر شعراء او ادباء روزل شوي او پالل شوي دي، مرحوم نصر لیکي:

"... دوی د اردو ژبې سره سره پښتو ژبې ته هم ترویج ورکوی د دوی په دغه اقدام نه یوازې ریاست سوات کې ښه ښه شاعران د ادب په آسمان کې لکه د ستورو ځلېده، بلکه د سوات نه بهر هم ځینې شاعران او ادیبان د ګمنامۍ د اورېځو، لکه د لمر څرګند شول"[2].

په دې توګه موږ ګورو چې دغه رساله له لومړیو اسلامي پېړیو نه تر معاصرې دورې پورې د مشرانو د پښتو روزنې سیر څېړي او د پښتو د لوی او پیاوړي لیکوال او خوږ ژبي شاعر استاد عبدالرؤف بېنوا د تحقیق او پلټنې څرک ځینې راوزي، او په دې خصوص کې یوه ګټوره رساله ده، چې موږ ئې د چاپ مبارکي استاد ته وایو.

---

(1) د تفصیل له پاره وګورئ: د زېري فوق العاده ګڼه، ۲ نمبر ۹ مخ، د ګران او محترم رفیع مقاله، ص ۹ - ۱۱.

(2) وګورئ: ریاست سوات، د مرحوم نصر، ص ۴۴، ۱۹۶۳ع کال، د پېښور چاپ.

استاد خالق رشید

پښتو هنري نثر

او په هغه کي د استاد بېنوا هڅي*

سریزه:

د رواني میلادي پېړۍ د لومړۍ نیمایي په پای کي د اوسني هنري نثر د ودي او انکشاف له پاره په پښتني ادبي دنیا کي یو شعوري هڅون او خوځون پیل شو. د دغه خوځون تر ټولو مهم او د پاملرني وړ هدف دا وو، چي پښتو هنري نثر چي تر دغه وخته هم هلته او هم دلته په شډله بڼه ښکارېده باید په هنري او بشپړ صیقل شوې بڼه وده او پرمختګ وکړي، دا خبره په شعوري توګه پښتنو لیکوالو کوله په نوموړې موده کي ئې د نظم په انډول نثر ته لاس اچولی او په دغه برخه کي ئې د پاملرني او یادوني وړ هنري آثار رامنځته کړي دي. که چیري د دغه شعوري خوځون جرړي په ځیر سره مطالعه کړو. یو ټکی د یادوني وړ دئ. هغه دا چي

* اجتماعي علوم مجله، دوهمه دوره، دوهم کال (۱۳۶۹اش) لومړۍ ګڼه، ۱۵ - ۲۵ مخونه.

شلمه پېړۍ په ګرده نړۍ کې د نثر د ودې او پرمختګ پېړۍ وه او تر او سه ئې هم دغه ځانګړتیا نه یوازې په ختیځو ادبیاتو کې له لاسه نه ده ورکړې، بلکې په لوېدیځو ادبیاتو کې ئې هم د نثرې شهکارونو رامنځته کېدل ځرګنده بریا ده، دغې بریا پر پښتو ادبیاتو او پښتنو لیکوالو باندې ژوره اغېزه وکړه په لوی لاس ئې نظم ځای پرېښود د پخوانو په نظمې هلو ځلو ئې بسنه وکړه او دغه لاره ئې کلکه ونیوه.

د پښتو اوسنی هنري نثر:

په کوزه پښتونخوا کې خو لیکوالو نه یوازې د دغې پېړۍ دغه بریا د سپارښتنې په ترڅ کې تبلیغوله بلکې په دغه عصر کې ئې پر هغو لیکوالو او شاعرانو چې مخه وراوښته او هیله ترې کېده ګوزاریز انتقادونه هم کړي دي. د دغې هیلې د تحقق په لار کې د رواني پېړۍ د پنځوسمو کلونو یو شمېر کوزنیو اوونیزو مجلو ډېر څه لیکلي او د پښتنو لیکوالو غوږونو ته ئې رسولي دي. د مثال په توګه دا ډول مسایل او نثر ته د خدمت کوني په دغه ملي کار کې نامتو خپرونو، خپلواک، رهبر، پښتو، پښتون، لار او نورو ډېره ستره او مهمه دنده واخیسته. ځکه کله چې په دغه وخت کې نوموړي خپروني په ځیر سره ګورو هلته وینو چې د نثر په بهیر کې په مختلفو ژانرونو کې لیکوال قلمونه چلوي او له دې لارې د نثري ژانرونو د ودو او ودې له پاره رغنده ګامونه اخلي. زه دلته له (خپلواک) نومې خپروني څخه یو مطلب د خپلې خبرې د اثبات په خاطر رااخلم او د هغه په رڼا کې د نثر پالنې او هڅونې بهیر تر بېنوا او نورو

پوري رارسوو. د خپلواک په (۱۷) کلنه کي د (پښتو او نثر) تر سرليک لاندي زموږ د عصر د نامتو ليکوال اياز داودزي يو زبده مضمون خپور شوی دئ چي په يوه برخه کي ئې ليکي:

"... او پښتو نثر غواړي ولي؟ ځکه چي په سندرو اوريدو او په سندرو ويلو خو د خواري غوږونه کانړه، غاړه ئې وچه شوه. نو تر کومه به سندري اوري تر کومه به سندري وايي، يوازي په سندرو ويلو خو هم د چا خونه نه ودانيږي، کنه سندري ويل د ښادۍ علامت دي او ښادي د کور وداني زيږی او کور هله ودانيږي چي ښايسته ډولۍ کي د مراد ناوې کور ته راوستلې شي.

نو سندري خو مو ډيره موده وويلې. دغه سندري واقعي چي زموږ د ښادۍ او کورودانۍ علامې دي، خو هغه د مقصد ناوې به لا کله تر کوره کوو. موږ باندي په سندرو ويلو عمر تير شو او د ناوي غريبي سر په کنج کي سپين شو. دغه د مقصد ناوې دغه د علم او هنر ناوې زموږ د قربانو په او محنته جوړه غواړي نو دغه قرباني به کله کوو. دغه ناوې به کله تر کوره کوو. معلوميږي داسي چي دغه ناوې مو لا نه ده پيژندلې د مقصد د ناوي نه ناخبره يو. خو هسي مو زړه له هوا شان راغلې ده او بس چي د امير کروړ نيکه راسي موږ په غوږونو ګوتي ايښي دي نو ټول بس سندري وايو. په دې نه يو خبر چي ډول لا په کوم تيراه غږيږي. خو موږ يو چي په خپل خپل کور کي ګډيږو. راځئ چي دغه مقصد وپيژنو. دغه ډول وپيژنو. دغه مقصد او دغه ډول د پښتو نثر دئ بغير د نثر نه موږ خپل مقصد او خپل مرام ته نه شو رسيدلی. سندري خو خلک هغه وخت هم

وايي چي ليک لوست ئې نه وي زده ځکه چي سندري خو د بنيادم په سندريز روح کي اخلي شوي دي نو سندري دي چيري هم د علم او د هنر علامت نه شي ګرځېداى. بنيادم قلم هله په لاس کي اخيستلى چي نثر ليکل ئې غوښتلي دي هم نثر انسان ته د علم او هنر دروازې پرانستلي دي ..." (۷/۳).

اياز داودزى تر هر څه دمخه پر دې ټينګار کوي چي پښتانه ليکوال په تېره هغوى چي په ايجادي برخه کي قلم چلوي بايد د پښتو نثر په وده او انکشاف کي تر شعر زياته برخه واخلي ځکه چي اوس پښتو ژبه تر شعر نثر ته زياته اړتيا لري د خيبر د ادبي ټولني په دغه تګلاره چي نثر ته پاملرنه کوي او يوازي شعر ته ئې مخه کړې انتقاد کوي او ليکي چي:

"... لري به نه څو په خيبر کي خداى پاک ستر حمزه پيدا کړو چي پښتو ادب به ورباندي تل فخر کوي هغه شاعر دئ ښه شاعر دئ، ځکه چي د هغه ټول ژوند هڅيو يو شعر دئ هغه خپل ژوند په خپل فن قربان کړى دئ. هو د دغي ستري هستى اثر په خيبر دا وشو چي د خيبر هره ګټه پورته کوې نو شاعر ترې نه لاندي راوځي ... او نثر؟ نثر ته څوک ګوري هم نه... نو چي دا حال وي نو نثر څنګه او ولي راپيدا شي؟ (۱۲/۳).

اياز داودزى[۱] په همدغه حساسه شېبه کي د پښتو نثر عام بهير

---

[۱] اياز داودزى د کوزي پښتونخوا له نامتو ليکونکو او کره کتونکو څخه دئ. په ۱۹۲۷کال کي زېږېدلى دئ، ډېره موده ئې په پېښور راډيو کي دنده تر سره کړې. استاد بېنوا د اوسني ليکوال په لومړي ټوک ۱۰۸ مخ کي د ده په باب ليکي: "ما د ښاغلي اياز څو مقالې لوستي دي چي له هغو څخه ما ته د ده د نثر پوخوالى، علمي ارزښت او پر

يوازي په کوزه پښتونخوا کي نه ځېږي، بلکي دغه مهم بهير ته په بره پښتونخوا کي هم متوجه دئ او دا پته ورسره شته چي دلته هم ليکوال او شاعران تر ډېره حده د ده خبره په سندرو ويلو لګيا دي. هغه ته چي کله د استاد الفت د شعرونو ډېر مهم اثر (غوره اشعار) لاس ته ورځي نو بيا خپله غوټه د يوې تبصرې په ترڅ کي داسي پرانيزي او ليکي چي: "... د کابل د پښتو ټولني د ډايرکټر ښاغلي ګل پاچا الفت (غوره اشعار) نومي کتاب چي په لاس راغلو نو هم مي وخندل او هم مي وژړل. خندا مي ځکه کوله چي داسي ښکلی چاپ شوی کتاب او پښتو کي، ژړا په دې خبره راغله چي د کابل د پښتو ټولني ډايرکټر چي هم شاعر شو. نو د بل چا نه به څوک څه ګيله کوي منم چي هغه به نثر هم ليکي ښه به ئې ليکي. علمي څيزونه ئې هم ليکلي دي خو د هغه د شعر اثر به د هغه په چاپېر چل هم هغه وي کوم چي د خوشال دئ يا د حمزه دئ، هسي خو رښتين هم شاعر دئ، مجروح، بېنوا، قيام الدين خادم او داسي نور ټول شاعران دي خو چي د ټولني مشر شاعر دئ نو نور به اورمرو شاعري کوي دلته هم زموږ ټول مشران ګران کامل صاحب که مؤرخ او محقق دئ نو شاعر هم دئ... (۱۴/۳).

په پښتو هنري نثر کي د استاد بېنوا هڅې

همدغه بهير د رواني لمريزي پېړۍ په څلوېښتمو کلونو کي دلته په

موضوع باندي حاکميت ښه څرګند سوی دئ، نو د دې له پاره چي د دې کتاب لوستونکو ته هم د ده د ليکلو قوت ثابت سي د اجمل پر (د غيرت چغه) ئې تنقيدي ستاينه کفايت کوي... .

افغانستان کي هم پښتنو ليکوالو په جدي توګه په نظر کي نيولی دئ، همدا وجه ده چي کله په نوموړيو کلونو کي د پښتو ادب افغاني بهير ګورو په رښتيا هم د دغه عصر نامتو ليکوالو د نثر په برخه کي شعوري او مسلکي ادبي هلي ځلي کړي دي تر دغه وخته په پښتو ادبياتو کي د داسي ليکوال پته ډېره لږ لګېدای شي چي هغه به يوازي د نثر په برخه کي د خپل فکر نيلی ځغلولی وي مګر په دغه کلونو کي داسي پښتانه ليکوال هم را منځته شول چي د هغوی لاره د نثر لاره شوه او په دغه لاره کي ئې ګام اوچت کړ. دا خبره بايد په پام کي ولرو چي دغه کلونه د نثر د پرمختګ او ودي کلونه دي او په تېره د هنري نثر له پاره خو داسي هلي ځلي کېږي چي په افغانستان کي ئې ساری ګردسره نه وو. نثر له همدغي نېټې را په دې خوا دومره وده کوي چي د هغه په ترڅ کي مختلف ژانرونه زموږ تر سترګو کېږي چي په نوښتي لحاظ افغاني ادب ته د مانا او جولۍ له مخي نوی خوند او رنګ وربښي. د نثر مختلف (٢: ٥٩) ډولونه چي علامه حبيبي په (ديني، سياسي، تاريخي، تعليمي، تحقيقي، هنري، قانوني) (٢/ ٥٩) نومونو ياد کړي په چټکۍ سره دود کېږي او زيات شمېر ليکوال هغونه په جدي توګه کار کوي چي له هغو څخه د پښتو ژبي د هنري نثر له نامتو ليکوالو څخه يو استاد بېنوا دئ.

بېنوا که له يوې خوا د پښتو ژبي نامتو شاعر دئ مګر له بلي خوا دی د پښتو ژبي هغه ستر او پوخ نثر ليکونکی هم دئ چي د اوسني هنري نثر په رنګين آسمان کي لکه ځلانده لمر ځلېږي لکه چي ومو ويل اوس پښتو نثر په مختلفو اړخونو کي وده کوي. د همدغه اصل په ترڅ کي استاد


بېنوا هم د پښتو نثر په مختلفو برخو کې داسې تګلاره غوره کړې چې یوه تر بلې مهمه او د پښتو ژبې له پاره ځانګړې اهمیت لري. استاد بېنوا د پښتو نثر ته په دريو عمده برخو (سیاسي، تاریخي او هنري) کې زيات کار کړی دئ، د دې له پاره چې پر دغه برخه مو لږ رڼا اچولې وي غواړم د استاد بېنوا د نثر په نوموړيو دريو برخو باندې ډېره لنډه رڼا واچوم:

الف - د استاد بېنوا سیاسي نثرونه:

د استاد بېنوا د سیاسي نثرونو ټولې بېلګې او ټولې هلې ځلې د ده د سیاسي ژوند او سیاسي کړو په برخه کې د ځانګړې پاملرنې وړ دي، د ده نثر په دغه برخه د ده د سیاسي او ټولنیز ژوندانه او دريځ څرګندونه ډېره ښه کړې. کله چې د ويښتيايي پېر په بهير کې په ټاکليو سیاسي کړو وړو او حالاتو باندې خبرې کوو، دلته دا ټکی د يادولو وړ دئ چې د دغه عصر سیاسي پېښې په ټاکليو سیاسي کسانو پورې اړه لري او په دغو سیاسي څېړو کې د بېنوا څېره تر ټولو څرګنده او روښانه ځلېږي. که لږ خبره دقيقه وکړو نو دا ويلای شو چې د ويښتيايي عصر او د ويښ زلميانو د مبارزو ډېر درونډ پېټی د استاد بېنوا پر اوږو بار وو. هغه څه چې په دغه عصر کې بېنوا ويلي او کړي هغه د ده د عصر ډېرو لږو کسانو کړي او ويلي دي، بېنوا له يوې خوا په سیاسي کړيو کې راګير وو خو له بلې خوا ئې په ځانګړي تعهد خپل ارمان ته په شعوري او آګاهانه ډول د ليکنې له لارې کار کاوه. کله چې په دغو شپو ورځو کې موږ د استاد بېنوا د سیاسي نثر په لټه کېږو نو ډېرې ښې او مهمې بېلګې ئې د دغه

عصر په جریدو او خپرونو په تېره بیا انګار، نداء خلق، وطن او اولس کې لیدلای او لوستلای شو.

ځکه زموږ دغه نامتو لیکوال د نوموړیو خپرونو له مهمو او منل شوو لیکوالو څخه وو. په دې مانا چې د ده زیاتې سیاسي لیکنې په دغو خپرونو کې خپرې شوې چې زیاتره ئې ګوزاریزې ځانګړتیاوې لري او د ملت د ویښولو په برخه کې ئې په تېره بیا په دغه عصر کې په زړه پورې ونډه اخیستې ده، د استاد بېنوا د سیاسي نثر یوه مهمه ځانګړتیا دا ده چې همدغه سیاسي نثر په خپل وار یو ډول هنري جوله هم لري، یعني په سیاسي نثر کې ئې یوازې وچ سیاست نه دئ ځلېدلی ځکه ئې زیاتره سیاسي نثرونه هنري ښکلا او ارزښت هم لري. له همدې امله ئې په خلکو او روښانفکري ټولنو باندې اغېزه زیاته ده.



ب - تاریخي نثرونه:

د استاد بېنوا په نثر کې د تاریخي نثرونو ځلا په تاریخي مسایلو او د هغو په څرګندونه کې ښکاري، ځکه ده د خپل فرهنګي ژوند په اوږدو کې یو لړ تاریخي آثار هم چې د افغانستان په عمومي تاریخ کې د پاملرنې وړ وه په خپله کښلي او یا ئې په خوږه ژبه راژباړلي دي، د بېنوا تاریخي نثرونو د پښتو نثر په دغه برخه کې پر هغو پېښو او حوادثو چې په تاریخي لحاظ د پښتنو له پاره ځانګړې ملي ارزښت لري مهم دي د دغو نثرونو زیاته برخه د مجلو او ورځپاڼو په ترڅ کې خپره شوې او څه ئې د خپلواکو آثارو په توګه خپاره شوي دي په خپلواکو آثارو کې ئې د

يادوني ور تاريخي نثرونه (د افغانستان تاريخي پېښي)، (د افغانستان نوميالي)، (ميرويس نيکه)، (پښتونستان)، (پاچا خان - ژباړه)، (د افغانستان لنډ تاريخ - ژباړه) او داسي نور دي، د افغانستان تاريخي پېښي يا نيټه ليکونه د استاد بېنوا په تاريخي نثري آثارو کي ډېر مهم او په تاريخي لحاظ ارزښتناک اثر دئ چي لومړی ټوک ئې په ۱۳۵۴ کال کي خپور شو او د دغي لړی را وروسته نيټه ليکونه همداسي پاته شول.

ج-هنري نثرونه:

په دې کي شک نشته چي د پښتو اوسني هنري نثر تاريخچه نژدې درې پېړی نه زياتېږي مګر دا خبره بايد وکړو چي د دغي يوې پېړۍ په اوږدو کي هم په کوزنيو او برنيو ادبي بهيرونو کي د پښتو هنري نثر د ودي بهير په توپير سره رامنځته کېږي. په بره پښتونخوا کي پښتو هنري نثر تر کوزو هغو په را وروسته کي سمه وده کوي. ځکه هلته پښتو ژبه خپل سوچه والی له لاسه ورکوي، د نورو ژبو اغېزې پکي زياتېږي مګر دلته په دې برخه کي هلي ځلي کېږي چي پښتو ژبه بايد تر زياتي اندازې خپل ژبنی بسياتوب د ځان له پاره وساتي. د همدغه اصل په رڼا کي پښتو هنري نثر چي يو مهم استازی ئې استاد بېنوا دئ. د هغه په ليکنو کي په ځانګړي هنري پرتم سره انعکاس مومي. څومره چي بېنوا د ښکلا په نزاکتونو پوهېده، څومره چي د ده هنري ذوق د ميني او ښکلا د درد او خوښۍ احساس کاوه، څومره چي دی په ټولنه کي په نادودو رنځېده او څومره چي د احساس سترګو د عاطفې په وزو څه ليدل هغه ټول د استاد

بېنوا د هنري نثر د سينګار له پاره کارول شوي دي.

د ده هنري نثر د ښکلا سمبول دئ او تر زياتي اندازې د ده د شعري هڅي تر اغېزې لاندي ښکاري، که د الفت د نثر عاطفي او تولنيز اړخ لوستونکو ته د پاملرني وړ دئ مګر د بېنوا نثر زما په نظر نه يوازي په عاطفي او تولنيز لحاظ بشپړ دئ په هنري لحاظ هم په خپل عصر کي د خو تکی نه لري او د خپل عصر د نثر په بهير کي ئې نوې لاره پرانستې ده.

د استاد بېنوا د هنري نثر د ودي په بهير او هنري هستونو په ترڅ کي دوه اړخه د پاملرني وړ دي چي لومړی ئې د هنري نثر تخليق او دويم ئې ژباړه ده. د تخليق په برخه کي هغه نثرونه راځي چي په کابل مجله او د زېري په اونيزه کي خپاره شوي دي، په خپلواکه توګه يو شمېر نثرونه په ځانګړو آثارو لکه (د زړه خواله) چي په ۱۳۴۵کال خپور شوی. د (پرېشانه افکار) د نثر برخه چي دغه اثر منثور شعرونه هم بلل شوي دي او هم ئې په (ادبي فنون) نومي اثر کي يو شمېر نثري ليکني چي لوړ هنري ارزښت لري خوندي شوي دي. (د زړه خواله) د استاد بېنوا د هنري نثر ښکلی جونګ دئ. په دغه جونګ کي ټول (۲۱) لنډ نثرونه چي د زړه خواله ده او د ګران ملګري په پته ويل شوي راغلي دي. د دغه اثر ډالی داسي شوې ده، چي:

[هغه ملګري ته چي دا د ملګري د زړه خواله لولي].

دلته له دغه اثر څخه يو ليک را اخلو او لولو ئې:

"ګرانه ملګريه!

خبر نه يم چي تا ته کله کله د کوچنيوالي او طفوليت خاطرات هم په

يادېږي که نه؟ ما خو ځيني وختونه ډېر مشغولوي او کله لا داسي هم وي چې د ځينو هغو خبرو په اصلي مفهوم چې ما په وړوکتوب کي اروېدلي دي ايله اوس پوهېږم. په کوچنيوالي کي به موږ له مشرانو څخه اروېدل چې د چا په باب کي به يې ويل:

"د کاليو سره د سړي په سترګو ښوی ننوزي".

هغه وخت زه پوره نه پوهېدم چې دا جمله څه مفهوم لري او يو غټ لوی سړی څنګه د چا په سترګو ننوتلای سي؟

سړی غوماشه نه ده چې په سترګو کي ځای سي؟ مګر ما ته نه وه معلومه چې کله کله ځيني انسانان تر غوماشي هم واړه کېږي، مشرانو خو د کاليو سره ويلي و مګر زه چې لوی سوم ما وليدل چې ځيني انسانان نه يوازي د کاليو سره بلکي د موټرانو سره، د کوټيو سره، د اپارتمانونو او ځمکو سره د خلکو په سترګو ننوزي، او زيار باسي چې خلک په بيټا او روڼو سترګو ړانده کړي.

پرون يې هيڅ نه درلودل، نن هر څه لري خو که ورته وويل سي: "دا له کمه؟" په ډېر جرئت او بې پروايي وايي: "کم دي؟"

د سړي په سترګو له دې ټولو شيانو سره ښوی ننوزي او داسي ردبد ناګاره سي چې سړی پر خپله بينايي شکمن کړي، سترګي وموږي او بيا په ډېر دقت ورته ځير سي خو بيا هم ګوري چې دا د پرون نادار او د نن بډای ولي او ښ له باره سره په بډه منډي؟

که ما په فقه اللغه کي څه لاس درلودای نو ما به ضرور د (بډای) د کلمې ارتباط له (بډو) سره پيدا کړی وای، خو اوس بې له دې چې بيا د

کوچنیوالي له خاطراتو څخه کومک وغواړم او ووایم چي داسي کسان
فکر کوي چي دوی د پیریانو سکاره په سترګو کړي دي. چي دوی به هر
څوکویني او نور څوک به د دوی هیڅ څه نه سي لیدلای، بله چاره نسته.
په کوچنیوالي کي به سپین سرو ښځو په افسانو کي راته ویل:
"هر څوک چي د پسرلي په سر کي تر هر چا د مخه توتکۍ وویني او
بیا نو سترګي پټي کړي او څلوېښت قدمه پر مخ واخلي او پر څلوېښتم
قدم مځکه وکیني نو هلته به د پیریانو ښخ کړی سکور ومومي، او چي
هغه سکور په سترګو پوري کړي دا سړی به هر څوک او هر شی ویني خو
بل څوک به دی لیدلای نه سي".
په دې راز پوهېدل چي دې د پرون نادار او د نن بډای په دې شلمه
پېړۍ کي دا افسانوي سکور څنګه پیدا کړی دئ، چي له خپلو غټو غټو
شیانو سره له سترګو پټېدای سي، تر هغه پوري چي ما او تا هم هغه سکور
په سترګو پوري کړی نه وي اسانه کار نه دئ" (۱: ۳۱).
او یا هم د همدغه اثر دا وروستی لیک:
"ګرانه ملګریه!
څو تر څو به دې زاړه ټنګ ټکور ته ناست یو؟
هغه کمزوري سرودګر ته وایه، چي: مه ترنګوه، نور دا زوړ سازمه
ترنګوه... دا ساز له کاره لوېدلی دئ.
تارونه یې شلېدلي دي او نغمه یې بې سره ده. د دې زاړه ساز ږغ نور
نه سي کولای چي د زلمو وینه توده وساتي، او یا د بوډاګانو روحي
اضطراب ته تسکین ورکړي، د میني جذبه هم نه سي تېزولای او د ژوند

آرزو هم ورله په غېږ کي ځای نه ورکوي، نو څو تر څو به د دې زاړه ساز زاړه ترنګ ته د نيم خوابۍ په حال کي سرونه ښوروو؟

او بې له دې چي يو وړوکی عصري توافق هم ورسره ولرو او يا يې له بې خونده نغمې څخه خوند واخلو بيا هم صرف د دې لپاره ورته غوږ نيسو چي څوک ونه وايي چي: "دوی له دې ساز سره ناآشنا دي".

حال دا چي زمانه لا له ډېره پخوا د دې زاړه ساز سره ناآشنا سوې ده يوازي زه او ته يو چي د دې زاړه ساز له زېر او بم سره سرونه پورته کښته خوزوو ...

نو ودي وايي هر څوک چي هر څه وايي، خو راځه چي دا زوړ ساز چوپ کړو او د زمانې د نوي ساز سره د نوي ژوند نوي نغمې ورغوو". (۱: ٦۱).

د استاد بېنوا د هنري نثر په بهير کي د هغه يو شمېر ژباړي چي زياتره د هند د نيمي وچي د نامتو ليکوال ټاګور آثار دي د ځانګړي هنري ارزښت لرونکي دي، استاد بېنوا د ټاګور ګيتانجلي نومی شهکار په ډېره لوړه پښتو هنري ژبه راوژباړه، زه خو په دې نظر يم چي د دغه اثر ژباړه يوازينۍ ژباړه ده چي د پښتو ادب په اوسني بهير کي د ښکلا او ځلا په ارزښت سرې پوهوي دا بايد په پښتو اوسني ادب کي د شلمي پېړۍ تر ټولو ښه ژباړه او ښه بريا وبلل شي، دغه اثر په ۱۳۵۴کال کي د استاد رشاد په ارزښتناکه سريزه د ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګي له خوا خپور

شو*.

دا هم د دغه اثر بېلګې:

"اې زما خاونده! تا ته زما مناجات دا دئ چې له زړه څخه مې د افلاس ريښې پرې کړه. ما ته توان راکړه چې خپل غمونه او خوښۍ په آسانۍ سره وزغمم، ما ته واک راکړه چې غريب مې هيڅکله له نظره ونه لوېږي او د ګستاخ قوت په مقابل کې پر ګونډو نه سم. قوت راکړه چې خپل نفس د روزمره ناوړو چارو څخه لوړ وساتم او د دې توان راکړه چې خپل قوت د محبت سره ستا رضا ته وسپارم" (۴: ۳۶).

"اې موري (وطنه)! زه ستا د غاړي له پاره د خپلو غمګينو اوښکو د مرغلرو لاړ جوړوم، ستورې چې له خپلې روڼا څخه پازيبونه تياروي هغه ستا د پښتو له پاره خو زما پسول به ستا پر سينه پروت وي. دولت او شهرت له تا لاس ته راځي او د دې ټولو ورکول او اخيستل ستا له خوا دي خو دا زما غم بېخي زما خپل دئ او هر کله چې دغه د نذر په توګه تا ته وړاندې کوم نو ته د خپل فضل انعام راکوې" (۴: ۹۲).

نتيجه ګيري:

د پښتو ژبې دغه نامتو ليکوال د خپل عصر له وتلو او نامتو نثر

---

* دا د ګيتانجلي دوهم چاپ دئ چې د علامه پوهاند رشاد په سريزه د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې خپور کړ، د دغې ژباړه لومړی چاپ په ۱۳۳۶ش کال د راديو افغانستان د رياست له خوا د پښتون ږغ مجلې په همکاري خپور سوی دئ. (م. روهيال)

...کونکو ښخه دئ، استاد بېنوا په نثر لیکنه کي د یوې ځانګړي تګلاري
...کوال بللای شو. ځکه د ده نثر لیکنه په دغه دوره کي مهم خصوصیات
...ځان سره لري چي لومړی ښکلې جوله یعني د ښکلو الفاظو او کلمو
...سي سره اوډل چي په هره لیکنه کي یو ځانګړی منطقي نظم په ځانګړې
...ښکلا سره تر سترګو کېږي، بله ډېره مهمه ځانګړتیا ئې د اده چي هنري
...ریو خاصه انتقادي، داسي انتقادي بڼه چي له یوه ډول طنزي ریشخند
...ره ملګرې ده د همدغه آر له مخي د ده نثر که له یوې خوا د سپېڅلي او
...بوادپال وجدان انعکاس دئ مګر په عین حال کي د ښکلا او هنري
...ږزښت لوړه بېلګه هم ده، چي زموږ په اوسنیو هنري ادبیاتو کي زموږ د
...سني نثر شمله یادېږي.



...ځونه:

۱. بېنوا عبدالرؤف، د زړه خوال، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۴۵کال.
۲. پښتو چاپي آثار په دوو وروستیو پېړیو کي، د مقالو مجموعه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۷کال.
۳. داودزی ایاز، پښتو نثر، خپلواک (۱۷ګڼه)، ۱۹۵۸کال.
۴. راییندراناته ټاګور – ګیتانجلي (د بېنوا ژباړه)، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۵۴کال.

محمد دین ژواک

د شلمي پېړۍ په نیمايي کي د شعر تکاملي سیر

استاد عبدالرؤف بېنوا

موږ د پښتو د شلمي پېړۍ شعر په تکاملي سیر کي د شعر مبداء د مولوي صالح محمد د شعر څخه شروع کړه، او په دې لړ کي د استاد قیام الدین خادم، الفت استاد او نورو شعرونه مو په دې مسیر کي وښوول.

د شلمي پېړۍ څخه چي نیمايي برخه ئې زموږ مطلب ده دا دئ چي د ادب اړیکي د ژوند د هر اړخ په تصویر کي وښیو. دلته استاد بېنوا د هغو شاعرانو څخه دئ چي د خپل شعري جهان سره د ژوند رمز ته هم ملتفت دی یعني د شعر په ژبه وایي:

بیـــا محشر راغـــی د ګلـــو تـــه رانغلــې
لالـــه جام ســـو د سرو ملـــو تـــه رانغلــې
مـــا پـــه وږو ســـترګو ستا لاري څـــارلې
قافلـــه راغلـــه د ښـــکلو تـــه رانغلــې
ستا راتلو تـــه د نرګس سترګي سوې سپیني
کـــوڅې تـــاوکړلــې سنبلو تـــه رانغلــې

دا د استاد بېنوا د شعر دنيا وه، خو د دې شعري دنيا په اړخ کې د انساني مينه څنګه ښيي؟ د استاد د انساني دنيا تابلو دی په يوه وړه قطعه کې دا ډول ښيي:

انسانان ژوندي په مينه
څوئې مينه هومره وينه
چې ئې زړونه سي بې ميني
تو يوي يو د بل وينه

دلته تاسي استاد بېنوا وينی چې د اشراق دې فلسفې ته مخ اړوي:
"ستا هډوکي به په تابوت کې خاوري سي، ستا شهرت او ستا نوم او ستا افتخار به محوه سي، ليکن له خپل عشق سره مينه ولرئ، هغه مينه به پاته سي، ځکه ستا روح ابدي دئ".

يعني دلته دی د الفروسه دا جذبه څومره په ښه شعري تصوير کې ښيي. هو! استاد بېنوا عشق د ابديت نغمه او د هستۍ سرلوحه بولي، مګر بېنوا استاد د شعر د کلاسيک استادانه نظر، فورم او محتوی سره يوه نوې رنګينه امتحاني الوتنه هم لري او د شعر په ژبه د نړۍ د بدلون رمز څرنګه ښيي؟ دا برخه د پښتو شعر د شعري سير لومړۍ تکاملي پوړۍ ته بيايي، لکه چې وايي:

غلې شانته انقلاب دئ

نسيم ووې د ګل غوږ کې بدل سو د زمانې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ

ورسره نوي رنګونه، رنګارنګ تحولونه
کړي سمسور به راغ رغونه
موسم بل دئ هم بل سوی د بلبل د ترانې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ
دړي وړي زوړ رباب دئ
زوړ مطرب خانه خراب دئ
زوړ آهنګ د روح عذاب دئ
نوی ساز، نوی آواز دئ، هم سو نوی د نغمې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ

استاد بېنوا د خپل شعري اعجاز سره ځان د جهان پېژندلو، جهان ښوولو مسئولیت ته ځرمه کېږي او د دغه مسئولیت اضطراب په شعري رمز سره ښیي. ځکه دی د انسان له پاره د ذوق د تسکین سره د عشق د ابدیت د نغمې سوز او ساز په جهان اوري، نو د دې شعري کمال سره موږ دا ویلای سو چي استاد د نوي والي سرلوحه نوي نسل یا ځوان شاعر ته لیکي، او په دې ډول هنرمندي د شعر قافله روانوي چي موږ دده ته د دغي زمانې د شعر سرغندوی ویلای سو.

سعدالدین شپون

مړ ئې مه بوله ژوندی دئ*

پښتو او پښتونولۍ په تېره څه د پاسه نیمه پېړۍ کي د ګوتو په شمار لویو اروا وو په برکت دومره وده کړې ده چي اوس ئې وینو. د همدغو ګرګو نه بیا موږ ځانګي، زخي راوتو کېدو. په دغو لویو ارواوو کي یو عبدالرؤف بېنوا وو.

د بېنوا اهمیت هم د ده په خپلو آثارو، هم په تحقیقي پروژو او هم د ده په ټولنیز دریځ کي تجلي کوي او زه زلمیانو ته خواست کوم چي درې سره راوسپړي. زه به دلته هغه برخي را اخلم چي زه ئې د احسان پوروړی یم.

یو امتیاز چي باید زه ئې یاد کړم چي بېنوا په همزولو لاره، د ده لید وو. نورو استادانو هم د پښتني کلچر ورونه پرانیستل چي پر موږ ئې حق دئ. خو زیاترو ئې دا ورونه همدومره خلاص کړل چي ایله دوی پکې ، ځایېدلی شول. دا هم غنیمت دئ، خو بېنوا د نورو (ما) وارو دپاره ورونه خلاصول.

د بېنوا هره پروژه او خدای شته چي د هغو کمی نشته، یوه الف لیله

---

* ځانګه مجله، لومړی کال، لومړی ګڼه، ۳۵ – ۳۸ مخونه.

ده، یوه سوالیه لري، چې نور پښتانه د هغې دوام او د هغې ځواب ته رابولي. بېنوا هم د همزولو سره په دې کې شریک وو چې لیکني ئې د پښتنو کلتوري، ټولنیز او سیاسي غور ځنګ ته سیخي وې، مګر بېنوا په عین حال کې په خپلي پېړۍ کې د نورو سره د پښتنو د نړۍ لید د سیال کولو ځری هم وو. د ده په نزد د پښتنو ماضي د ویاړ نه ډکه وه او باید دي چې د دې بدل شوي وخت د تقاضو سره هم ځانونه د پلرونو په شان عیار وساتي (یا غرونه ښارونه کړه، یا له غرونو ښکته شه). زه چې وایم، بېنوا په شلمي پېړۍ کې چکر وهي، نو معنا ئې دا نه ده چې د نورو نه په لرغوني پښتني کلچر کې بیرته پاتي دئ. پښتو او لرغوني پښتانه ئې کافي څېړلي دي. وګورئ: (پښتو د شاهانو په دربار کې ۱۳۲۲)، (د هوتکو په دوره کې پښتو، ۱۳۲۴)، (پښتو څېړني، دارمستتر، ۱۳۲۶) او حتی ښایسته زیات کوښښ ئې کړی چې پښتو د عربي او فارسي د قالبونو سره پخلا کړي (ادبي فنون، ۱۳۲۶). صرف دا وایم چې بېنوا وړاندي ګوري هم دې ته او:

چې د وینو د سېلاب مرجونا نه شې
په دریاب کې چا ګوهر موندلی نه دی

(پوره ډاډه نه یم چې دا بیت په همدې بڼه وي).

نو د ځینو دا نښه دي رښتیا وي، د مترقي عناصرو دا حکم د بېنوا نیمګړی تصویر دئ چې وایي، هغه د شلمي پېړۍ د علومو او لبرالیزم محصول وو.

غیر له محمد ګل مومند، داوي او څو نورو نه د پښتنو د باباګانو

تاداو ټول په ديني مدرسو کي پوخ شوی دئ. ځينو فاکولته يانو دغو مشرانو ته په ملنډو په خپله سړي شوي سړي ويل، مانا جغرافيه نالوستي، خو څوک د دې نه انکار کوي، پښتو د همدغو مشرانو په همت اوسني پړاو ته رسېدلې ده.

بېنوا طالب وو، د ده د کلونو ملګری، ښاغلی قدير فهيم چي د پښتو کلاسيک آثارو خزانه ده او پخواني پښتو متون داسي مطالعه کوي ته به وايې په تلاوت ناست دئ، روايت کوي چي:

"ځوانکی بېنوا چي له کندهاره کابل ته راغی او د خپل ورور عبدالکريم حقاني کره اوسېده نو اکثر ئې د کابليانو په کړو وړو او سلوک ژړل، چي دا ولي د خدايه غير کارونه کوي".

د دې ليکني په آخر کي به د فهيم صاحب بل روايت بيان کړم چي څنګه بېنوا په زړبودن هم راغب پاتي شوی وو.

زه چي خط و برېت مي په ادبي ليکلو پيل کړی وو ژر ژر د استادانو او حتی دانايانو تر تاثير لاندي راتلم. بس چي د چا به مي ولوستل بيا مي کوښښ کاوه چي هماغسي وليکم. د بېنوا (غلی شانته انقلاب دئ ...) او (د فلک خونخواري سترګي ...) ته خو بېخي محوه وم. خو کلونه کلونه د هغه د شعر د دې ترکيب په باب مي په زړه کي خرخښه وه چي (بدل شو د ميخانې رنګ). په دې شکل زما د زړه د درزا سره سم نه راته، نو ما به تل د ځانه سره د (بدل شو) پر ځای (شو بدل). کلونه پس چي مي د بېنوا سره دوستي شوه (د دوستی توری به سم نه وي ځکه اوږه په اوږه سيالان نه وو، لا هم د استاد - شاګرد تړاو وو) نو ما خپله خرخښه ورسره

رابرسېره کړه.

هغه خپله خوږه خندا وکړه او ویې ویل: "شپونه! څه د قرآن توری خو نه دئ، اړوه او را اړوه ئې". یاده دي شي چي په وروستیو متونو کي دا ترکیب (بل راز شو) راغلی دئ. د بېنوا د لویو پروژو خبره مي کوله، د ده دغه آثار ئې بېلګي دي:

"پښتنې مېرمني - ۱۳۲۳، اوسني لیکوال - درې ټوکه، ۱۳۴۴، د افغانستان نومیالي - څلور ټوکه ۱۳۵۵؟ دا کتابونه نه بلکي انسایکلوپیډیاګاني دي". په لرغونو او اوسنیو نارینه او ښځینه عالمانو، شاعرانو او اجتماعي، سیاسي شخصیتونو کي داسي څوک نشته چي په دغو شاهکارونو کي نه وي تلپاتي شوی.

دغه افغانان چي بېنوا یاد کړي، ځینو نورو مشرانو هم څېړلي خو هر یوه یو یا دوه تنه، خو د بېنوا په هکله یوه نقاد ویل: "آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری".

د بېنوا د شخصیت په هکله ځینو خلکو ویل چي تل په انګلیسي اصطلاح (Best on a wining horse) مانا تل ګټونکی دئ، تل ئې بېدۍ مېره وي، مانا تل په حکومت کي څوکۍ لري. مګر د خلقیانو په وخت کي چي خلکو ویل، تره کي ئې ملګری دئ ما د پښتو ټولني په یوې ورې تیارې خوني کي ولید چي د نورو مغضوبینو په شان په یوه ګوټ کي یوه پښې ماتي مېز ته ناست وو او خپلي څېړني ئې کولې. زه د بېنوا د شورا د هغې وینا شاهد هم یم چي اعتمادي ته د اعتماد د رایي د ورکولو په موقع ئې په پښتو کوله او چي خبره نیمایي ته ورسېده نو وئې ویل:

"اوس به ئې د ده په ژبه ورته ووايم".

زه د بېنوا د استعفی او وزګارۍ د کلونو شاهد هم یم، چې د ګوزارې له پاره ئې د کور قالیني او تغرونه خرڅول او ماینې ئې په اجوره خیاطي کوله او دا زما نه لیکلې واخلئ چې بېنوا په دې دومره ریاستونو، وزارتونو او سفارتونو کې نه یوه حبه رشوت اخیستی او نه ئې فحاشي کړې ده. یاده دې شي چې د قبایلو وزارت د پیسو او مطبوعات ورسره د فحاشۍ د فرصتونو خزانه وه.

په کال ۱۹۸۱م کې زه په ډنمارک کې د کوپن هاګن په پوهنتون کې استاد وم. یوه ورځ یو پخوانی ډنمارکی پروفیسر چې دا وخت په لیبیا کې سفیر وو کور ته راغی.

هلته ئې د یوه افغان کیسه کوله. ده وویل: "د سر ویښتان ئې سپین دي، سور مخ او نرخي ځرزي سترګې لري، هلته سفیر دئ. په پارټیو او مېلمستیاوو کې ئې چې کله وینم، ګوښې ولاړ وي، نظر ټولو سفیرانو ته سنګین، موقر او داسې ښکاري لکه چې ستاسو په ملک کې به شهزاده یا د کومې درنې کورنۍ وو. نوم ئې سم نه شم تلفظ کولی، بینا که بل همداسې نوم ...". غوږ مې شرنګی وکړ. ما آوازه اورېدلې وه چې بېنوا ته ئې چیرته سفارت ورکړی او یو څه نا امیندګې مې هم سترګو ته ورسېده، چې یاره دا خو نو زیاتی دئ، نو چې زه او ډنمارکی سره پوه شوو نو بیا هغه د بېنوا د وقار او مهربانۍ او سخاوت کیسې راته وکړې. هسې زما له خولې ووتله، چې ډنمارک ته ئې رابولئ؟ سفیر راته وموسل: "رابلل ئې څه کوې چې که دی وغواړي په ډېر عزت به

پناهندګي ورکړو". نو ما يو اوږد ليک د همدې سفير په لاس ورواستاوه او له هغه لوري ځواب راغی چې خپلخانه ئې په کابل کې يرغمل ده. خط ويل چې ده غوښتل چې د تداوی له پاره لوېديځ المان ته لاړ شي، د کابل چارواکو (مانا روسي سلاکارانو) حتی د هغې اجازه هم ور نه کړه او ورته ويل ئې:

"بهترين تداوی در آلمان دموکراتيک شده ميتواند".

په طرابلس کي هم بېنوا غلی نه وو ناست. د اوږدو د قراره ئې يو عربي - پښتو قاموس هلته ليکلی چې نيخه (نه يم خبر) اوس چيرته دئ.

دوه ځلي نور هم په تليفون کي ورسره غږېدلی يم، يو ځل په آلمان کي وو چي استاد د سرطان په مرض د مرګ په هلوځلو کي وو، بل ځل په نيويارک کي چي درنګ ساعت له ئې ځنکندن وو.

او دا ده د فهيم صيب وينا چي زما په غوښتنه ئې په خپل قلم وليکله:

"د کال ۱۳۵۶ (د داود خان وروستی کال) د نارنج د ګل وخت، بېنوا صيب د ننګرهار د تګ تجويز وکړ. لوی استاد حبيبي، استاد غلام محمد غبار او استاد کريم نزيهي هم ملګري شول.

له دغو استادانو سره د يوې شپې او دوو ورځو سفر ملګرتيا زما له پاره يو غير مترقب نعمت وو. شپه مو د بېنوا صيب په کور کي تېره کړه، د دغو استادانو د غورو (خبرو) له برکته ما داسي ګومان کاوه چي د علمي، فلسفي، ادبي، تاريخي، انتقادي او طنزيه نکاتو په درياب کي لاهو شوی يم. شپه تېره شوه. د نارنج ګل د عطرو موسيقۍ راويښ کړم.

چي سترګي مي وغړولې بېنوا صيب له ما نه مخکي پاڅېدلی او سهار د لمانځه په وروستي رکعت ولاړ وو. زه ځای پر ځای پروت وم. هغه سلام جاروېست. د څو شېبو نه وروسته نه پوهېږم چي مراقبه وو او که په چرت کي تللی وو، پاڅېده، په خپل کټ کښېناست، د شعر کتابچه ئې راواخيستله او په ليکلو ئې شروع وکړه. د بېنوا شعر وو، چي مرحوم غبار او نزيهي ئې په خوند باندي له ما نه زياته ژبه وتکوله. د سبا ناري نه پس، د بتمي کوټ فارم او تورخم پلو لاړو.

زرين انځور

يو بېنوا او يو غني*

د نوي مستۍ او رندانه شاعرۍ دوه څېرې

استاد عبدالرؤف بېنوا او عبدالغني خان د پښتو د معاصرو ادبياتو دوه نامتو شخصيتونه دي چي هر يوه ئې په خپل خپل ځای کي زموږ د نوي ادبي بهير په وده کي لازم نقش لرلی دئ.

نه غواړم چي د خپلو معاصرو ادبياتو دغه دوه څېرې پرتله او مقايسه کړم، ځکه له يوې خوا د شعر او تخليق د ډګر د نوميالیو له چوکاټي پرتلني سره مي نه ده جوړه، په دغه برخه کي هر يو د خپل منفرد انداز او ځانګړتياوو لرونکی دئ چي هر يو په خپله ځانګړې هنري تومنه، توان، افکار، چاپېريال او امکانات لري.

له بلي خوا تاسو خپله اټکل کولای شی چي د يو (بېنوا) او بل (غني) پرتلنه يا مقايسه هم چندان آسانه کار نه دئ، هغه حضرت عبدالرحمن بابا څه ښه ويلي:

نه شي د ملنګو او خانانو سره کلي
چيرته عزيزخان چيرته ملنګ عبدالرحمن

---

* څانګه مجله، لومړی ګڼه، ۴۹ - ۵۵ مخونه.

خو که له دغو خبرو راتېر شو حقیقت دا دئ چي استاد بېنوا او غني خان د پښتو په معاصرو ادبیاتو کي له نورو ټولو څخه یو بل ته ډېر نژدې دي.

استاد بېنوا ته د پښتونخوا په معاصرو شاعرانو کي غني خان ډېره غوره شاعر ښکاري له همدې امله ئې د اوسني لیکوال په ارزښتمن اثر کي تر نورو ټولو پښتنو لیکوالو او شاعرانو غني خان زیات مفصل معرفي کړی او د دغه اثر د دریم ټوک څلور څلوېښت مخه ئې ورته ځانګړي کړي چي د استاد بېنوا د یوې مستقلي رسالې حیثیت لرلی شي.

دغه راز تاسو ته به له هغو لیکونو او شعرونو څخه چي زه ئې وروسته تاسي ته وړاندي کوم پته ولګي چي غني، بېنوا ته د ځومره عظیم شاعر او لیکوال په سترګه ګوري، غني خان ته په خپل وخت کي د افغانستان په شاعرانو کي بېنوا تر ټولو غوره ښکاري.

بېنوا او غني سره همزولي یادېږي. بېنوا په ۱۹۱۳ع کال، په کندهار کي د علیزو په یوه علمي او روحاني کورنۍ کي وزېږېد[۱].

غني تري یو کال وروسته په ۱۹۱۴ع کال د هشنغر د اتمانزو د محمدزیو په یوه سیاسي کورنۍ کي زېږېدلی دئ[۲]. غني د پاچا خان

---

[۱] رشاد، عبدالشکور، د رابندرنات ټاګور ګیتانجلي، پښتو ژباړه، عبدالروف بېنوا، دوهم چاپ (سریزه)، کابل پوهنتون، د ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګه ۱۳۵۴ لمریز، (۸۲م).

[۲] بېنوا عبدالرؤف اوسني لیکوال، ۳ ټوک، کابل د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د پښتو دانکشاف او تقویې څانګه، سریزه، ۱۳۴۶ لمریز (۱۹۷۰م).

(عبدالغفار خان) زوی دئ چي د هند د لويي وچي د آزادي بخښونکي نهضت له پياوړو سرلارو او د پښتونخوا له نوميالیو سياسي شخصيتونو څخه وو، عبدالرؤف بېنوا د مفتي عبدالله (چي په مفتي عبده مشهور وو) زوی او د ملا عبدالحق (چي په کندهار کي ئې د خپل وخت استاد کل باله) لمسی دئ. د ده مشر ورور او استاد د افغانستان مشهور علامه مولانا عبدالکريم حقاني وو.

پاچا خان غوښتل چي غني پوخ اسلامي عالم شي او ځکه ئې د اتمانزو په آزاد ښوونځي کي عربي ژبه او اسلامي علوم پرې ولوستل، خو قدرت ته به دا منظوره نه وه، چي هغه لوی اسلامي عالم شي. غني نوري زده کړي په لندن، امريکا او هند کي وکړې. د بورې په فابريکه کي انجنير شو، خو دومره انجنير نه شو لکه انځورګر او شاعر.

بېنوا هم عربي ژبه او اسلامي علوم ولوستل، خو د لوی اسلامي عالم پر ځای د پښتو لوی شاعر او ليکوال شو.

بېنوا په افغانستان کي د معاصرو سياسي نهضتونو په اړه د مطالعې وړ دئ. هغه د وخت د سياسي نهضت (ويښ زلميانو) له مخکښو څخه وو. غني هم د هند په لويه نيمه وچه او پښتونخوا کي له سياسي هلوځلو سره راآلوی شو. د ده په نوښت د خدايي خدمتګار تر څنګ د (زلمي پښتون) په نوم يو نهضت جوړ شو چي ډېر ځوانان پکي د سياسي او وسله والي مبارزې له پاره راغونډ شول. غني زندانونه هم ګاللي او بېنوا (له ښه بخته) بندي شوی نه دئ. غني د هند د مرکزي پارلمان غړی وو او بېنوا هم يو وخت د افغانستان د پارلمان غړی

(وکیل) وو.

بېنوا لوړه دنګه او سره سپینه ښکلې څواني لرله او غني هم د زلمیتوب د ښایست یوه نمونه وه، دواړو د ځوانۍ ډېر مست بې باکه او رندانه دورانونه تېر کړي دي.

غني د هند د لوی بنګالي شاعر او فیلسوف رابندرنات ټاګور د شانتي نیکتین (او ویشوابهارتي پوهنتون) له شاګردانو څخه وو. د جواهر لال نهرو په توصیه غني له اندراګاندي سره یو ځای هلته زده کړې وکړې او په دې توګه غني د ټاګور له محضره هم مستفید شوی دئ. بېنوا هم د ټاګور له آثارو او اشعارو سره آشنا او د هغه مینه وال وو. د ټاګور ګیتانجلي په ۱۹۱۳ع کال کې په سویډن کې د نوبل جایزه وګټله او په همدغه کال بېنوا په کندهار کې زېږېدلی دئ، بېنوا له ګیتانجلي سره خاصه مینه لرله او په انیس کې له جلا جلا خپرېدلو وروسته ئې د ټاګور له مړیني اوولس کاله وروسته په پښتو ژبه د یوه مستقل اثر په توګه چاپ کړ. دا په پښتو ژبه د ټاګور لومړنی مستقل ژباړل شوی چاپ شوی اثر هم دئ[1].

غني د هشنغر له مشهورو خانانو او مځکه والو څخه دئ، خو د دومره دبدبې تر څنګ هم عجب د ملنګۍ خصوصیات لري.

بېنوا که په یوه روحاني کورنۍ کې رالوی شوی خو د مدیریت، ریاست او وزارت ډېرو لوړو مقاماتو ته رسېدلی، خو د یو ډول درویشۍ او بې پروا ملنګۍ خصوصیات پکې وه، د استاد رشاد په قول:

---

[1] نوابي، غ. حبیب د ټاګور ګیتانجلي، د بېنوا ژباړه، لومړی چاپ، کابل، د پښتون ږغ اداره، ۱۳۳۶ المریز (۸۸م).

"د ده د بېنوايي مصداق يوازي دا نه دئ چي د دنيا له مال و مناله څخه ئې په دې ټولو قدرتونو کي نه دي ټول کړي او له وزارته چي ايسته سو، دريمه مياشت ئې د کور ټوري خرڅول، بلکي د ده د بېنوايي زيات صداقت په دې کي دئ، چي د ماموريت په دغو ټولو دورو کي ئې له خپلو دوستانو سره رويې او صميمت هيڅ فرق ونه کړ او بېنوا د دوستانو په منځ کي هغه وو چي وو..."[1].

د راډيو افغانستان او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت زياتره کارکوونکي په دې خبر وه چي استاد بېنوا د رياست او وزارت په مقامونو کي هم داسي د ملنګۍ خصوصيات لرل، چي د خپلي راتلونکي مياشتي تنخوا به ئې هم په يارانو خوړلې وه او تل به د تحويلدار او خزانه دار پوروړی وو.[2].

په بېنوا کي د شاعر تومنه تر هر څه زياته وه، خو د دې په څنګ کي هغه د نثر ډېر ښه ليکونکی، ژباړونکی او مؤرخ هم وو. د افغانستان په علمي او ادبي حلقو کي د هغه وخت تقاضا او عمومي تمايل داسي وو چي د يو ايجادګر شاعر په توګه د بېنوا له ځلېدا څخه ډېره پاملرنه د علمي او تحقيقي آثارو اړخ ته وه، خو غني خان يوازي د يو شاعر په توګه وځلېد، که په انګرېزي ژبه د (پټانز) له ليکني څخه تېر شو، نورنو غني د شاعر په عنوان زيات متبارز دئ. دغه راز غني خان د لېوني فلسفي په نوم د هغه وخت په (پښتون) مجله کي ګډي وډي هم ليکلې چي زيات

---

[1] رشاد د ګيتانجلي سريزه (۸۸م).

[2] د ښاغلي شاعر او محترم دوست نصرالله حافظ په قول.

علاقه مندان ئې لرل. د اروابناد ماسټر کريم خبره:

"ګړوډي د پښتون اخبار ټول ډول سينګار وو"(۱).

په دغو ټرونو کي سياسي او ټولنيز مسايل هم د طنز په بڼه بيانېدل. د استاد بېنوا ټرونه که څه هم جدي ادبي ټرونه دي خو (د زړه خواله) نومې مجموعه ئې د ځينو سياسي او ټولنيزو مسايلو په باب کله کله د طنز مالګه هم ملګرې کړې او دغه راز د (برګ سبز) په نوم په دري ژبه د طنزي ليکنو يوه مجموعه لري(۲).

خو که د معاصرو ادبياتو د دغو دوو نامتو څېرو له دغه ډول توپيرونو او يا ورته والي څخه راتېر شو اصلي خبره د دغو دواړو شاعرانو په ايجاد کي ده.

بېنوا او غني دواړه د خپل وخت نوښتګر شاعران دي. دواړه خپلي خبري لري، دواړه نوي خبري کوي او دواړه زړې لاري پرېږدي او يا ډېر لږ پرزړو لارو ځي. استاد الفت د استاد بېنوا په باب وايي:

"زه د ښاغلي بېنوا شاعري د ده په نورو کمالونو غوره ګڼم، او په دې باب کي ورته په ډېر حق قايل يم..."(۳).

همدغه استاد الفت د غني د شاعرۍ په باب ليکي:

---

(۱) عبدالکريم ماسټر، د عبدالغني خان د پنجرې چغار (سريزه) پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۵۶ (الف م).

(۲) رشاد د ګيتانجلي سريزه (۱۰۲ م).

(۳) الفت، ګل پاچا، پرېشانه افکار، د بېنوا د شعرونو مجموعه، سريزه، کابل - پښتو ټولنه، ۱۳۳۵ المريز (ب م).

"د غني خان په اشعارو کي چي څه شي زما خوښېږي هغه د فکر و خيال آزادي او د تقليد له تلقيناتو څخه سرکښي ده. د ده رندانه مقام ته هر څوک نه شي رسېدلی"(1). او د ماسټر عبدالکريم وينا ده:

"غني نه چا پسي تللی شي او نه به لار شي، ځکه چي غني شاعر دئ او تقليد د شاعر مرګ او بغاوت د هغه ژوندون دئ"(2).

دغه شاعرانه بغاوت د بېنوا او غني دواړو په شعرونو کي ځان څرګندوي، د غني په شاعرۍ کي يو څه زيات او د بېنوا په شاعرۍ کي يو څه کم. زه فکر کوم چي د استاد بېنوا د مستي او رندانه شاعرۍ ډېري ښکلي نمونې به د (د حالاتو د تقاضا) له مخي نه وي چاپ شوي او ګوره چي بيا به تر لاسه شي او که نه؟

د بېنوا او غني د مستي، رندانه او باغي شاعرۍ ګڼي نمونې داسي دي چي په خپل وخت کي ئې د پښتو شاعرۍ نوي فصلونه ګڼلی شو. د دغه ډول شاعرۍ څو نمونې لولو، لومړی د بېنوا په شاعرۍ کي:

مسته وينه د مست تاک را
دې بې واکه زړه ته واک را
د نانک روی مي در وړی
زاره مې په ذې ويساک را(3)

---

(1) الفت، ګل پاچا، د عبدالغني خان پلوشې (سريزه)، کابل - پښتو ټولنه، ۱۳۳۹ المريز (الف م).

(2) د پنجرې چغار د ماسټر عبدالکريم سريزه (ع. م).

(3) بېنوا، عبدالرؤف د هسک پېغله، تدوين او سريزه د افضل ټکور، کابل، د افغانستان د ليکوالو انجمن، ۱۳۶۷ اش (٦ م).

د اوبو پر غاړه کښېنه شراب نوشه
په صحت د زړه د غم دي شراب نوشه
د ریا له زهده زړه په میو مینځه
لیري ګرځه له مکاره خرقه پوشه[1]

یا دا چې:

بیره وره ساقي راشه
د شرابو عطر پاشه
ګوره ورځې د ویساک دي
زړونه ټول له خیرو پاک دي
د نانک روی مې دروړی
له خماره مې روح ستړی
ستا تر سپیني بیري جار سم
صدقه ئې تر هر تار سم
د هر جام په شمېریو جام را
نشه مسته د خیام را
په ګرنت دي ستا قسم وي
چې هر جام دي جام د جم وي
نور ځنډ کفر دئ تلوار کړه

(1)

ایمانه [illegible]

یرغل کړ په خرابات کړه

د کرم د خم سر مات کړه

چي د تاک لور لوڅه پاڅي

د رندانو مخ کي ناڅي

په لیدو ئې مستانه سو

په خوندو ئې فرزانه سو

بیا له سره راز لمیان سو

د ښاغلي تاک زومان سو

تیاره زړونه بیا روښا سي

دین دنیا و ته موښا سي

د رام رام پر ځای شام وایو

په مستی کي دي جام ستایو

د غم مرګ د زړه همدم سي

لږ د پر غم له زړونو کم سي (۱)

او یا دا چي:

ساقي بیا محفل کړه نوی

په جام ونمانځه هر ژوی

په لمبو د میني سوی
په نارو لکه ککوی

نور جامونه غواړم
په دې جام کې څه صهبا نسته
زما په چا پروا نسته
هوښیاری له کوره لېږده
دا زړې سندري پرېږده
بیا پر بل تار ګوتې کښېږده
نغمې وایه سره رېږده
زما په چا پروا نسته...[1]


د ول ول پېکي ځنځیر ورلره بویه
د رامبېل رامبېل ګلونه لېوني سول
د آزاد سمند رغبرګ غوارې چې رام سي
د ځوانۍ د جوش فکرونه توپاني سول
چې په یو غرپ به ئې سل درې زهلې
اوس په خپله ئې جامونه سل مني سول[2]

---

[1] بېنوا، پرېشانه افکار - ۵ مخ.
[2] بېنوا، د هسک پېغله، ۵۱ - ۵۲ مخونه.

او د غني د شاعرۍ د سمندر د مستانه او رندانه څپو يوه لنډه ننداره به هم وکړو:

ستا اووه واړه جنته
د دې يو د ناز بخرى
ستا ځلو ښت زره کتابه
د دې دوه خوږې خبري
ستا وعدې اوږدې د حورو
دلته سرې شونډې شکري
تا له قرض ژوند ون درکړم
دا راکيږي پرې مرغلري
ماشوم نه يم چي جنت پرېږدم
ستا د سور دوزخ دېرې
جانانه ميخانه ورکړم
واخلم ستا کندي کپري
ملا تا ځکلي نه دي
نرۍ سرې شونډې کافري
ستا په غېږ کي ناستي نه دي
د کالو د کي کمتري
د جومات په چارچوبي کي
يادوه پردۍ تور سري
راشه راشه لېوني له



جام او چت که مسلمان شه
د رندانو په مذهب شه
جنتي په دې جهان شه[1]

دغه رنګ غني وايي:

يا به جنت وي يا به دوزخ وي
او که وي دواړه نو ته رحمن يې؟
نه شم زغملی، نه شم زغملی
چې ته جلاد يې او هم جانان يې

يا:

بيا سپرلی راغی بيا ئې پيغام راوړ
د رنګونو، ګلو او رڼا
شو ساقي مسکی ډک جام ئې راوړ
د مستي ځوانۍ او خندا
يو سبا راغی، يوه شپه لاړه
د تېرو، يرېدو او آرمان
يو زېړی ګل مي مابنام وليده
سلامونه ئې کول د جانان
دا د ماغ زما چري نه مني

[1] عبدالغني خان، د پنجرې چغار ۱۵۱ – ۱۵۲ مخونه.

چي د کل خالق به سقر کړي جوړ
څنګه خوري به ئې زما کړيکي لګي
چا چي ما له نرګس او دلبر کړل جوړ
دا شينکی چمن دا ګلونه سره
دا مست مست شاني مستانه مابنام
دا ثبوت د ساقي د ميني دئ
دا د سرو شرابو بړپوره جام
چي تر څو ئې نظاره د رنګ
د غور څنګ د مستی انسان کي وي
تر هغې به دا زه ونه منم
چي اورونه به هغې جهان کي وي
زه جوړ کړی نه يم سزا له يار
زه يې کور کړی يارانې له يم
ما نه مينه خندا او مستي غواړي
که جومات که بتخانې کي يم[1]

او که د غني او بېنوا د ژوند يو جاج واخلو، د هغوی د ژوند علمي اړخونه هم دغسې له مستانه او رندانه ښېبو څخه جوړ شوي دي. د ژوند په دغو مستانه او بې باکه اړخونو کي دوی يو بل ته ډېر سره نژدې دي. اوس به دا وګورو چي د بېنوا او غني اړيکي څنګه وې؟ تر کومه

(۱) همدغه اثر: ۸۱ ـ ۸۳ مخونه.

ځایه چي ما ته معلومه ده، غني د افغانستان په ادبیاتو کي تر ټولو زیات استاد بېنوا ته اخلاص او ورسره اړیکي لري او دغسي هم بېنوا د پښتونخوا په شاعرانو کي تر ټولو زیات اعتقاد غني ته لري. خپله استاد بېنوا د غني په باب ډېري لیکني لري، خو دغي یوې لنډي برخي ته ئې پاملرنه کوو: "... هغه وخت ټوک پوهېده چي دا ماشوم به یوه ورځ د پښتو ادب هغه غني او مستعد دماغ سي چي د سپېڅلي طبیعت له الهامه، د حقیقي انسانیت له نوره، د سرمست احساس له جامه، د رندۍ او شوخۍ له خمه، د لېونۍ میني له سوز او سازه او د ژوند د ژوري فلسفې له تله به پښتني ادب ته داسي نوې ځلا او نوي رنګیني، نوی روح او نوی خوند وبخښي چي پښتو زوړ ادب ورسره اشنا وو ..."[1].

او عبدالغني خان په خپل هغه لیک کي چي استاد بېنوا ته ئې لیکلی دئ، د خپل شاعر زړه راز یوازي له بېنوا سره شریکوي، دغه لیک غني بېنوا ته هغه وخت لیکلی وو چي استاد په قاهره کي د افغانستان مطبوعاتي مستشار وو. دغه لیک به ولولو:

"ګرانه بېنوا! ښه چاري. نن مي ستا پرېشانه افکار په دریم ځل خلاص کړل. نو دا لاندي شعر مي درته لیکلی دئ، هغه خو درلېږم خو د شاعرۍ متعلق هم یو دوه خبري لیکل غواړم. چونکه الفت ملا لیکلي دي چي ته په انګرېزي پوهېږې او شاید زما هشنغري پښتو تا ته ګرانه معلومېږي، نو دا خط به درته انګرېزي کي ولیکم چي پکي د بعضي

---

[1] بېنوا، اوسني لیکوال، دریم ټوک (۹۶۹م).

قسمه فکرونه ظاهرول اسان دي:

څه وخت چي ما د خپلو شعرونو مجموعه د خپرولو له پاره کابل ته ولېږله، نو ما صافي ته په خصوصي توګه ویلي چي ستا په لاس دي د هغو شعرونو د کتاب سریزه ولیکل شي. ما د ملنګ جان د مړیني په مناسبت ستا خبري اورېدلي دي. که ته د خپلي هغي وینا یو نقل لرې، نو زه به د هغې په تر لاسه کولو ډېر خوشحاله شم.

ستا شاعري زما ډېره خوښه ده، خو په شعروشاعرۍ کي دي چي هر چا ته له خپله ځانه د الفت غوندي ملا جوړ کړی دئ، نو هغه رنګ مي دي بیا نه خوښېږي. زما خیال دئ چي په شعر کي د یو شاعر مرام او هدف له مبلغ او ملا څخه بېخي جلا او بل شان دئ او دا ځکه چي انسان په اساسي او بنیادي توګه یو ځناور دئ. هغه خوراک، څښاک، جنسي اړتیاوو او استراحت ته ضرورت لري او نور هیڅ ته نه، دا زموږ شاعرانو وظیفه ده چي د انسان پاملرنه د هغه د ژوند او هستۍ لوړو مرکزونو ته وګرځوو چي هغه ممکنه ده د خپل تکامل انعکاس ووینې او د خپلي ابدي معشوقې د ښکلا دیدن وکړي. زما خیال دئ چي یو شاعر باید د فکر او خیال، قول او عمل په ډګر کي د ښایست عبادت وکړي او انسان دې ته مجبور کړي چي هغه د خپلو خواهشاتو له ګنده ګیو څخه مخ عدن خوا ته واړوي. دا کار په پند او نصیحت نه شي کېدای، زما هغه خلک بد ایسي چي ما ته نصیحتونه کوي. که چري موږ د زړه له کومي د ښکلا او ښایست ستاینه راواخلو نو په دې ډول به موږ د عامو خلکو په زړونو کي د ښایست د قدردانۍ له پاره ځای راپیدا کړای شو. تر کومه چي په ژوند

... دي چې موږ ته د
ښکلا د تخليق له پاره د هغې قيمت ادا کول لازم دي. هر يو هنرمند د غه بوګنوونکي قيمت ادا کوي او په دوی کې يو څو کسان خوش بخته وي چې د ښکلا او دلربايۍ يو څاڅکی راپيدا کړي. د هغه ښکلا او دلربايۍ د رامنځته کېدو له پاره ته بايد چې د ژوند درد و غم ته ورمخامخ شې.

ډېره ډېره مننه ستا مخلص غني"[1].

او له همدغه ليک سره ئې دغه شعر بېنوا ته رالېږلی دئ:

بېنوا په هشنغر کې ستا يو ورور دلته اوسېږي
ببر سری، پټې سترګې پټ پټ شونډو کې مسېږي
ستا قلم چې نولي او ښکي، د هغه سترګې ډکېږي
تا چې خپل درد په ژړا کړي هغه دلته وژړېږي
دلته ناست په هشنغر کې ستا يو يار دئ په رشتيا
په خانانو کې يو خان خو ستا په شان دئ بېنوا

خلک وايي لېونی دئ عجيبه کوي کارونه
سره او سپين د ځانه ولي، چيرته ګوري زېړ ګلونه
د شرابو جام په لاس کې، اوږده وايي حديثونه
کله غواړي په سجدو کې د الله نه شرابونه
ټول بې توله ښان تلل کړي د مرګي او د دنيا
ويي که سترګې د مرګ نه وي، ژوند به نه و ليدلی چا

[1] همدغه اثر: ۱۰۰۵–۱۰۰۶ مخونه.

ستا په شان د ده زړګی هم د هر خوار سره خوږېږي
په وجود ئې څر من نشته په بخري اور سوزېږي
زړه ئې ډک د میو جام دئ که لږ رقي نو تویېږي
ته به وې وینه ئې اور ده، په لږ اور سره لمبه کېږي
ستا هر تڼګ سره هنګ وکي یو سیتار دئ بې بها
ته د نوي کندهاریې دی د زوړ دئ باشندا

ستا د هر سُر سره رېي یو شاتار ستا د رباب دئ
نیم هوښیار نیم لېونی دئ یو زوړ شوی شان ګلاب دئ
ازغي ډېر ښیست ئې کم شو وایي داسي انقلاب دئ
ویې زه توپان یم سمندر یم، په دې څه کي ژوند حباب دئ
"زما خاوره کي ډېر نور شته تشه نه لري دا سا
زه غرور رنګ او سروریم سره رنګینه په ژړا

ته چي کم رنګ کي غوپه شې دی هم هغه رنګ کي رنګ شي
چي ته مست په اتڼ ورشې دی ګنګرو شي په شرنګ شرنګ شي
چي ته غم فریاد شروع کړې دی بې خوده لکه بنګ شي
چي ته توره کړې راپورته دی یو سر نرتوب په جنګ شي
بل د ده په شان به کم ځای ځان له وروړ کړي راپیدا
یارانې له داسي یار، داسي بل د زړه اشنا

ستا په خوا کي چي کوم نور دئ ما کي هم هغه ځليږي
ستا د زړه چينه د رحم دلته رود دئ چي بهيږي
ته چي وينې کوم خوبونه، زما سترګو کي غړيږي
ته چي زانګې په کوم تال په هغې غني زنګيږي
بېنوا په هشنغر کي ستا يو ورور دلته اوسيږي
بېر سري پټې سترګي ځانته خاندي او ژړيږي

کله تنګ کله تکور شي کله ساز کله ژړا
ګډه ودې کي لړلې غيرتونو فلسفه
ډېر څېزونه رب ورکړي چي ښادېږي پې دنيا
چي څه غواړې هغه نشته، ستا په شان دئ بېنوا[1]

ارواښاد استاد عبدالرؤف بېنوا او غني خان زموږ د معاصر ادبي تاريخ دوه ډېر زرين، مست او د پاملرني وړ څېرکي دي. په دوی دواړو کي د غنا او استغنا او دغه راز د بېنوايی، درويشی او مستي ملنګی اړخونه شته دي. که يو غني بېنوا دئ، نو بل بېنوا غني دئ.

---

[1] همدغه اثر: ۱۰۰۷–۱۰۰۸ مخونه.

پوهنوال محمد رسول باوري

د بېنوا تاريخي ليدلوري ته يوه لنډه کتنه

د نونسمي پېړۍ په لومړيو کلونو کي د مؤرخينو تر منځ دوو محوري طرحو پراختيا وموندله، چي په حقيقت کي دا د مؤرخينو تر منځ د دوو سترو فکري جريانونو تمثيل وو. يو شمير مؤرخين په دې عقيده دي چي بشري تمدن واحده منشا لري او د يوې لرغوني مدني حوزې څخه را پيل سوی دئ. اليوت سميت (Elio Smith) ګوردن چايلد (Gorden Cahild) تاينبې (Arnold Tainbe) او مورګان (Morgan) د همدې فکري لوري په سرسر کي پېژندل سويدي.

د خپرېدني يا (Diffiusion) يو نامتو پلوی ګوردن چايلد د دې نظريې ملاتړ تر هغه بريده وکړ، چي هغه ئې د نړۍ پر تاريخي افکارو تر لسګونو کالو پوري واکمنه او بريالۍ وګڼلول. نوموړي د مصر، بين النهرين او سند مدنيتونه تر څېړني لاندي ونيول او د دې مدنيتونو تر منځ ئې ورته او مشابه ټکي رابرسېره کړل او په نتيجه کي ئې د ټولو مدنيتونو منشاء د مصر څخه را پيل سوې اعلان کړه. چايلد د خپل نامتو اثر (سير تاريخ) تر عنوان لاندي خپله رايه برملا کړېده، او په خاصه

توګه (د ښار او ښتون) تر سر لیک لاندي ئې د دې نظریې د پوره ثبوت هڅه کړېده. په دې ترتیب د چایلد او د هغه د نورو ملګرو نظریه چې د تاریخ د یوه مهم فکتور (مکان) په اړه مطرح وه تر زیاتو زمانو پوري ئې خپل حاکمیت وساتی.

پخوا تر دې چې د (خپرېدني) تر نوم لاندي یوه ټاکلې تاریخي تیوري تدوین سي، په ختیځ کي زیات شمېر مؤرخینو او لیکوالانو د مذهبي تمایلاتو تر اغېزې لاندي په یوه یا بل ډول د همدې تیوری (خپرېدني) په محدوده کي عملي ګامونه پورته کړېدي. دا حقیقت د اسلامي نړۍ د پراختیا پر مهال او یا په بله وینا په منځنیو پېړیو کي پوره جوت دئ. د هغه مهال په زیاتو اثارو کي د یوې واحدي منشاء څرک سته، خاصتاً په پخواني افغانستان کي زیات شمېر مؤرخینو د خپلو لیکل سویو تاریخونو لومړنی فصل د انبیاوو علیهم السلام څخه را پیل کړی دئ. چي د بېلګي په توګه اخبار الطوال (دینوري)، زین الاخبار (عبدالحی ګردیزي)، تاریخ ګزیده (احمدالله مستوفي)، تاریخ مرصع (افضل خان ختک)، روضة الصفا (میرخواند)، تاریخ طبري (جریر طبري)، تاریخ ګلستانه (احمد ګلستانه)، تاریخ فرشته، مطالع النوار او یو زیات شمېر نور د همدې ډول اثارو څخه شمېرلای سو، چي د واحدي منشاء مانا ځني اخستل کېدای سي.

د مؤرخینو دوهمه ډله هغه شمېر پوهان دي چي د چاپېریال پر اصالت او د محیطي امکاناتو په رول متکي نظریه ئې خپله کړېده. د دوی په نظر د مدنیتونو منشاء یوه نه ده او د نړۍ مدنیتونو د یوه مدنیت

ځخه انکشاف نه دئ کړی، بلکي د هري سيمي د چاپېريال مطابق او د هغې سيمي د محيطي امکاناتو په محدوده کي ځانګړی مدنيت منځ ته راغلی او وده ئې کړېده. خو دا شمېر پوهان د مدنيتونو د خپلواک ايجاد تر څنګ د مدنيتونو تر منځ اړيکي هم ارزښتمني ګڼي جوليان استوارد (Julian Ostward) مېرمن بوسر اپ (Ms. Buser Aupe) کاسمينسکي (Kazminisky) او يو شمېر نور د دې نظريې د مخکښانو ځخه شمېرل کېږي.

- جوليان استوارد په خپل يو اثر کي چي د (فرهنګي بدلون پروسه) تر سرليک لاندي خپور سوی دی، په دې اړوند ليکي: د خپرېدني پلويان د ټولنو پر مشابه او ورته ودي زور اچوي، په داسي حال کي چي د لومړيو مدنيتونو د پېژندلو معياري او معقوله لار د کلتوري اقليم (Cultural Ecology) ځخه ګټه اخيستل دي. يوازي د همدې روش او ميتود په خپلولو او کارولو د لومړنيو مدنيتونو د پيدايښت زمينې او د ودي لاري په رښتينې توګه پېژندلای او ترلاسه کولای سو. د دې ډلي يو بل نامتو پلوی کاسمينسکي دئ، چي په خپل يوه اثر کي (د ارنولد تاينبي پر فلسفه انتقاد) تر سرليک لاندي ئې خپور کړی دئ، ليکلي چي: لومړني مدنيتونه په بېلابېلو سيمو او بېلابېلو زمانو پوري اړه لري، هر مدنيت ځانګړي او ټاکلي مميزات لري چي د همدې خاصو مميزاتو د لرلو په وجه ويلای سو، دا مدنيت په خپلواک ډول منځ ته راغلی، وده ئې کړې او پېژندل سويدي. د دې نظريې پلويان د کلتوري، جغرافيايي او ايکالوژيکي تاثيراتو ارزښتمندۍ ته زياته پاملرنه کوي.

په ختیځ کې د دې نظریې د پلویانو شمېر زیات نه دئ، خو د کیفیت له مخې ئې وزن او ورتیا په لوړو پوړیو کې ښودل سوېده. البیروني او فردوسي او یو شمېر نور بې له دې چې د تاریخ لیکنې روش او ډول ته ئې پام اړولی وي، د تاریخي پېښو تصویرئې په یوه یا بل ډول داسې ترتیب کړی دئ چې افاده ئې د مدنیتونو پر خپلواکۍ متکې ده، خو د تاریخ لیکنې دا تیوري چې پخوانیو مدنیتونو د خپل چاپېر یال مطابق وده کړې، د منځنۍ اسیا په هیوادونو کې ډېر لږ پلویان درلودل. یوازې د شلمې پېړۍ په پیل کې یو شمېر مؤرخینو د مدنیتونو د خپلواک منځ ته راتللو او ودې کولو ته پام وکړ.

په افغانستان کې د دې ډلې مؤرخینو په سر کې علامه حبیبي او د تاریخ ټولنې دوه تنه نور مؤرخین خدای بخښلی استاد احمدعلي کهزاد او خدای بخښلی میر غلام محمد غبار ول. مرحوم بینوا د هغو اړیکو پر بنسټ چې د علامه حبیبي، استاد کهزاد سره ئې درلودې، زما په ګومان یو له بله اغېزمن سویدي. مرحوم بېنوا د خپل نامتو تاریخي اثر (هوتکیها) په سریزه کې دا په ډاګه کوي چې د هوتکیانو تاریخي اثر د لیکلو له پاره ئې د مرحوم استاد کهزاد هیله منلې او هغه هڅولی دئ.

مرحوم بېنوا د همدې مؤرخینو د نظریو په ملاتړ یو شمیر داسې تاریخي آثار او رسالې ولیکلې چې د مدنیتونو پر خپلواک پیدا ایښت ئې تکیه درلوده. د دې وینا د ثبوت له پاره د ویدي سرودونو هغه ژباړې ډېر ښه لاسوندونه دي چې د اریایي مدنیت او د افغانستان د لرغوني تاریخ د لا ښه پېژندلو له پاره ئې وړاندې کړېدي. په دې برخه کې د بېلګې په توګه

د یوې ژباړې یو پارګراف رایادوم: استاد بېنوا د یوه اریایي ویدي سرود د ژباړې په پیل کې لیکي: مېرمن اپلا د اریایي پېر خورا نامتو شاعره وه چې د هغې یو سرود دلته وړاندې کوو:

آکني ته خطاب!

"اې روحاني! د هغه (واکمن) له پاره لاس پورته کوه چې د غښتلو آسمانو په څېر د جنګ ولجې او ګټې راوړي او د میترا په شان وګړي سره یو کوي. د هغې خور سرود یا دعا چې مېلمستیا ئې تیاره کړې ده ستا لوري ته درګرزي، او تر لانده باد دمخه خپل ځان در رسوي او تا ته درځي... د غني خدای تاتوبی د ده دئ چې د ده په مرسته لکه د لمر وړانګي ټول شیان د عیب او فساد څخه خوندي کېږي...".

په دې متن کې د نورو هنري جوړښتونو تر څنګ هغه پټ ستروالی چې اریایي قومونو درلود په خورا ښه ډول وړاندې سوی دئ. په دې ترتیب د شک پرته ویلای سو چې مرحوم بېنوا د لرغوني افغانستان د مدنیتونو او په ځانګړې توګه ویدي مدنیتونو د تثبیت او تسجیل له پاره خورا بریالۍ هڅه کړېده او دا هڅه هغه وینا ثبوت ته رسوي چې استاد بېنوا په تاریخ لیکنه کې د مدنیتونو پر خپلواکي ودي باور درلود.

استاد بېنوا په تاریخي میتودلوژي کې د اسنادو پر بنسټ د تاریخي پېښو د تدوین او بیان خورا کلک پلوي دئ. د دې وینا د ثبوت له پاره بیا هم د مرحوم بېنوا د (هوتکیها) په نوم د نامتو تاریخي اثر د یوې پاڼې پر مطالبو تکیه کوو:

استاد بېنوا د هوتکي ها کتاب په شپږ اتيايم مخ کي د يوه نوم د ثبوت له پاره پر بېلا بېلو اخځونو حواله ورکړې او لوستونکي ئې په ابهام کي نه دي پرې ايښي، نوموړی ليکي:

"بسال ۱۱۳۳ هجری شاه محمود (بېجن سلطان لکزی) را در قندهار به نيابت گذاشت و خود برای رفع سؤتفاهميکه بين وی و ابداليان هرات به تحريک اغيار بميان امده بود بغرض مذاکره بسوی فراه حرکت کرد".

د همدې متن د توضيح له پاره په پاورقي کي استاد بېنوا داسي توضيح راوړې ده:

"در نام اين شخص اختلاف است. داستان ترکتازان هند، جهانکشای نادری و تاريخ سلطانی اورا به همين نام بيجن سلطان لکزی نوشته اند. و سلطان محمد علاوه ميکند که: چون طوايف بلوچ عازم تاراج کرمان بودند و اهالی کرمان التماس مقام محمودی نمودند لهذا محمود، بيجن لکزی را که ساکن فراه بود نائب قندهار مقرر کرد. خود عازم کرمان شد (ص: ۷۴ سلطانی ص: ۱۵۳ ترکتازان هند). ولی خورشيد جهان او را بيجن سلطان الکوزی می نويسد (ص: ۱۳۳) و قاضی عطاء الله اورا بنام بيرم خان ياد کرده است (ص: ٦٨ جلد اول د پښتنو تاريخ) و تاريخ ايران سر جان مالکم ص: ۲۰۱".

مرحوم بېنوا په تاريخ ليکنه کي يوه بله ځانګړنه په متن کي دريو واړو اخځليکونو ځخه ګټه اخستنه ده، بېنوا د ارجاعي، توضيحي او تکميلي اخځليکنو ځخه په خپلو ټولو تاريخي آثارو کي کرېده، خو په

هوتکیها کي دا میتود بالکل برملا دئ، که هره پاڼه یاده نه کړو دا خو په داډ ویلای سو، چي په اکثریت پاڼو کي دا دري ډوله اخځلیکني سته. د متن هر پارګراف ئې لوستونکي ته د لومړي لاس منبع ورښیي او په کومو حالاتو کي چي د توضح اړتیا لیدل سوېده، هغه مسئله ئې توضیح کړې او چي د یوې پېښي د بشپړتیا اړتیا ئې لیدلې ده بیا ئې پر هغه متن تکمیله هم کښلې ده، د دې ټولو زحمتونو ګالل ئې دا څرګندوي چي مرحوم بېنوا د تاریخ لیکني پر مهال خپل لوستونکي نه دي هېر کړي او د هغوی د ډاډ او باور له پاره ئې ټول هغه مالومات وړاندي کړي چي د موضوع سره ئې تړاو لیدل سوی دئ.

د مرحوم بېنوا تاریخي لیکني او په ځانګړې توګه د هوتکیانو تاریخ د تاریخي سبک له مخي تبییني تاریخ دئ. د دې سره – سره چي په ځینو موارد و که انتقادي یادښتونه هم لري چي د بېلګې په توګه د سرجان مالکم او سید جمالدین افغان هغه یادښت د نه منلو خبره کوي چي د شاه محمود د ناسکه ورور په اړه مطرح سوېده، او دا ډول څو نوري یادوني هم سته چي په انتقادي نظر مطرح سویدي خو د هوتکیانو تاریخ په ټولیزه توګه تبییني تاریخ دئ. د تبییني تاریخ سبک د زمان پر بنسټ د پېښو پرله پسې بیان دي. دا ممیزه د مرحوم بېنوا په هوتکیها نومي کتاب کي برملا ده.

پایله:

د دې لیکني څخه دري پایلي تر لاسه کولای سو:

۱. لومړی پایله دا چي: د مرحوم بېنوا تاریخي لیدلوری د هغو آثارو څخه چي لیکلي ئې دي خورا برملا دئ، هغه د مدنیتونو پر خپلواک زیږد باور درلود او په خپلو تاریخي لیکنو کي ئې خپل دا باور په ډاګه کړی دئ.

۲. دوهمه پایله: د مرحوم بېنوا د تاریخي لیکنو بنسټ تر ډېره بریده پر لومړي لاس منابعو ولاړ دئ او د پېښو د رښتینوالي له پاره ئې د بېلابېلو منابعو ګټه اخیستې ده او د اخځونو درې ګوني میتودونه ئې د پېښو د لا سپیناوي په نیت کارولي دي، چي په تاریخ لیکنه کي دې ډول میتود ته استنادی تاریخ لیکنه وایي.

۳. او دریمه پایله دا چي: د مرحوم بېنوا د تاریخ سبک د دې سره سره چي ځیني انتقادي ځیرني هم لري خو په ګڼلي ډول تبییني تاریخ دئ.

اخځونه:

۱. باوري، رسول: د تاریخ او مؤرخ په اړه لنډي څرګندوني. د مقالو ټولګه. سلام ټولنه - ۲۰۰۲.

۲. بېنوا، عبدالروف: هوتکیها - نشرات انجمن تاریخ، کابل - ۱۳۳۶.


۳. زرین کوب، عبدالحسین: تاریخ در ترازو، نشرات سپهر - تهران، ۱۳۵۴.

۴. ساپی، ضمیر: تاریخ چیست؟ پوهنتون کابل - ۱۳۵۴.
۵. شفا، شجاع الدین: مایه، بعد از هزار و چهار صد سال، نشرات زردشتیان - ۲۰۰۴.
۶. فروغ السادات، اخضري: تطابق عوامل انحطاط دول ابن خلدون، دانشگاه تهران - ۱۳۷۷.
۷. میر حسین شاه: تاریخ نویسی در شرق، پوهنتون کابل، پروگرام ماستري تاریخ - ۱۳۶۷.
۸. وارینگتن، مارني هیوز - مترجم: رضابدعی پنجاه متفکر کلیدی در زمینهٔ تاریخ - انتشارات امیر کبیر، تهران - ۱۳۸۶.

عبدالغفور لیوال

بېنوا درمانګر

او "د کلو رنځور" پښتو شعر*



زموږ د شعر د نوښت یو معمار او ارواښاد استاد بېنوا دئ، هغه له (پرېشانه افکارو) څخه پیل او د (هسک پېغله) ته ورسېد (چې د هغه ارواښاد له مړیني څو کاله وروسته خپور شو). استاد بېنوا د دغه کتاب په ځینو شعرونو کي د پښتو شعر هنري، نوي، تمثیلي او ښکلاییز پېر ته رسېدلی دئ، نورو ته ئې لاره پرانیستې او زوړ ئې نوی کړی دئ، په رښتیا سره چي څومره ستونزمن خو ویاړمن کار دئ د زړو نوي کول، ښکلي کول او آغلي کول.

استاد بېنوا (د کلو رنځور) په شعر کي د نوي هنري تمثیلي شعر بېلګه وړاندي کړه. که څه هم چي دا ډول هڅي د استاد پژواک او نورو له خوا پخوا هم شوي وې او بېلګه ئې (کلیمه داره روپۍ) ده خو دا هڅي دومره هنري ځواک نه لري او په هغه ډول چي بېنوا په خپل دې شعر کي هنریت ته پام کوي دوی ئې نه کوي. (کلیمه داره روپۍ) یوازي د روایت

* د وړېښمو تول، د پښتو شعر د اوسمهاله بهیر کره کتنه، ۱۳۸۱ اش کال، ۲۱ - ۲۶ مخونه.

او کيسې ارايه او تمثيل دئ هلته کلمات يوازې يوه مانا لري برسېرنه او منطقي مانا خو (د کلو رنځور) کې بيا هر څه بدل دي دلته سمبول شته، شعري پېچلي انځورونه اوړي را اوړي. اساطير پکې ځان ځرګندوي او کلمات هر يو له خپلې برسېرني مانا پرته د يوه کلي مفهوم يا د کومې ذهني ټولني استازيتوب کوي، هره کلمه کولای شي څو پېښې، شيونه، زماني او مکاني موقعيتونه تداعي کړي او په دې ډول ويلای شم چې د پښتو شعر په اوس مهالي بهير کې شاعرانه کلماتو خپل حق موندل له همدې شعر څخه پيل کړل.

په دغه شعر کې که څه هم د طنز شتوالی د شعر د منځپانګې له جديت څخه تر يوه حده ځواک اخلي خو بيا هم منځپانګه د ځينو ښکلو شاعرانه تصويرونو په مرسته خپله افقي ذهني لاره وهي.

په شعر کې د بربنډې او مخامخ طنزي ارائې له پاره ځای نشته. شعر جديت غواړي او هره کلمه چې د شاعر له خوا کارول کيږي ډېر درونه مسئوليت لري، شاعرانه کلمات خورا ګرانبيه او ارزښتمن دي او استاد بېنوا دې آرته هو مره پام نه دئ ساتلی.

د شعر روايتي جوړښت که څه هم تر يوه حده استاد داسې طنزيه ژبې کارولو ته مجبوروي خو همدا طنزي ارايه يو څه پوښلې هم کېدای شوه.

د دغه شعر د هنريت معراج د هغه په پيل کې دئ تر هغو چې شاعر اصلي روايت ته ننوزي خورا ضميمي دئ، هغه د يوه ځواکمن انځورګر په توګه د طبيعت يوه برخه په دومره کوډګره ژبه انځوروي:

ها خوا –دې خوا

غځېدلي هسک دنګ غرونه، ښکلوي د اسمان شونډي
پر سرو يې تکي سپيني د سپينو واورو، او
پټ په زړو کي ئې لعلونه
شنې تالې، شنې لمني وې د سرو غاټولو ډکي
پښې ئې روڼو چينو ورو ورو رمينځلې ځلېدلې...
-تر-
...هو د دې غرو په لمنو د ښتونو په بستر کي...
-پوري-

وګورئ دا انځورونه د هغوی د توکيو په شان مينځلي او ځلنده دي. ټوله منظره ښکلې ده په تېره بيا دا ځای چي شاعر چيني داسي راښيي چي د غرونو شنې لمني او د هغوی له غاټولو ډکي پښې ورو ورو مينځي، د پښتو شعر د اوس مهالي بهير لومړنی ښکلاييز او هنري پړک او تجربه که کټ مټ همدا نه وي نو په لومړي کتار کي خو ئې شمېرلی شو. تر دې انځور هستوني وروسته شاعر د خپل شعر روايتي برخي ته ننوزي، رنځور د شعر سمبوليک اتل دئ چي په يوه تراژيک چاپېريال کي ټوله کميډي بشپړوي. خان، ملک، دمګر او ميراث خور دا هر يو داسي سمبولونه دي چي د ټولني د سياسي ژوند له يوې يوې کتلې څخه استازيتوب کوي. (د کلو رنځور) د شعري (زه) په توګه سمبوليک ټولنيز (موڼ) جوړوي او په دې توګه د يوه خوار او لوږدلي ملت ښکارندوی دئ، چي ځان و ملک و دمګر و ميراث خور ئې پر اوږو سپاره دي. شاعر که څه هم له يوه برسېرن او مخامخ ټولنيز او ملي تعهد څخه

سترګي نه شي پټولی خو کمال ئې دلته دئ چي خپل همدا تعهد وچ په وچه نه ارایه کوي بلکي له هنري سینګار، شاعرانه انځورونو، سمبولونو او نښو څخه کار اخلي، ژبه ئې خوږه او ښکلې ده او د کلماتو بافت ئې نوی او ظریف دئ.

شاعر ورو ورو د خپل روایتي شعر زمینه تمثیلوي او لومړۍ داستاني غوټه هغه وخت ورغوړځوي چي د زلمیو ترانه د رنځور په غوږو کي انګازې کوي:

... د رنځور خوله ترل کېږي خو دې وخت کي
د درو له لیري منځه د زلمو پیغلو سندره
د رنځور غوږ ته رسېږي
"غلی شانته او ښتون دئ بدلوي د زمانې رنګ"

یوه او وړېسې بله غوټه بیا وروسته د غوټو پرانیستل او په دې توګه پایله، او داسي پایله چي تراژیدي په کومیډي بدلوي.

(دلته له تراژیدي او کومیډي څخه د دغو ویېونو لغوي او ادبي مانا مراد ده).

هوکې د شعر اتل کولای شي خپل برخلیک بدل کړي هغه له کانو سره سر جنګوي او له دېوانو سره جګړه کوي او بریالی کېږي همدا بریالیتوب د هغه اسطوره یي برخلیک کومیډي کوي.

شاعر د خپل شعر اتموسفیر د پر ښه کنټرولوي انځورونه په یوه لویه کړۍ کي سره راتاوېږي په مجموع کي انځور جوړوي.

د شعر ژبه خورا روانه او خوږه ده که څه هم په ځینو برخو کي له ټاکل

شوي وزن څخه وزي او سکته پیښیږي. سره له دې هم کلمات په مسئولیت انتخاب شوي او د لوستونکي ذهن نه ځوروي. البته ځیني برخي د شاعر په ځانګړي (کندهاري) لهجې پوري اړه لري چي بیا ئې په هغه حساب وزن جوړیږي.

(د کلو رنځور) د شعر جولیز (شکلي) جوړښت هم په هغه پیر کي دې شعر ته ځانګړتیا ببښي ځکه دا ښکاره ده چي هغه وخت په افغانستان کي د آزاد شعر او بې قافیې نظمونو تجربه لا د خاپوړو په عمر کي وه. خو د استاد بېنوا دا شعر د دغي تجربې د بلوغ زېرى له ځانه سره لري. (د هسک پېغله) په مجموعه کي د بې قافیې شعر همدا یوه بېلګه شته، چي کېدى شي شاعر په مجموع کي د خپلي شاعرۍ په اوږدو کي ځیني نوري نمونې هم ولري.

د استاد بېنوا قافیه وال شعر او په تېره بیا غزل او قصیده هم خپل نوښتونه لري خو د هغه فکري فوکس په ځینو لنډو څلوریزو او قطعو کي له ورایه ځان څرګندوي:

احساسات چي توفاني سي
د زړه کور کي اور پیدا سي
احساس عقل اوراوبه سي
څاڅکي او ښکه تري جلا سي

یا:

ژوند نشه د طبیعت ده
چي سرشار سي له مستیه

داسي کړه له غريبانو
هر غريب پر اوږه سپور که
ترآخره...

وګورئ سره له دې چي استاد بېنوا په نثر کي د ځواکمن قلم خاوند ليکوال وو او کولای ئې شول خپلي دغه ټولنيزي نظريې او نصيحتونه په ډېره اسانۍ په خواږه نثر کي ارايه کړي او ځان ته ئې د منظومو زحمت ور نه کړي او د دې پر ځای د (کلو رنځور) يا ځينو نورو هنري نمونو په شان شعري بېلګو په رامنځته کولو کي ځان وآزمايي.

استاد بېنوا هر کله چي غواړي هنري شعر ته مخه کړي د پوره ځواکمن لاس خاوند دئ، هغه ډېر ښه کولای سي د طبيعت ښکلا راوژباړي:

ښه روڼ پسرلی دئ غوټۍ سوه سپينه
د ميني ږغ ځي له هره ښه
پر څانګو زانګي ژړه خاچڼه
پر مشوک مروړي د وزر ښه
ترآخره...

استاد ښايي د اوس مهالي پښتو شاعرۍ له لومړنيو شاعرانو څخه وي چي له اشيا (څيزونو) سره خبري کوي:

د ول ول پيکي زنځير ورلره بويه
د رامبېل چامبېل ګلونه لېوني سول

له همدې امله ده چي هنري شعر هم د هغه له پېر څخه پيل کېږي،

بېنوا د هغه پول يوه برخه ده چي زوړ له نوي سره نښلوي، له هنره تر هنر
لار وهي او د نوي هنري شعر کښ ته مو رسوي هغه نوی هنر نسل روزي او
د لومړيو تجربو ګلورينه بېلګه ئې مخي ته ږدي او همدا تجربې دي چي د
پښتو هنري شعر نور ستوري پکي روزل کېږي او بالاخره زموږ شعر د
سيالانو سيال ګرځوي.

عبدالغفور لېوال

سېمبولیست بېنوا

په ادبیاتو او هنر کې سېمبول، ایماژ، اشاره او استعاري بیان یوازې له مستقیمې ارائیې څخه د تېښتې له پاره نه، بلکي د هنري ارزښتونو د ځلولو له پاره هم کارول کېږي. هغه مهال چې په لوېدیځ کې سېمبولیسم ډېر پلویان وموندل د دغه مکتب یو شمېر منتقدینو تور ولګاوه، چې سېمبولیسم د سانسور او ابهام په خوا روان دئ او د ادبیاتو او هنر تولنیز رسالت او تعهد تر پوښتنې لاندې راولي، خو ګڼو نورو ادیپوهانو، چې د ادبي آثارو په ښکلاییز او هنري قوت ټینګار کاوه له سېمبولیسم څخه په دفاع کې وویل، چې سېمبولونه په هنر او ادبیاتو کې د غیر مستقیمې ارائیې له لارې مینه وال لا ډېر تفکر ته را بولي او ستیتیک یا د ښکلا خوښوني ذوق ئې خړوبوي.

له سېمبولونو څخه سمه کار اخیستنه په ادبي اثر کې نوښت او د تمثیلي ځواک پیاوړتیا ته لاره هواروي، چې موږ به ئې یوه بیلګه یې شننه په همدې لیکنه کې د استاد بېنوا په یوه شعر کې وڅېړو، خو تر هغه مخکې راځئ د سېمبول د پېژندلو له پاره یو څه تم شو:

د سېمبول لغوي مانا ده نښه، ښکارندوی (مظهر)، نماد یا رمز او

په مانا کي د یوې انتزاعي مفکورې عیني او محسوسه ښوونه ده. په بله ژبه؛ سېمبول د شیانو د مادي هیئت او د هغو د فکري او انتزاعي ماهیت تر منځ داسي استدراکي پول دئ، چي د یوې ذهني پروسې په ترځ کي رامنځ ته کېږي.

کارل گوستاویونگ سېمبول داسې را پېژني:

"هغه څه چي موږ سېمبول بولو یوه اصطلاح یا نوم حتی یو تصویر، چي کېدای شي زموږ په ورځني ژوند کي د یوه مانوس شي ښکارندوی وي، خو له خپلي معمولي او ښکاره مانا څخه پرته یوه تلویحي ځانگړې مانا هم ولري. سېمبول د یوه مبهم، ناپېژندل شوي یا له موږ څخه د کوم پټ څه ننبه ده ... نو یوه کلمه یا شکل هغه مهال سېمبول گڼلای شو، چي له خپلي ښکاره او مخامخ مانا څخه پرته په یو بل څه هم دلایت وکړي، سېمبول ناخودآگاهي اړخونه لري، چي هیڅکله په دقیقه توگه تعریف شوی نه دئ.

(انسان او د هغه سېمبولونه، یونگ، د صارمي ژباړه، ۱۴ - ۲۲مخونه)

انسانانو له پخوا څخه په خپل ژوند، اساطیری متونو، هنر او ژبه کي سېمبولونه کارول، او د همدې له پاره گڼ سېمبولونه قراردادي بڼه لري، قراردادي سېمبولونه هغه دي، چې د یوې بشري ټولني تر منځ په سره ورته مانا و سره ومنل شي.

زموږ په ادبیاتو، فولکلور، باورونو او ورځنیو مفاهمو کي په سلگونو او زرگونو سېمبولونه کارول کېږي، له ډېر پخوا څخه لمر د رڼا،

ورځي او هيلو له پاره په سېمبوليکه مانا کارول شوي دئ او له ډېر پخوا څخه سپوږمۍ د ښځينه مخ د ښکلا له پاره په سېمبوليکه مانا راوړل شوې ده، خو تر قراردادي سېمبولونو ورهاخوا فردي ،ابتکاري او نوي سېمبولونه هم ډېر دي. په نړۍ کې د سېمبوليزم د مکتب د پياوړتيا يو لامل دا وو، چې ليکوالو، شاعرانو، د تياتر، نقاشۍ، مجسمه جوړونې، سينما او نورو هنرونو هنرمندانو د ځانګړو او نويو سېمبولو ايجاد او کارولو ته مخه وکړه.

د افغاني ادب په معاصره دوره کې د ناقراردادي، نويو او ابتکاري سېمبولونو کارول د شلمې پېړۍ له دوهمې نيمايي څخه را په دې خوا ډېر دود شول، چې په پښتو ادب کې ئې له سر لارو څخه يو ارواښاد استاد بېنوا دئ.

داستاد بېنوا په ګڼو شعرونو کې د نويو سمبولونو بېلګې موندلای شو، چې په شعوري توګه د پېژندل شوي (سېمبوليک) ارزښت له مخې کارول شوي دي، خو زه ئې په دې ليکنه کې هغه مشهور تمثيلي شعر رااخلم، چې د هماغه وخت او عصر په تاريخي بستر کې د يوه ګڼمانيز اثر په توګه د ډېري څېړنې او شننې وړ دئ. دا شعر (د کلو رنځور) نومېږي او داسي پيلېږي:

د کلو رنځور

ها خوا، دې خوا
غځېدلي هسک دنګ غرونه، ښکلوي د اسمان شونډې

پر سرو ئې تکي سپيني د سپينو واورو، او:
پټ په زړو کې ئې لعلونه
شنې تالې، شنې لمنې وي د سرو غاټولو ډکې
پښې ئې روښو چينو ورو ورو ورمينځلې ځليدلې
(په) نڅا ګډه د تنځرو کټکټ، او خندا د زرکو، وي سندري د بلبلو
خو په دې خيالي جنت کې خپه سوې انګازه هم خپرېدله، تيتېدله
په ژړانده، وير لړلي لړزېدلي اسوېلو ئې دا ويله،
ورو ورو ناځي؟!
ورو ورو خاندي؟!
هو، د دې غرو په لمنو د دښتونو په بستر کې،
(يو) ناروغ پروت، له کلو کلو راهيسې،
مړ لا نه وو، خو مړ ژواندی، پروت بې حاله او بې توانه
"خيرات خور" ئې ناست و سر ته،
"د مګر" وې ګونډې وهلې، د رنځور جيب ته ئې کتله ناست يې
پښو ته، او:
ژړ ژړ ئې خوځولې پنډې شونډې
"خان" ښې خوا ته وه وهلې، خپله ډډه ورته پروت يو غټ چلم وو
ناست "ملک" ئې و کيڼ لور ته، پوښتلې خېټور
د هغه ناروغي دوی ته وه، اختر
"خيرات خور" بېرې ته لاس کې وئې واهه دا هسې شخوند،
د خيرات فکرونه بويه د رنځور حال دئ بې خوند،

خان چلم کش کی خپل خوا ته، بیا تازه ئې کړله غاړه، وئې تهو خله سخت په زوره وئې ویله :

"دا چي ساه پکښي چلېږي دا هم ګوره برکت ستا د دعا دئ"

"دمګر غوڅه کړه لکۍ، د خان د ګپ تر چف چف وروسته

داسي د خپل ځان سو په ستاینه:

"ما هم پوخ دم پر "چو کړی"

"ملک" وغړومبېد په زوره وئې ویل:

"هو ملنګ بابا ! دا هم ستا د دم اثر دئ چي آرام پروت دئ بې واکه بې دوا

او بې غذا لا دی ژوندی پر دا دنیا

"خیرات خور تسپې شمېرلې وئې ویلې:

بیا هم بویه خیراتونه

دمګر ونوږل په زوره، وې چي:

"حق ده صدقه رد بلا"

خان ملک سول وارخطا خو «خان» سر وښوراوه

"ښه مو وویل مګر؟"

"خیرات خور" پر غړمبو هله

"نه غواړي اګر مګر دا هم تاسي خان یاست چي تړی د خیر ور،

"ملک" د "خان" ملاتړ سو خوله ئې پرېکړه په وینا،

تاسي ښه وایاست، خو ښایي چي د خان دا فکر وینه، څه چي پاته و رنځور ته موږ لا وخته دي څټلي، نور څه پاته نه دي ده ته، چي خیرات پرې وکوینه:

"دمګر" شاوخوا کړه چف بیا ئې داسې کړله پف
"ته بیا کړې څه عجایبې؟ که ئې څه نه درلودلی، مونږ ترې غوښته څه،
بیا پر ده څله چاپېروو؟!!"
"خان" په کټ کټ وخندله، "خیرات خور" ته ئې وویله
"و دي کړه پخه خبره ته وا څه به وي را پاته؟
"خیرات خور" کړه شمله شا ته وې کتل د غوجل خوا ته
وی ویل په خوشالي:
"هغه هغه ده غوا ګی، سي خیرات دې دا ګړی، چې بلا وې وتښتینه"
"ملک" وخښمېد: څه وایې؟
دا غوا زما په وښو پایي
بل د چا په مله تله نه ده
څوک یې زما څخه به بیایي
دا زما ده د چا نه ده"
دا وخت، له بې تابیه، رنځور لاس وغورځاونه، وښتې د "خان" له مخه
خان په خښم وغړومبله.
"اوه" په لاس کې لا توان سته؟ دا عجیبه رنځور مار دئ چي لاسونه
غورځوینه، زما په خیال چي رنځور نه دئ، هسي خوشي یو ټګمار دئ، ژر
ئې وتړئ لاسونه"
"دمګر" بیا چف چف شروع کی وې چې "بیا پیری پر راغی" ټوټکه
غواړي پیریان رایې غلل تر غاړې" شکرانی ورلره بویه"
خان پټکی له سره خلاص کی، ټینګ ئې وتړل لاسونه، د رنځور وچ

مړوندونه،
ودرېد رنځور له درده، رونې لړ کړې سترګي سرې.
جوړي د وينو سرې کاسي
"د مکر" وترهيدنه "فضل فضل" يې کړه ناري بيا ئې داسي کړې چغاري
"ټنيګوه يې خان کاکا، د رنځور سترګي پېريانې سوې
خيرات خور هم وارخطا سو
وې: "راوړي ئې کتاب کې، د پېريانو په دې باب کي
وتړۍ د رنځور سترګي، ويني توري بلاګاني
"ملک" وغړمبل چي:
"هو کې: په کتاب عمل ضرور دئ، د رنځور کاته بې باک دي
هوسايي ورلره بويه ويښول ئې خطرناک دي"
ټولو وويل په ګډه:
"وتړۍ د رنځور سترګي، باڼو ګان ئې لکه ژړګي
چي له شره په امان سو"
"خيرات خور" شمله کړه څېري، ټينګې وتړلې سترګي، د رنځور
رنځور بيا له ډېره درده پر هوښ راغی
"رانه څه غواړئ ظالمو!
لا مو زړونه ساړه نه دي؟
تاسي زما هر څه کړه غصب
لا نسونه ماړه نه دي؟
زما د مځکي سرې غلې، زما د باغ خوږې ميوې ټولي تاسي وخوړلې،

زه مو پرېښووم بې واکه، بې
اسرې،
لانور څه غواړئ له ما نه
دغه تش کاته مو هم لا پېرزونه دي ظالمانو
چې مې سترګې راتړئ ستمګرانو
"خيرات خور" په توبو ګډ سو وې: اخره زمانه ده توبې وباسئ يارانو!
د رنځور حال مو بتر سو پرتي وايي، ګډي وډي، په چټياتو خوشي سر سو
ما ويل چې خيرات وکئ، خو دا تاسي نه منله
رنځور بيا په زګېروي سر سو خوله ئې ورو، ورو پرانيستله:
"چټيات نه دي رښتيا وايم، زما لاس به وو تناکي زما پښې به پړسېدلي
په سترېيا به مې ګټلي زما د لاس او د پښتو ګټي، بيا به تاسي وڅټلې
تاسي هر څه خورئ خو نه خورئ زما رښتيا غم.
«مګر" لاس په خوله ورکښېښود په چف ئې کړه خوله وازه
دا خبرې شيطاني دي، بدشګون دئ بدشګون، اوس پېريان ئې راغلل
خولې ته
ژر ئې وتړئ دا خوله، چې فساد ترې ولاړېږي"
وتو خله ملک، خان، خيرات خور هم ورسره مل سو، ټولو وويل په ګډه:
"هو په کار نه دي رنځور ته ږغېدل ډېر
ژر ئې خوله ورټپوئ!"
د رنځور خوله تړل کېږي خو دې وخت کې
د ډرو له ليرې منځه د زلمو پېغلو سندره

د رنځور غوږ ته رسېږي
"غلي شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ"
سره وخوځېد رنځور بيا، خو بېوا که بيرته ولوېد
"خيرات خور په نارو سر سو؛
"خير، خير، دا څه زوږ دئ، ناآشنا غوندي ښکارېږي، د رنځور حالت ئې بد کا"
"د مګر" چف کړه بيا ئې ووې:
نوي نوي پيريانان دي، راوتلي له درو نه
بدهيبته ئې بږغونه، د رنځور حال به بتر کا ژړئې وتړئ غوږونه
د زلمو ناره نژدې سوه داسي شان اورېده کېږي!
"دړي وړي زوړ رباب دئ
زړو مطرب خانه خراب دئ
زوړ آهنګ د روح عذاب دئ
نوی ساز نوی آواز دئ
هم سو نوی د نغمې رنګ
غلی شانته او ښتون دئ
بدلوي د زماني رنګ
ملک وغړمبېد چي "دا بيا څوک مستان دي، ناخبره ناپوهان دي،
په دې پوه نه دي چي دلته بې له دې څلور قوتو بې له دې څلور طاقتو بل هيڅ واک نه منل کېږي نه ځايېږي"
خان بريتونه تاو را تاو کړل او په ډډ بږغ ئې وويله:

"مستان نه دي لېونيان دي پرېږدئ تاسي چي دوی راسي بيا به وګوري

يارانو،

چي سرونه ئې داسې وکوټل سي لکه سرونه د مارانو

په دې وخت کي ډله راغله د زلميانو ودرېدله د رنځور سر ته نږدې داسي

ئې وکړله پوښتنه ګروهېږنه

"دا رنځور دئ ستاسې مخکې که د لوبو ده نا ځکه ستاسي لاس کي؟"

خان ملک وقهرېدله له پوښتني د زلميانو په غضب ئې وپوښتله،

وئې ويله

تاسي څوک ياست؟ څه مو حق دئ، د رنځور په هکله هيڅوک نه پېژني

څوک"

خيرات خور کتاب پرانيست حکم ئې داسي کی بيان:

"چپ سئ چپ سئ، کشرانو حق دئ حق د مشرانو

دې کتاب کي دي راغلي ما په دې ستر ګو ليدلي

واک اختيار دئ د خانانو څه چي کړېنه ښه کوينه

يا د غټو ملکانو، نور حق څوک نه لرينه"

ملک وغړمبل له قصده

"زموږ توري ږيري په دې کار کي سولې سپيني خو تراوسه زموږ

مخ ته، داسي ونه درېدل څوک"

له کوم غاره ياست راوتي بيا په دې اټن کښېوتي

ځئ ځئ ځئ په خپله لاره زموږ رنځور موکئ بې واره

ناقراره سو تپېږي

زلمو ناره باندي کړه چي
د رنځور حال څا بد کړی؟
څا دې حال ته رسولی؟
لاس ئې بند سترګي ئې بندي خوله ئې بنده،
په غوږو کي ئې ټوکري،
د ده هر څه تاسي یووړه که څاروي
مځکي تغري
ده ګټل تاسي څټل دی بې واک پروت بې اسرې تاسي وکړلې چړچې،
دا کوم انسانیت دئ؟"
"دمګر" چف کړله کرار، تف ئې کړه د خولې نسوار
بیا ئې وکی دا ګفتار:
"مګر موږ انسانان نه یو چي را ښایست انسانیت؟"
زلمو وویل: "یاست خو انسانانو کي توپیر دئ
څوک بلا رنځور ته، څوک دوا رنځور ته
تاسي هغه انسانان یاست چي رنځور وو؟
هر څه هر څه ځني اخلی بیا ئې متې ورتړی
نه ئې پرېږدی چي څه ویني یا څه واوري، څه وایي
خو د خپل غرض د پاره، هر څه به کوی
دا نو څه انسانیت دئ؟"
خان په کټ کټ وخندله وئې ویله
که وارستاسي سي زلمیانو

څه به وکړي مغرورانو!
دا ئې ګز دا ئې میدان، دا رنځور انسان
زلمو وکتل یو بل ته، سم سوه ټوله و تکل ته
خان، ملک ئې کړه لیري "خیرات خور" جوړ شو و ځغل ته
"دمګر" پټ سو کودړی کي،
زلمو پرانیستلې سترګي د رنځور، هم لاسونه، هم غوږونه،
هم ئې خوله، بیا ئې پاڅوه رنځور،
له کټه په اوږو کي کړ اوچت
خان ورته حیران حیران کتل
وای زما خاني؟!
ملک بیا په حسرت، حسرت ویل:
وای زما ملکي؟!
خیرات خور رټ رټ ژړل!
وای زما خیرات؟!"
دمګر له خواشینی شین شین کیده:
"وای زما شکرانه؟!"
خو زلمو سر کړه هغه خپله ترانه
"غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ"

د دې شعر اصلي کرکټر (رنځور) یو ګنمانیز سېمبولیک شخصیت دئ. رنځور افغانستان دئ، رنځور زموږ ملت دئ، رنځور هغه ولس دئ، چي د تراژیدی او کومیډی تر منځ ژوند کوي او خان و ملک و دمګر و

میراثخور ئې پر رنځورو اوړو سپاره دي. د سېبمولیکو آثارو یوه ځانګړنه دا ده، چې له بېلا بېلو سېمبولونو څخه له هر عصر و زمان سره سم نوي نوي تعبیرونه ترې اخیستل کېدای شي. دا ضرور نه ده، چې خان و ملک دي د هماغه وخت خان و ملک وي، چې استاد بېنوا پېژندل. دا نومونه د هر زورور لپاره مناسب سېمبولونه دي. کېدای شي اوس هم د دې ملت اوړې نه وي سپکې او رنځور لا رنځور شوی وي. موږ اوس هم د دمګرو د تزویرونو په جال کې راګیر یو او لا هم یوه ځوان خوځون ته اړتیا لرو، چې را غږ کړي: "غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ".

استاد بېنوا دا شعر لسیزې پخوا لیکلی دئ، خو زموږ رنځور لا نه دئ رغېدلی، عجیبه ده چې رنځور لا هم له هماغه رنځه رنځېږي، د بې خبری له رنځه، استاد بېنوا د خپل رنځور سترګې، غوږونه، خوله او لاس تړلي بللي دي. یو چا ورتړلي دي، زورورو، مکارو، د تزویر او ریا خاوندانو، د دوستۍ په جامه کې دښمنانو، رنځور لا هم د زورور په یرغمل کې دئ. فقط یرغمل نیوونکي بدل شوي یرغمل نه دئ خلاص شوی، انقلابونه راغلل خو د ملک او خان پر ځای یو بل ډول زورور او بیا یو بل ډول، پردي او خپل هر چا رنځور لا پسي وتاړه، وئې زبېښه، وئې واهه، زخمي ئې کړ، خو رنځور خلاص نه شو. د عدالت، دیموکراسۍ، بشري حقونو، سمون، ویښتیا، روښانتیا او اوښتون غږ لا هم له لیرې درو څخه راځي، دا د نړیوال کېدو بهیر دئ، خو د زلمیو آزادي ښوونکو، شعوروركوونكو ډله لا هم نه ده رارسېدلې چې ووایي:

غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ

مونږ لا د خپل رنځور سترګي، غوږونه، خوله او لاسونه نه دي ور پرانيستي، ويښتيا، روښانتيا او اوښتون ته لا هم د آب حيات غوندي اړتيا شته.

استاد بېنوا د خپل شعر سېمبوليک جوړښت، تمثيلي زمينه او بستر داسي طرح کړي، چي هر سېمبول پکي په خپل هنري چاپېريال کي د بشپړ ذهني حرکت ځای لري. استاد بېنوا له يوه (ګل) څخه ګڼ اجزا را معرفي کوي او همدا ده د انتزاعي او عيني پديدو او مفاهيمو تر منځ د استدراکي پول جوړول.

استاد بېنوا که لومړنی نه وي نو الحق چي د پښتو معاصر شعر له لومړنيو سېمبوليستو شاعرانو څخه دئ. په تغزلي شعرونو کي د مجردو سېمبولونو کاروونکو ته په معاصر مفهوم سېمبوليست شاعران نه شو ويلی، سېمبوليست شاعران هغه دي چي په خپلو شعرونو کي يوه سېبموليکه پروسه د تصويرونو په مرسته داسي بشپړه کړي، چي لوستونکی د خپل فکر په مرسته د ټولو کلماتو او انځورونو تر شا پراته مفاهيم درک کړي او له دې استدارکي پروسې څخه ئې هنري تنده خړوبه شي.

د کلورنځور شعر همداسي يو شعر دئ، په ښکلې انځوريزه وينا پيل شوی دئ، بيا وروسته په غير مستقيمه بڼه د سېمبولونو معرفي ته راځو او بيا د شعر پېښې وينو.

استاد بېنوا په شعر کې د سېمبولونو د درک له پاره جالبې قرينې وړاندې کوي. د هسکو دنګو غرونو په لمن کي، چي په سر ئې سپيني

واوري دي او په زړه کې لعلونه، يو ناروغ پروت دئ، ناروغ افغان ولس يا افغان وطن دئ او د دې لپاره (د هسکو دنګو غرونو لمن) هم ښکلاييز او تصويری ارزښت دئ او هم د سېمبول د پېژندلو له پاره په زړه پوري زمينه.

له همدې ځايه بيا د شعر تر پايه ټول تصويرونه، پېښې، کلمات، د ورو انځورونو عمودي او افقي اوډون، کرکټرونه، اصطلاحات او ترکيبونه له خپلو لومړينو او ښکاره مفاهيمو څخه ورها خوا پټ خو ډېر په زړه پوري او منطقي نور مفاهيم هم څرګندوي او زيرک لوستونکی خبروي، چې رنځور څوک او په څه حال کې دئ، چا ير غمل کړی او د خلاصون لپاره ئې څه کول په کار دي؟ دا رنځور لا نه دئ خلاص خو له ليري درو څخه د زلمو او پېغلو غبرګ راځي، چې:

غلی شانته انقلاب دئ بدلوی د زمانې رنګ

زمونږ د دغه برياليي او استاد سېبموليست اروا دې ښاده وي.

ډاکټر داود جنبش

بېنوا د ورځپاڼه لیکونکي په توګه*

د بېنوا ورځپاڼه لیکنه لکه د ده شاعري زموږ د ویاړلي نېټه لیک د یوه ځانګړي پړاو بشپړ باب دئ. که هغه وګړو بېنوا د هیواد د ورځپاڼه لیکنې په بهیر کي ولټوو نو دا به په هینداره کي د هینداري پلټل وي. ده په ژورنالیزم کي هم د تقدیر ماتوني له لاري د مریدۍ په نفي کولو سره د پیرۍ مقام ته د هسکېدو تبلیغ کاوه.

هلته ئې د آز لور ستایلې او دلته ئې د ښځو له پښو نه د زولنو ماتولو بلنه کړې، هلته ئې د (غلی شانته انقلاب) د راخوځولو توغ اوچت کړی او دلته ئې په ذهنونو او عقیدو کي د انقلاب راوستلو لاري ښودلي، هلته د (ړیره ور ساقي) په نازولو بوخت شوی او دلته ئې د ریاکارو ړیرورو په سپکولو ژبه پرانستې ده، هلته ئې د چا په مینه د بډایۍ شکرانه کړې او دلته ئې د سیم او زر د بډایانو په بې خونده سرداري لعنت ویلی دئ.

بېنوا چي ثومره د خپلي زمانې قالب ماتوونکی شاعر او لیکوال

---

* ښکلا مجله، د ۱۳۸۱ ش کال دوهمه ګڼه، ۶ – ۷ مخونه.

پاتي شوی، هومره ئې د خپل هيواد د ژورناليزم په وده او هڅونه کي د لارښوونکي درجه درلودلې ده. د نورو معاصرو د نظريو له پلوه او ورته روښانفکرو په انډول د ده ښېګڼه او برلاسي په دې کي وه چي تل د ډله ييزه ارتباط د وسايلو لارښوونکی او يا لږ تر لږه عمده کارکوونکی پاتي شوی دئ. همدې لارښوونکي دريځ بېنوا ته د نوښتونو د پيلولو او ژورولو پراخ ډګر پرانيستی وو.

بېنوا پخه ژورناليستيکي زده کړه نه ده کړې، خو قلم ئې خدای د همدې کار له پاره هست کړی وو. ده د سياسي تفسير، سرمقالو، مقالو، کوچنيو بوختوونکو مطالبو او ځينو نورو ژورناليستيکي ژانرونو کارونه ډېر دقيق کړي دي.

د زلمي هيوادمل په ليکنه، د استاد خپرو شوو مقالو شمېر تر ۵۰۰ اوړي. د آثارو له چاڼ وروسته ئې دا پته ښه لګېږي چي د مقالې د ژانر ډېر پلوی وو. دغه جدي ژورناليستيکي ډول د هغه وخت د غوښتنو له مخي غوره او د کورنيو ناخوالو د رټني او د دولت د بهرني سياست د ارزښتونو د ننګي له پاره چي عمده برخه ئې د پښتونستان لانجه وه، کارول سوی دئ.

د استاد بېنوا ژورناليستيک فعاليت په دوو جلا اړخونو کي څېړلی شو:

يو لوری ورکوونکی او بل هستوونکی.

۱-لوری ورکوونکی فعاليت:

په دې برخه کي د بېنوا د ژورناليستيکي هڅو هغه لړی راځي، چي د

مدیریت، ریاست او وزارت په څوکیو کي د هغه له لارښوونکي ورتیا رازېږي. ده هم په مطبوعاتو او هم راډیو کي د نوي تخنیک، نوي نشراتي دوذ او د زمان له غوښتنو سره سم د نویو ژانرونو په رواجولو، ودي او پخولو کي هڅي پرله پسې جاري ساتلي دي. د بېنوا د دغو هڅو اوږد فهرست جوړېدلی شي خو دلته ئې د ځینو ډېرو بارزو بېلګو په یادولو بسنه کوم:

د افغانستان راډیو وروستی وده، تخنیکي شته منتیا او مسلکي پیاوړتیا د بېنوا د لاس محصول دئ. د ده د مشرتابه په وخت کي یو رښتوني اوښتون منځته راغی. تر دې مخکي هره خپرونه، سندره یا خبریز پروګرام ژوندی خپرېده او بې شکه د خطاوو د تېرېدلو او د راډیو د اعتبار د خرابېدلو امکانات ډېر وه. د هم ده په نوښت پروګرامونو د مخکني ثبت او کنټرول په مرسته نوی رنګ او جلا خوند وموند. دغه راز د خپرونو وخت په یوه شپه او ورځ کي له شپږو ساعتو نه دوولسو ساعتو ته لوړ کړی شو او د افغانستان د وګړو د ښې بوختیا او روزني امکانات منځته راغلل. د راډیو افغانستان نوې ودانی چي په عصري تجهیزاتو سمبال وه په ۱۹٦۵ کال کي د بېنوا په مخامخ ونډې جوړه او فعاله شوه. له دې امله کولی شو د افغانستان د راډیو تلوېزیون د نوي عصري مجتمع منځته راوړونکی ئې وبولو.

استاد بېنوا د بېلابېلو خپرونو د مسئول او د مطبوعاتو د وزارت په څوکی کي خپل دین له یاده نه دئ ایستلی او تل ئې (له شتو امکاناتو سره سم) د هغو د څېرې او مضمون د ښکلا هڅه جاري ساتلې ده.

۲ـ هستوونکې فعالیت:

د استاد بېنوا شاعري او لیکوالي، په تېره بیا ژورنالیستیک ځواک په هغه دوره کې غوړېږي چې ډېرو بهرنیو او کورنیو پوهانو د هیوادني کلچر زرین پړاو بللی دئ. د دموکراسۍ، برابرۍ، پوهي، ترقۍ او رفاهیت په خاطر او د استعمار د پاتي شونو، ناپوهۍ، رنځونو، فیوډالي خرافات پالنو خلاف مبارزه د دغه دور د ډېرو وطنپالو لیکوالو او شاعرانو د ایجادونو اصلي موضوع وه. بېنوا په دغه لړ کې هم ډېر اوچت مقام لري. ده په ورځپاڼو او مجلو کې د بېلابېلو موضوعګانو په هکله مطالب لیکل او د یوه ټولنیز طبیب په دود ئې تشي نه دي راسپړلي، د علتونو او دلایلو تر بیانولو وروسته ئې هري ستونزي ته د حل لاري وړاندي کولې او د یوه مخکښ په توګه ئې په تور تم کې لاره کړې ده. دلته به د ده د ځینو مقالو د متن منتخبي برخي د بېلګې په توګه رانقل کړو:

"زه پښتنو وروڼو ته کومه افسانه نه وایم او نه د دوی د نیکونو پخوانۍ کارنامې او زاړه افتخارات ورته شمېرم، بلکي زه دوی د پښتني ژوند هغو نواقصو ته ملتفت کوم چي خوشحال خان خټک د پښتو د ملي مشر په حیث څو سوه کاله دمخه ورکړي وه او پښتنو ته ئې د هغو د اصلاح چیغي کړې وې او دې نواقصو تر اوسه هم د دوی پښتنواله نیمګړې ساتلې ده او له بده مرغه ئې د دوی د قومي وحدت رسۍ شلولې ده...".

دی د خپل اولس په خرافات پالنه ځورېږي او بښې ډېري مقالې د

دغه ټولنيز رنځ دارو - درملو ته ځانګړي کوي:

"... زه نه غواړم پښتانه لا تر ابده د پيل په غوږ کي ويده وساتل سي او سر ته ئې د افتخاراتو [للو] وويله سي. پښتانه بايد پوه سي چي د دنيا تر ټولو قومونو وروسته پاته قوم دي او د دنيا په هيڅ اولس کي دومره بدبختۍ نسته لکه نن چي د پښتنو په اولس کي ليدل کېږي".

بېنوا د خپلي ټولني ملي ترکيب او د هغو دننني تناقصونه ډېر ښه پېژني. هغه څه چي پر افغان اولس د تېرو دوو لسيزو په اوږدو کي تېر شول او لا تېرېږي، ده ئې هغه وخت علتونه پېژندلي وه او د هغو د ورک کولو بلني ئې کولې:

"تاسي فکر وکړئ په يوه لوی اولس کي چي لس تنه پر يوه لاس سره روان نه وي او هر يو ځانته لاره ولري نو د داسي ملت او قوم پای به څه وي؟ ضرور به ئې پای بربادي، تباهي، د نورو غلامي، محوه کېدل او تيتېدل وي. دنيا به په سپک نظر ورته ګوري او ورپوري خاندي به، د پردو د لاس آله به وي، ګټې به ئې دوی خوري به ئې نور. ذليل، خوار، وږي، لڅ او بربنډ به ګرځي، د تربګنۍ له غمه به سر ګرولو ته وزګار نه وي، کار به ځني پاته د دښمن لاس ته به احتياج په کاږه مغزي ولاړ وي.

د دښمن له پاره به خپل ورور وژني او د دښمن له پاره به د خپل ملي مشر مخالفت کوي.

... داسي قوم که غواړئ وپېژنی نو د پښتون اولس ته راسئ او د دوی کور په کور بې اتفاقۍ او جنګونه وګورئ. تاسي به ووينی چي د پښتنو ملي مشران په سل کي اتيا د خپلو ساده پښتنو د لاسه مړه يا ورک

یا بې قدره سوي دي، ځکه نو خوشحال خان وايي:

د بل غشي ټوپک هیڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل ټوپک یم"

د افغانستان د پنځوسمو کلونو د روښانفکري غور ځنګ یوه غټه ځانګړتیا د ناپوهۍ خلاف مبارزه وه. استاد بېنوا په خپلو ډېرو مقالو کي دغه رنځ په تېره بیا د پښتنو په منځ کي ښه تشخیص کړی او په خوندورو الفاظو کي بیان کړی دئ، په یوه ځای کي داسي لیکي:

"که پښتانه د پوهي خاوندان وای دوی به له خپل منځه نفاق ورک کړی وو او په یوه اتفاق به ئې د خپل ژوند د ښه کولو غم خوړلی، که په پښتنو کي هنر وای دوی به ولي د هر چا وره ته د یوې سنني له پاره ولاړ وای، څله به دوی په نس وږي او په تن لوڅ وای؟ پر څه به د دوی ښارونه د نوري دنیا له کنډوالو سره برابر وای؟ ولي به سر تور سر، یبلي پښې ګرځېدای؟ دا ټول له دې جهته چي پښتانه علم او هنر نه لري".

د افغانستان په وروسته پاتي ساتل شوي، په ناروا او ولاړي رنځوري ټولني کي یو ټولنیز قشر چي له محرومیته ئې استاد خپله بېنوایي دوه برابره لیدله، ښځي وې. افغاني ښځي د دوه ګوني ستم د زغملو تر څنګ، د جهالت په پنجو کي هم ساتل شوي او لکه د شمعي بې آهه ویلي کېدلې. استاد بېنوا د ګوتو په شمېر هغو کسانو په ډله کي وو چي د دغه بې برخي موجود غږ ئې د ورځپاڼو، مجلو او کتابونو په پاڼو او د راډیو په څپو کي خپور کړ او د هغو مرستي ته ئې د ردمن زړونه راوبلل:

"پښتنو راسئ سر ګرېوان ته کړو او وګورو چي موږ د خپلو ښځو

سره څه وضعيت کوو؟ د نجلۍ په زېږېدو خوابدي کېږو، چې نجلۍ څه لويه سوه ... بيا ئې هم موږ د پوهې او علم له لاري راګرځوو، دا راته بده ښکاري چې زموږ نجوني د ګاونډي له ښځي څخه لوست ولولي او بې غيرتي ئې بولو، مګر په دې هيڅ غيرت نه راځي چې په نجونو غوا پيايو او خره په څروو؟"

او وړاندي په همدې اړوند داسي بلنه لري:

"خو دا پښتانه بايد ويښ سي، دنيا ته وګوري، په اوسنۍ دنيا کي ښځي د نرو ملګري وي او په ډېرو کارو کي د نرو سره اوږه پر اوږه ولاړي وي کار کوي. د انسانانو اجتماعي ژوند نرو او ښځو دواړو ته اړ دئ. ښځه او نر لکه نور او حرارت لازم او ملزوم دي، هيڅ سره جلا کېداى نه سي. که ښځي د نرو سره ملګري ونه کړي، نر په هيڅ کار کي کاميابېدلاى نه سي. همدا سبب دئ چي خداى تعالى جل شانه په قرآنکريم کي فرمايلي دي: [ښځي ستاسي لباس دي او تاسي د ښځو لباس ياست]".

د بېنوا له پاره پښتون اولس د افغاني ټولني د ټولو بدمرغيو سمبول دئ او ځکه نو مخکي له دې چي يوه ګوته بل ته ونيسي درې ګوتي ئې ځان ته نيولي دي:

"ګوند يا ګوندي په پښتنو کي يو رقم پارټۍ او پارټۍ بازي ده چي اکثراً د پښتنو د بدبختۍ او خانه جنګۍ سبب ګرځي. پارټۍ او پارټۍ بازي په نوره دنيا کي چي د صحيحو شرايطو [illegible] سم وي، او درست پروګرام ولري البته ګټور دي، مګر د پښتنو ګوندي څنګه چي د خانانو او د هغو د قومي مشرانو له خوا منځته راځي کوم چي غواړي خپل قوم د

ځان د شخصي اغراضو له پاره استعمال کړي نو ځکه د قوم د بدبختۍ او بربادۍ باعث ګرځي".

وروسته بيا همدا اصل په لرو او برو پښتنو کي تعميموي او د کوزي پښتونخوا په قبيلوي ټولنه کي د پارټۍ بازۍ د رنځ ريښې راسپړي:

"ګوند يا ګوندي د پښتنو مشرانو په منځ کي هم چشمي، رقابت او کينه پيدا کوي چي په پای کي جګړه ترېنه جوړه شي او د ګوندۍ پر ځای بدي ودرېږي. خو په هر صورت د پښتونستان په ځينو پښتنو کي ګوند او ګوندۍ ډېري دي. دا ګوندي که څه هم له يوې خوا پورتني ضررونه لري مګر له بلي خوا بې ګټي هم نه دي. مثلاً په قوم کي د زيار او کوښښ او لوړوالي حس تحريکوي. هيڅ يو ګوند نه غواړي چي هغه بل تر ده وړاندي ولاړ سي. خو دا ګوندۍ هغه وخت ګټوري ثابتېږي چي د هر ګوند رقابت په ښو کارونو صرف سي، لکه: د مېلمه روزنه، د علم پالنه، د لارو او پلونو جوړونه، د کلي د خوار او غريب غم خوري لرنه او نور ...".

افضل ټکور

اروا ښاد استاد بېنوا

د هيواد نامتو ليکوال، شاعر او محقق*

د جدي د مياشتي يوويشتمه نېټه زموږ د هيواد د نامتو ليکوال، شاعر او محقق اروا ښاد استاد عبدالرؤف بېنوا د پنځم تلين سره برابره ده. نو په دې هيله چي د هغه ياد مو تازه کړی وي او د هغه روح ته مو د عقيدت ګلونه وړاندي کړي وي، دا څو کرښي ليکو:

لـه سبا نـه څـه خبـر ئـې لېونيـه
نـه پـه فکـر راستنېږي تېـر پـرون
پـه خنـدا ډکـه پيالـه د ميـو واخلـه
په خوښي تېر کړه دا اوس ګړی ژوندون
بېنوا

د پښتو په معاصرو ادبياتو کي او زموږ د هيواد د ادبياتو په اوسني بهير کي د مرحوم استاد عبدالرؤف بېنوا نوم زيات شهرت لري، کله چي د پښتو د معاصر شعر او په مجموع کي د خپل هيواد د معاصرو ادبياتو په باب څه وايو او يا څه ليکو يا هم زموږ د هيواد د معاصر فرهنګ د ودي

---

* د ښاغلي افضل ټکور مقاله د علامه رشاد مرحوم په (د بېنوا ياد) نومي اثر کي خپره سوې ده (روهيال).

او پرمختیا په باب د خبرو کولو تکل وکړو نو د ارواښاد استاد بېنوا نوم به زموږ د دغه ادبي بهیر په مخکښو کسانو کي اخلو او دا ځکه چي ارواښاد استاد بېنوا پوره نیمه پېړۍ زموږ د هیواد د فرهنګ، زموږ د هیواد له تاریخ، زموږ د هیواد له شعر سره په مینه کي ژوند وکړ، نیمه پېړۍ ئې په قلم کي ساه چلېدله او د پښتو ادبي بهیر په وده او پرمختګ کي ئې لوی او نه هېرېدونکی خدمت تر سره کړی دئ، ژوند ئې له شعر سره، ژوند ئې له وطن او خپلو خلکو سره او په مجموع کي ژوند ئې د پښتو ژبي د ادبیاتو سره تېر کړی دئ او د ژوند تر پایه پوري ئې په لسګونو آثار، علمي او تحقیقي مقالې او رسالې ولیکلې، ښې ئې ولیکلې او په پښتو ژبه ئې تلپاته او همېشني آثار وهستول چي زموږ په ادبیاتو کي د ده د آثارو بلي ډېوې به همداسي روښانه وي.

ارواښاد استاد عبدالرؤف بېنوا په ۱۲۹۰ هـ ش کال کي د کندهار په ښار کي زېږېدلی دئ، د ۱۳۱۶ شمسي کال پوري ئې خپلي زده کړي وکړې او له زده کړو نه وروسته ئې د هیواد په بېلابېلو علمي فرهنګي مؤسسو کي په کار پیل وکړ. د پښتو ژبي دغه حقدار لیکوال، شاعر، مترجم، تاریخ لیکونکی، ډرامه لیکونکی د ۱۳۶۳ شمسي کال د جدي د میاشتي په یوویشتمه نېټه وفات سو. خو موږ ته ئې داسي ارزښتناکه علمي، ادبي آثار پرې ایښي دي چي زموږ د وطن د ادبیاتو په تاریخ کي به د تل له پاره د هغه نوم روښانه او ځلېدونکی وي. مرحوم استاد بېنوا په خپل ۷۳ کلن عمر کي ډېر زیات علمي او ادبي آثار وکښل، د شاعرۍ په څنګ کي ئې ښې ډرامې، ادبي تذکرې، زموږ د هیواد د تاریخي څېړو

معرفي، د پښتو د کلاسیکو ادبیاتو او د پښتو ژبې د کلاسیکو لیکوالو په باب نوي څېړني او نوي لیکني هم کړېدي. د هغه اوسني لیکوال په نوم اثر په درې ټوکونو کې زموږ د هیواد د ادبیاتو په اوسني تاریخ کې ښې او معتبرې تذکرې دي، له دې نه علاوه د هغه بل ارزښتمند اثر د افغانستان نومیالي نومېږي چې په څلورو پنډو پنډو ټوکونو کې چاپ او خپور سوی او له تاریخي پلوه ئې زموږ د هیواد یوه لویه شتمني بللی سو. دا ډول هغه د پښتو ژبې د ادبیاتو د بېلابېلو ژانرونو په باب هم ښې او ګټوري لیکني کړي دي.

میرویس نیکه، پښتو، فارسي اریایي وېرني د ده د شعرونو لومړنۍ مجموعه پرېشانه افکار، د ده د ارزښتناکو آثارو څخه دي. د ارواښاد استاد بېنوا د آثارو شمېر پنځوسو ته رسېږي. دا ډول د مرحوم استاد بېنوا د ادبي ژوند بله برخه ترجمه او ژباړه ده. ده په خپل ادبي عمر کې د نړۍ د نورو ژبو نه یو زیات شمېر ارزښتناکه آثار په پښتو ژبه ژباړلي او چاپ کړي دي چې په دغه برخه کې د استاد زیار هم د ډېرې ستاینې وړ دئ. د ارواښاد استاد عبدالرؤف بېنوا د شخصیت اړخونه بالکل ډېر دي، د هغه په شاعري د هغه په ترجمو، د هغه په تاریخي او تحقیقي کارو بېلابېلې مقالې لیکل کېدلای سي چې په دې ټولو بحث ځانګړی وخت او ځانګړې پلټنه غواړي. دلته به د مرحوم استاد بېنوا د شاعرۍ یوه خوږه بېلګه وړاندې کړو:

د ول ول پېکــي زنځیــر ورلــره بویــه
د رامبېـل چامبېـل ګلونـه لېـوني سـول

چې مستانو سره مست غاړه غړې سي
د کوڅېو ښاماران بیا چندني سول
چې له کبره ئې موسکی نه مانه شونډو
نن جرګه کې د رندانو خندني سول
چې په یو کاته ئې وریت کړل هزار زړونه
د ساقي تر سر زر ځله سپېلني سول
د وربمو توپان سو خپور له راغ او بنه
د ویده دماغ رګونه پاځني سول
چې په یو غړپ به ئې سل درې وهلې
اوس په خپله ئې جامونه سل مني سول

پروین فیض زاده ملال

د ټاګور او بېنوا د ژوند د ځينو برخو ورته والی

د شلمي پېړۍ په نيمايي کي د پښتو ادب په تکاملي سير کي د فاضل استاد بېنوا دريځ لکه د ستوري روښانه دئ. د هغه تر څېړنيزو او تاريخي آثارو که تېر سو نو د هغه په ادبي هستونو کي د ژوند د هر اړخ تصوير موندلای سو. د هغه په هستونو کي ابتکار، سلاست، انسان دوستي د ورايه ځلېږي او د فورم او محتوی د نظره هم نوې څېره لري. زما پام د فاضل استاد بېنوا د پرېشانه افکار دوهمي برخي ته چي د نثري ټوټو ټولګه ده واوښت، او دا خيال ئې را په زړه کړ چي د پرېشانه افکارو د دوهمي برخي هغه نثري ټوټې چي د ټاګور د نغمو سره يو ډول نژدې والی لري او د دوی د ژوندانه د ځينو برخو ورته والی سره پرتله کړم.

د رابندرناته ټاګور د نذر د نغمو او د پرېشانه افکارو د دوهمي برخي د ټوټو د نژدې والي يو دليل به زما په نظر دا وي چي د ټاګور نغمې فاضل استاد بېنوا په دومره خوږه او روانه ژبه ژباړلي چي د اصل ګومان پر کېږي. او راځو د رابندرناته ټاګور او فاضل بېنوا د ګيتانجلي او د پرېشانه افکارو د دوهمي برخي يو شان والي ته.

د فاضل استاد بېنوا په ليکنو کي د اشراق د فلسفې څرکونه ليدل

کېږي او د رابندرناتهه ټاګور د ګیتان جلي ټولي نغمې د هندي صوفیزم او عرفان نمونې دي.

باید ووایو: "د اشراق مفهوم د لومړي ځل له پاره د لرغوني یونان په فلسفه کي ځای ونیو، د عربي ژبي له رویه اشراق د روښانه سوي ځلېدونکي او د لمر راختو اما په اصطلاح کي د الهام حاصلولو معنی ورکوي، ځیني عالمان د حقایقو درک د زړه او ضمیر د الهام څخه ګڼي په دې نسبت ئې دوی اشراقیون بلل".

له کومه ځایه چي شعر او شاعري، تصوف او عرفان په زیاترو موادو کي ګډې خواوي لري او د عواطفو، ذوق، شور، احساساتو او عشق له یوې منبع څخه الهام اخلي نو په دې ډول صوفیانو او شعراوو ډېر ژر یو بل سره پیدا کړل او یو له بله نژدې سول.

د افغانستان د نومیالي لیکوال، شاعر، مؤرخ او څېړونکي فاضل استاد بېنوا د ژوند او هنر په ذکر کي د بنګال د تصوفي شاعر او هنرمند سره نژدې مسالمتونه لري.

د بېلګي په ډول: مرحوم استاد بېنوا په ۱۹۱۳م کال کي چي د ۱۲۹۲هـ ش سره سمون خوري د کندهار په ښار کي خرقې شریفي ته نژدې د سید حسن په کوڅه کي زېږېدلی ... د فاضل استاد بېنوا کورنۍ د کندهار یوه علمي درنه کورنۍ وه.

رابندرناتهه ټاګور د ۱۸۶۱م کال چي د ۱۲۸۷هـ ق کال سره سمون خوري د کلکتې ښار ... په داسي برهمنه کورنۍ کي زېږېدلی دئ چي د بډایي، ملکي (زمینداري) او علم و هنر له رویه ئې په بنګال کي نوم

درلود.

د فاضل استاد بېنوا لوی استاد د افغانستان مشهور او وتلی عالم مولانا عبدالکريم حقاني وو چي د فاضل استاد مشر ورور وو، د دوی پلار مفتي عبدالله چي په مفتي عبده سره ئې شهرت درلود د کندهار د ښار په محکمه کي مفتي وو، د مفتي عبدالله پلار چي په خپل وخت کي په کندهار کي استاذ کل باله کېده د کندهار د خرقې شريفي متولي وو.

ټاګور په ديارلس کلنۍ کي يعني په (۱۸۷۴) کي مهارشي (لوی مرشد) پلار له ځانه سره د معرفت په لټون پسي د هيماليې غرو ته وخېژاوه ... او د دارجيلنګ، چلپاګيري او کوچ بهار په لمنو کي ئې له پلاره څخه د (بګوت ګيتا) شلوکونه او د کرشنا نصيحتونه اورېدل.

فاضل استاد بېنوا په نورو تخليقاتو او تاليفاتو برسېره يو شمېر ډرامې په راډيو کي د تمثيل او د ستېژ پر سر د تمثيل له پاره ليکلي، لکه: (اشتباه) چي د ستيېژ پر سر باندي تمثيل سوې. (کار بر اصل) چي د هغه وخت په پوهني ننداره کي تمثيل سوې، (زرنګ) د راډيو افغانستان له ستډيوګانو څخه تمثيل سوې، (زور ګنهکار)، د کندهار د هغه وخت په پوهني ننداره کي تمثيل سوې. (حکومت بيدار است) د راډيو افغانستان د ستډيوګانو د لاري، (آشيانهٔ عقاب) په کابل ننداره کي، (طوق لعنت) يو تمثيلي ډرام چي په ۱۳۳۴هـ ش کال کي ئې د مطبوعاتو جايزه هم وړې ده، (صداى وطن) يو تمثيلي ډرام.

رابندرناتهـ ټاګور هم ډرامې ليکلي چي د بنګال پر ستېژونو برسېره د بهرنيو هيوادونو پر ستېژونو هم تمثيل سوي.

فاضل استاد بېنوا پر قام مین، نازکخیاله، مبتکر، بدعت خوښوونکی، د عام اولس د دردونو استازی، په ټولنه کي د مثبت اوښتون پلوی شاعر وو او ټاګور هم د هندوستان د محرومي طبقې د دردونو او کړاوونو او د هغوی د ویښتوب او انسان دوستۍ سندري ویلې.

د فاضل استاد بېنوا په ځینو نثري ټوټو کي د اشراق د فلسفې رنګ د ورایه ښکاري او د ګیتانجلي نغمې هم د هندي عرفان ډېري ښې نمونې دي. اسلامي عرفان د عیسوي عرفان سره چي د هغه اساس هم پر مینه ولاړ دئ او خدای ﷻ ته ئې رسېدل مقصد دي ډېر نژدې والی لري، د هندي عرفان سره د اسلامي عرفان په منځ کي ډېره فاصله موجوده ده. دا خبره پر خپل ځای ده: "د هر دین په محیط کي عرفان هم د هم هغه دین په دایره کي منځته راغلی. لکه هندی عرفان چي د هندوانو د دین په شان په دې اندېښنه کي دئ، چي انسان څنګه خپل محدود او کمزوری وجود په وجود کل کي فاني کړي ... دغه هندی عرفان چي د (یوګا – Yoga) په مفهوم ئې هم دوی تعبیروي، د برهمنانو فلسفه په حقیقت کي د هند د اشراقي ډوله تعقل څخه منشاء اخلي.

خو د اسلامي عرفان یو جز په دردونو او معصیبتونو کي د انسان لاس نیوی او د هغه خدمت دئ او په هغه کي د خدای ﷻ رضا لټوي، لکه د فاضل استاد په نثري ټوټو کي د (ظالمه ولي؟) نثري ټوټه.

اوس راځو د فاضل استاد بېنوا او ټاګور د نثر ورته والي ته!

فاضل استاد بېنوا وایي،

الله څونه وراني ودانې مي وغوښتې، لوړي، ژوري، سمه او غر مي ولټوله، ښارونه، ښې ماڼۍ، ښه باغونه بنګلې مې وليدې، هر څه او هر ډول اشيا مي په سترګو سول، په دنيا کي هيڅ شی پاته نه سو ... هغه څه چي ما غوښته په هيڅ ځای او هيچا کي مي پيدا نه کړه.

څه شي؟

وفا او صدق.

ټاګور په يوه مناجات کي وايي:

په يوې مايوسانه آرزو پسې ځم، په هر ځای په هر ګوټ کي خو نه ئې مومم.

فاضل استاد بېنوا وايي:

د سهار د سترګي په سترګکونو کي تا لټوم، همدارنګه د شفق په سرو سرو لارو کي، زه هر لور ته د لمر څرک په شغلو کي ستا پته غواړم. خو نه ئې مومم، د ځاښت په رڼا کي مي سترګي ستا په لټون وي، مګر له ډېرو کتو سترګي ستړي سي ... په لوړو، لوړو بنګلو کي په تا پسي ځار کوم ... د شپې له سکوته او د ورځي له شورماشوره ستا پته پوښتم ... د ماښام د ستورو سره ستا خواله کوم ... او نيمه شپه ستړی ستومانه په بستر کي وغځېږم، له هري خوا مايوس سم، په دې وخت کي يو ږغ اورم چي وايي:

"دلته دئ، دلته دئ، دلته دئ ... چي ښه متوجه سم دا ږغ مي له خپل زړه څخه راخېژي رشتيا ته زما په زړه کي يې".

استاد حمزه وايي:

ځان په منزل د عاشقۍ چي چيري نه کي سترى
زړه د خداى کور دئ عشق پخپله دې مکان ته راځي

حضرت شبلي رحمة الله عليه فرمايلي:

تر زړو دنيا او آخرتو زما زړه ښه دئ، ځکه چي دنيا د محنت ځاى او آخرت د نعمت ځاى دئ. زړه د معرفت ځاى دئ.

ټاګور هم د فاضل استاد دې نثري ټوټې ته ورته يو ځاى وايي:

ما هغه د خپل زړه په حرم کي ساتلى، په ملکونو، ملکونو مي وګرځاوه او د هغه په شاوخوا کي زما د ژوندون عروج او زوال، کوز او پاس څرګند وو.

زما د ميني ډيوه د استاد يوه بله نثري ټوټه ده، په هغې کي يو ځاى داسي وايي:

د ميني ډيوه مي د شهرت طلبۍ په توره تياره کي د لاسه لوېدلې ده، د زمانې په هر کوټ کي ئې لټوم.

مګر ډېره مړه سوې ده، وروستنۍ روڼائې هم نسته.

کله کله مي د ډېري تيارې له کبله يوه ځلبلانده تېزه رڼا سترګو ته وځرکېږي خو دا وړوکې رڼا د سراب په شاني غولوونکې ده، چي غوارې ما د خپلي ډيوې له طلبه راوګرځوي، مګر زما زړه لا ناري وهي:

"اې د ښکلي روڼا ځښتنه!
زما د ميني ډېره بله کړه".

کله چي فاضل استاد وايي:

"زما د ميني ډيوه بله کړه". دی د هغې روڼا خواست کوي او د هغې

روښا یوه پلوشه خپلول غواړي چي انسان د عرفان او معرفت لاري ته سموي او د زړه څخه ئې غیر د هغه نه هر څه باسي. هغه ته هر څه روښانه کېږي او هغه خپله پناه او بقا دواړه په هغه کي ویني.

ټاګور وایي:

ستا زړه له غمونو ډک دئ، او سترګي دي اوس هم له خوبه دي. آیا ته نه یې چي ګل د اغزیو په منځ کي حکومت کوي، ویښ سه، ویښ سه، وخت خوشي مه تېروه ... د دې درنې لاري په اوږدو کي هلته لیري د تنهایی په ملک کي زما محبوب یوازي ناست دئ ...

آیا ستا د زړه په کومي کي هیڅ مسرت نسته؟ آیا د درد په جاده باندي د هر قدم د آوازه یوه شېرینه نغمه نه پیدا کېږي؟

فاضل استاد بېنوا د (زه څه غواړم) په یوه برخه کي وایي:

څله مي روح دومره پرېشانه دئ؟

ژوند مي ولي په اضطراب تېرېږي؟

زه باید آرام وای ځکه چي ...

آیا له کوم دوست څخه جلا یم؟

دا هم نه ده ...

نو چي دا یوه نه ده بیا مي لا پر څه روح دومره پرېشان او روح مي مضطرب دئ؟

په دې وخت کي مي زړه راته وایي چي:

زه او ته دواړه یو څیز لټوو، مګر نه ئې مومو، ځکه نو مضطرب یو.

زه له زړه څخه پوښتم:

څه شي غواړو؟

زړه راته ووې:

درد من زړه...

په هغه زړه کې چې د معرفت ډېوه بله سي هغه زړه ته انسان دوستي لاره پیدا کوي او د هر انسان په درد، دردمن کېږي.

فاضل استاد د همدغه زړه په تلاښ کې دئ. رابندرناټه ټاګور په یوه نغمه کې وایي: اې نجلۍ ستا ټولي رڼاګاني روښانه دي، اوس د خپلي ډېوې سره چیرته ځې؟

زما کور تیاره او تنها دئ خپله رڼا ما ته په رعایت راکړه!

فاضل استاد بېنوا په یوه نثري ټوټه کې وایي:

نور په دې توره تیاره کي پاته کېداى نه سم.

ځم! اې خوږو یارانو ما ته په "مخه دي ښه ووایاست" ... اوف! زه په سترګو ړوند یم، که مي چا پر سترګو لاس نیولی دئ؟ ... زه قدمونه اخلم مګر نه یم خبر چي پر مخ ځم که پر شا؟

زه خو ځم!

نو اې خوږو ملګرو! ما مه ملامتوئ.

نور زه په دې تیاره کي پاته کېداى نه سم.

ما ته "په مخه دي ښه ووایاست".

حضرت رحمان بابا وایي:

هر چي وایي عاشق ړوند دئ هغه خوار شه
د رحمان په عاشقي کي سترګي وشوې

فاضل استاد هم همدغه سترګي يادوي چي د خداى پاک نښانې په ليده سي، د ذرې څخه تر لمره، د سمندرونو د لايتناهي عالم موجودات د مڅکي د مخ په فاني ښکلاوو کي د حق او حقيقت لافاني موجوديت په ليده سي، هغه يو ځاى دا هم وايي:

چي زما سفر زما په خپل کور کي دئ. هغه دغه ډېوه په خپل زړه کي دننه د دې له پاره بلول غواړي چي د اشراق په لارو د شهود تر پولو ځان ورسوي، لکه د حضرت رحمان بابا په شان سترګه ورسي.

همداسي فاضل استاد بېنوا په زياتو نثري ټوټو کي د عرفان څرګونه لري د چا ته وژاړم د نثري ټوټې يوه برخه به را واخلو:

په خواړه خوب بيده وم... هيڅ غم راسره نه وو...

ستا د ميني لاس راغلی، زه ئې ويښ کړم.

خو پوه نه سوم چي څنګه؟

وريښدېدم (؟) مګر د څه چاره؟

ستا د ميني واک ډېر دئ، چي له هغه لامتناهي فضا څخه ئې په دې کنډولي ننه ايستلم...

اخ چا ته وژاړم؟

د خپل زړه په خوږ به څوک پوه کړم؟

هيچا ته! او هيڅوک!

خو! هو تا ته به ووايم!

عارفان وايي د انسان روح د وجود په نړۍ کي بندي دئ.

حضرت جلال الدين محمد بلخي هم د نی په ژبه همدغه عقيده

بیانوي. حضرت مولانا وایي چي انسان خپله اصلي مبدا لري چي دی دې نړۍ ته په راتلو سره د هغه نه بېل سوی. هغه غواړي چي بیرته د هغه سره وصل سي.

فاضل استاد بېنوا هم چي کله د انسان د روح خبره کوي، نو مقصد ئې همدغه دئ چي زه خو د بیده په شان له هر څه نه بېخبره وم. دا ته وې چي په دې خاکي وجود کي دي واچولم او چي کله د میني ذکر کوي نو د هغه اساسي معرفت یوې نکتې ته اشاره کوي چي وایي: خدای ﷻ مین دئ او مخلوق د هغه مینه ده.

افلاطون په دې عقیده دئ چي د انسان روح د تجرد په عالم کي مطلق روح لیدلی. کله چي دې نړۍ ته راغلی د تن په قفس کي بندي سوی زړه ئې غواړي چي د دغه قفس څخه ووزي والوزي او بیرته د هغه سره وصل سي.

همدغسي د فاضل استاد په دغه نثري غونډ کي د هومانتیزم یا انسان دوستۍ څپې په غور څنګونو دي.

حضرت شبلي نعماني ویلي: تر هغه وخته به صوفي، صوفي نه وي تر څو چي ټول خلک خپله کورنۍ ونه ګڼي. د دې سره سره د فاضل استاد په نثري ټوټو کي د وطن دوستۍ رنګ هم ښه پرېمانه دئ.

د فاضل استاد په (زړه مه ماتوه) نثري ټوټه کي د خدای ﷻ د بندګانو سره مینه او دوستي په حقیقت کي د هغه سره مینه کول دي، همدغه انسان دئ چي پر مځکه باندي په خلافت نازول سوی دئ.

په (زما د نیا) نثري ټوټه کي هغه انسان وسعت نظرۍ ته رابولي او

د بدلون درس ورکوي. په (ظالمه ولي؟) انسان ته د مساوات او يووالي ناري وهي. فاضل استاد په خپل دغه اثر کي ټولني او انسان ته متعهد دئ. هغه غواړي چي انسانيت په ټولنه کي خپل هغه دريځ ته ورسي چي پاک خدای ئې په خپل کلام کي په کائناتو کي د حيثيت موندلو له پاره ورکړی: (لقد خلقنا الانسان فی احسن تقويم).

د فاضل استاد په دغو ټولو کي چي ما ئې ډېره لږه برخه راواخيستله تصوف، اخلاقيات، فلسفه، انسان دوستي، لکه ځنځير سره تړلي دي او د لوستلو وروسته انسان دې ته اړ باسي چي فکر وکړي. همدغه تفکر، د معرفت د اساستو ځخه دئ*.

---

* د آغلي خور پروين ملال مقاله ما ته د اطلاعاتو او کلتور ، ياست له خوا راوسپارله سوه، پروين ملال د خپلي مقالې په متن کي ماخذونه په اعدادو نښاني کړي دي او د مقالې په پای کي ئې راوړي وه، خو بدبختانه دغه ورروستنۍ پاڼه زما لاس ته نه ده رارسېدلې نو ځکه د دوی د مقالې ماخذونه هم نه دي را اخيستل سوي (م. روهيال).

ډاکټر لطیف بهاند

بېنوا شاعر او د هغه شاعري*

هر څوک چي وېنې د شعر په باب غږېدای شي او ځانته دا حق هم ورکوي چي وغږېږي، هر څوک چي وېنې شعر غواړي او حتى ځان د شعري ذوق خاوند ګڼي.

هوکې! د شعر کلیمه کله د مینې د کلیمې په شان بې له هر ډول تفسیر نه، بې له هر ډول تعبیر او سپړني نه، ټول خوښوي او ټولو ته یو ځانګړې معنی لري، خو کله چي په خبرو اترو کي دوه تنه په ټاکلي ډول د دې نړۍ یعني د شعر او شاعرۍ په باب وغږېږي، د بلینسکي په قول داسي ښکاري چي د یوه مطلب اور وي او د بل اوبه. نو دلته ده چي د خوشحال بابا خبره بیا بیا رایادېږي چي وايي:

"شاعري د هر فاسق او تاجر کار نه دئ" نه یوازي دا چي کار ئې نه دئ بلکي د هغه پوهېدنه هم د یوې ځانګړي پوهي ذرلودونکي کار دئ. هغه څوک چي له ځانه ذوق ولري او یا ئې هغه پیاوړی، روزلی او د ښکلا په ګانه ښکلی کړی وي، چي د هغه په تصور کي د هغه تصور، تصور

* ښکلا مجله، د ۱۳۸۲ش کال پنځمه ګڼه، ٦ – ۹ مخونه.

وکړی شي چي تصور ئې شعر دئ. له بلي خوا د تخليق تحفه، طبيعت ډېرو لږو په ګوته شمېر کسانو ته وربښي او هغه هم هر چا ته په بېلو بېلو اندازو. دغه برخه کله کله په کلي توګه په قسمت يا طبيعت پوري او کله کله د شاعر په فزيکي او ميراثي جوړښت پوري اړه پيدا کوي. له بله پلوه د تخليق ډېر خاوندان هومره د تخليق له مخي شهرت ته نه رسېږي لکه چي د ځای، دريځ، منصب او ټولنيز دريځ له مخي پېژندل کېږي، خو شته هغه ډول شاعران چي هغوی له سياسي او اداري دريځ نه وړاندي دروي او تل ته کوزېږي او د خلکو په زړونو او د ټولني په روح باندي بې له دستوره، بې له امره لاسبري پيدا کوي، لويېږي، پراخېږي او سمبول ترې جوړېږي، بالاخره ملي کېږي او ابدي بڼه غوره کوي او تر هغه ژوندی وي چي د هغه ژبه او ارمانونه ژوندي وي او په اغلب ګومان تر هغه لا زيات.

استاد عبدالرؤف بېنوا هم يو له هغو کسانو نه دئ، چي دغه دريځ ته ئې ځان رسولی دئ. ښه به دا وي چي ووايو دغه ځای ته رسېدلی دئ. دی د کليمې په اصلي معنی سره شاعر دئ. دی نوښتګر دئ او مخکښ. دی په هيواد کي د څو بېلابېلو ايډيالوژيکي حاکميتونو په وخت کي د هغه تخليقي قدرت له مخي چي درلود ئې ملي شاعر پاتي شوی دئ. دی د هغه چا شاعر پاتي شوی دئ چي په ملي غوښتنو ولاړ دئ. د ده ژوره پېژندنه د دې سبب شوې ده چي دی د هغو ټولو بدمرغيو اټکل وکړي چي زموږ په هيواد او خلکو راتلل.

بېنوا د هغو سياسي تربګنيو، د هغو وژنو، د هغو زورونو، د هغو زندانونو، د هغو غلاميو، د هغه پردي پال سياست، د هغو مخامخ

نوکریو، د هغې وطن پلورني تصور لا پخوا کړی وو او ویلي ئې وه:

وطـن خپـل اختیـار د بـل سـو
قـوت خپـل پـه کـار د بـل سـو
خپلـه ژبـه خپلـه خولـه کـې
پـرې جـاري ګفتـار د بـل سـو
بانـدې وسـول دي پـر ظلمونـه
هـم هـزار رنـګ سـتمونـه
اوس د مـړه پـه شان بې ځانـه
نـا خبر پـروت لـه جهانـه
نـه ئې پوهـه نـه ئې کار سـتـه
هـر څـه غـواړي لـه آسمانه
تش خپل نوم وربانـدې بار دئ
دا پـښتون دا ئې روزګار دئ



بېنوا هیڅکله د کومې تېرې ایستونکې سیاسي شېبې، هغه هیڅکله د کوم وژنپال سیاست، هغه هیڅکله د کوم مړیې پالونکي سیاستمدار سیاست نه دی ویلی، بلکې برعکس د بشري روح عمومي ایډیالونو ته، د انسان ستر احساس، مینه، آزادي، آبادي، مور، ښځه، انسان، وطن، جهان ... په باب سندرې ویلې دي او په هغه کې سخت او ښه ډوب شوی دئ:

بیـا محـشر راغلـی د ګلـو تـه رانغلـې
لالـه جـام سـو د سـرو ملـو تـه رانغلـې

مـا پـه وړو سـترګو سـتا لاري څـارلې
قافلـه راغلـه د ښـکلو تـه رانغلـې
ستا راتلو ته د نرګس سوې سترګي سپيني
کـوڅې تـاو کړلـې سنبلو تـه رانغلـې
د ازلـور بربنـډه نـاڅي پـه سـاغر کـي
مـی، مينـا پـه نڅيـدلو تـه رانغلـې
د هوس شونډي له زېږبنه سوې تنهاکي
ښـکلي وخـت د ښـکلولو تـه رانغلـې
تـا ويـشتلي هـم پـه تـا بانـدي رغيـږي
زکنـدن سـو د ويـشتلو تـه رانغلـې

نو له دې کبله کلونه کلونه په تېره ييا د خداى ښښلي بېنوا تر مرګ نه وروسته په دې تکل کي وم چي يا په خپله يوازي يا د دوستانو په مرسته د هغه ټول آثار راټول يا ئې په راټولولو کي څه برخه واخلم، خو له بده مرغه د نادودو لوبو او د خپل هيواد نه د ليري اوسېدلو محکوميت دا هيله رانه اخيستې ده، دوهم دا چي ډېره موده کېږي، چي پر دې نه راسپړل شوي شاعر چي خپله هم تر آخره په خپل راز پوه نه شو، يو څه وليکم او د ده د روح يو کوچنى تصوير، د هغه تصور له مخي وباسم چي زه ئې ترې لرم، د دې ياغي او نه ليدونکي، د ده مست او نه ايلېدونکي، د ده سرشار او نه وېرېدونکي روح تصوير وباسم سره له هغه چي ده په خپله داسي انځور کړی دئ:

شمع

په ژړا کي ته موسکا يې
په زړه اور په خوله خندا يې
سوز تپش ګوزار دي ژوند دئ
ته وا روح د بېنوا يې

فاضل بېنوا د پښتو د نني ادب او کلاسيک دورې، د چوپتيا د دورې نه وروسته د ويښتيا د دورې د شلمي پېړۍ د پښتو ادب د شپږو ستورو نه يو ځلېدونکی، نه آرامه کېدونکی، سرکښ او ياغي ستوری دئ، موږ د بېنوا د ټولو اشعارو مجموعه له ځانه سره نه لرو، داسي ګومان کېږي ډېر هغه اشعار چي د ده د اصلي روح ترجمان وي يا خو چاپ شوي نه دي او يا موږ ته نه دي رارسېدلي، ځکه د ده د ياغي طبعي توان او زغم زموږ د هيواد بې زغمه لاسبرو نه درلود، نو له دې کبله ده هم ډېر احتياط کولو، خو سره له هغه هم دی د خپل وخت پيغام لرونکی شاع پاتي شوی دئ. د ده د غلی شانته انقلاب ترانه ئې د نوي سياسي دور پيل ګڼل کېږي او په هغه زمانه کي د ده د خبرو اورول لږ څه ګرانه خبره وه:

نسيم ووې د ګل غوږ کي بدل سو د يارانې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ
نوی دام نوی صياد دئ – نوی چل نوی بېداد دئ
نوی آه نوی فرياد دئ
هوښيار صيد لره ئې بويه بدل سوی د دانې رنګ
غلی شانته انقلاب دئ بدلوي د زمانې رنګ

لري لوی لوی محبسونه -نه یو سرای نه یوه خونه
حبسوي لوی هیوادونه
چي بندي نه پرې پوهېږي داسي سو د زولانې رنگ
غـلی شانته انقـلاب دئ بدلـوي د زمـانې رنگ

لکه څنگه چي ښکاري دی په پخوانیو وزنونو، یعني د خلیل بن احمد په وزنونو کي نه پاتي کېږي، دی د غلي انقلاب په غوښتنه نوي شعري ژبي ته لاره آواروي، دی دا لار د نویو آرمانونو، نویو غوښتنو، نوي ژوند په تصویرولو سره رامنځته کوي او هغه په شاعرانه کلام کي شاعرانه انځور دئ. دی په افغانستان کي د پښتو ادب د اوښتون او ځانپېژندني د دور ستر استازی وو او دئ.

دی په پښتو ادب کي د کلاسیک ایډیال نه د پښتو ادب د فورمونو او محتوی د نوي کېدو مخکښ دئ. د ده د اکثرو شعرو ژبه ښکلا، ایډیال، د ده د شعر هره کلیمه او هر ترکیب او هغه نه معنی اخیستل نوی رنگ او نوې ادا لري، وگورئ زموږ په ژبه کي د قصیدې په قالب کي د طبیعت انځور او ترسیم په دې ښکلا یزي ادا، پخوا هیڅکله داسي نه وو شوي:

بیا ئې وځکل له کوم څمه ډک جامونه
دا د هسک پیغله چي ناڅي له جنونه
له مستی نه ئې ساغر له لاسه پرېووت
په خوځاځکو ئې کړه مست سپېره ډاگونه
له خندا ئې د غاښو ځلا برېښنا شوه
مرغلـري لونـوي پـر سـنگېرونه

په ملال ملال کاته چې ګوري بڼ ته
له هوسه ورته خولې سپنې ګلونه
د بادام وني چې شنډې وي په غرو کې
ورپه غاړه ئې د جنډو کړه هارونه

ګل پاچا الفت د ده په باب لیکي:

"دی طبیعتاً شاعر دی، د ده ژوند، د ده صحبت، د ده خوی، د ده فکر، د ده ناسته ولاړه، خوراک او څکاک ډېر شاعرانه رنګ لري او خپل رنګ ئې همدغه دئ".

د اوبو پر غاړه کښېنه شراب نوشه
په صحت د زړه د غم دي شراب نوشه
د ریا له زهده زړه په میو مینځه
لیري ګرځه له مکاره خرقه پوشه

زه نه غواړم د ده د شعر پر ډولونو غزل، قصیدې، څلوریزې، نوې یا سپین شعر، کلاسیک یا نوي خبرې وکړم، بلکې غواړم د هغه څو ځانګړتیاوو او ابتکارونو ته لنډه اشاره وکړم.

د ده د شعر ستره ځانګړتیا ابتکار او نوښ والی دئ. دی په شعر کې هر څه بدلون ته راغواړي او دا په نوي ډول کوي. دی په هغو شاعرانو کې راځي، چې هغوی نه یوازې دا چې شعر لیکي، بلکې په شعر کې د شعر د ژبې سوچه والي، ښایست، خوږوالي، او آهنګ ته زیات پام ساتي او په ځینو شعرونو کې خو د هغه هڅه یعني سوچه والی له ورایه ښکاري. دا پښتو سوچه والی وګورئ:

د ریدي جنډو وږمه ئې تر سږمو سوه
دا چې پاڅېده هوسۍ له مېږتونه
د پسرلي ناوې ودېږي ورا يې پنډه
مخ کاته کاخلي د غرو سورکي لالونه(؟)

د ده قدرت په دې کې دئ چې دی حتی د طبیعت او د هغه د بېلابېلو حالتونو بېلابېل انځورونه باسي او ښه ئې باسي. دی د اسمان، باران، واورې، پسرلي، ژمي، غرو، سين په انځورولو کې د ملت د خپل ملیت د سترو فرهنګي دود دستور، د پېړيو پېړيو دودونو او رواجونو، ارمانونو تصویر تصویروي، هغه انځوروي او ننداري ته ئې وړاندي کوي چې دغه راز تصویرونه مو په پاسنيو بېلګيو کې ولوستل.

د ده تشبیهات ډېر جالب رنګ او خوند لري او ټولي نوي او نادري دي، کله کله خو ليريک کلمات په یوه ترکيب سره حماسي ښه غوره کوي:

د کوهستان شفق



هندوکش پر سر لمبې دي
که آسمان سره کناره ده
د کوم سوي زړګي آه دئ
یا د وینو فواره ده
که چنګېز د عصر توره
چې له تېکي راښکاره ده

یا خوبل د میني اور دئ
د فلک پرې سوی کور دئ
د سکندر د وخت شهید دئ
په حسرت بگرام ته گوري
یا لیوال روح د عاشق دئ
چي ورځي د یار سلام ته
یا واله د سرو شرابو
چي تویېږي یوه جام ته
دا میدان د کربلا دئ
که سالو خپور د لیلا دئ

همداسي تر پایه ...

هغه د شعر د ترکیب جوړولو له مخي یو انسانپال او عقل گرا شاعر دئ، هغه سره له هغه چي بدلون غواړي، انقلابي، احساساتي، او ورانوونکی نه دئ. هغه د نسبیت پلوی دئ، نه د مطلقیت.

دی سره له هغه چي سرکښ دئ او یاغي، خو په ټولنه کي د سریع او ناڅاپي بدلونونو پلوی نه ښکاري، بلکي ښه او پر ځای لازمه او ضروزي توضیح کوي او ښودنه:

وزر سته الوتای نه سو
چا مات کړی مو وزر دئ
خوله لرو ږغېدای نه سو
دا د کوم جادو اثر دئ

خپلي پايڅې مو زولنې دي
ځکه حال داسي ابتر دئ
زړه مو سوځي خوله مو پټه
د زړه درد ښودلای نه سو

خو بيا هم د معنوي او اخلاقي او د انسان د باطني بدلون او د ښکلا پلو ته د هغه خوځون نه هېروي.

هغه د ساحر او جادوګر خلل نه منونکي قدرت په وړاندي معنوي قدرت ته رجوع کوي، چي د ده د دې عمل او چارو ستره ځانګړتيا هغه پراخه خپلواکي ده چي د فرد له پاره ئې هغه غواړي او د فرد د تکامل په لړ کي ئې تولني ته.

د ده په شعر کي اساسي موضوعات مينه، وطن، انسان او طبيعت دي خو دا يو کليت دئ، خو د موضوعاتو د رنګارنګۍ له پاره زه نه شم کولی په مفصل ډول ئه وليکم دا ځکه چي اوس په دې مقاله کي د دې ګنجايش نشته، خو يوه موضوع چي هغه د بېنوا د شعر په بحث کي هيڅکله له ياده وتی نه شي هغه د ساقي، ساقي نارې او مې موضوع ده، د ده په اکثرو اشعارو کي په هر قالب کي چي ويل شوي دي د ساقي نقش څرګند دئ او برجسته او حد اکثر مثبت او هڅوونکی او د تيارې، استبداد او ناروا په وړاندي د ده ساقي يو بريد جوړوونکی چي هسک دئ، جوړوونکی او برلاسي.

دی ساقي د آزادۍ لارښود بولي، دی هغه کله کله د عقل په وړاندي هم دروي، کله رهبر ترې جوړوي، کله عسکر، کله ناوې، کله رويبار، کله

زرتشت، کله پښتون بابا او تر پایه پوري پر هر چا چي د ده د شعر توان ورسي هغه د ده ساقي دئ، نو له دې کبله د ده شعر د ساقي، شراب، پیاله، خراب، مست، صراحي، صهبا، مستي، مستانه، بدمست، تاک، د تاکه وینه، از، د ازلور، محفل، جام، مینا، ساغر، سوز او ساز کلیمات عجب رنګین دي، مکرر او خیال راوړونکي:

ساقي بیا محفل کړه نوی
په جام ونمانځه هر ژوی
چي مي یخه سي پرې بېینه
په پیاله کي کړه نمانځنه
رانه لیري کړه پوهنه
هغه تاک چي ئې رودلي
د سپین غر شیدې سپېڅلي
مسته مینه د مست تاک را
دې بې واک زړه ته مي واک را
ساقي پاڅه نوبهار دئ
مجلس تا ته اشکار دئ
پام کړه وار دي خطا نه کړې
زما وار دئ زما وار دئ

او په پای کي:

ساقي پاڅېده له خوبه
لاس تر غاړي سو مینا ته

مینه مسته لېونۍ سوه
مین باسي و بېدیا ته
ته هم مستي په موسکا سه
مسته راسه غېږ زما ته
غېږ په غېږ سترګي په سترګو
خوله په خوله سه زما خوا ته
سره تاو کړه مړوندونه
زه ستا ملا ته، ته زما ملا ته
یو د بل غېږ کي خولې سو
سپینې وسپېنو هوا ته
چي زه ته سم ته زه سې
نور حال مه وایه وچا ته

لا یو شور راڅخه ولاړ نه وي، بل راسي
مګر زه پیدا په ورځ د شوراو شریم

د هسک پېغله*

ساقي پاڅه نوبهار دئ
مجلس تا ته انتظار دئ
پام که وار دي خطا نه کړې
زما وار دئ زما وار دئ

بېنوا

د پښتو په معاصرو ادبیاتو کي د ارواښاد استاد عبدالرؤف بېنوا نوم زیات روښانه او ځلېدونکی دئ. استاد عبدالرؤف بېنوا ډېر زیات کلونه زموږ د هېواد د ادبیاتو او زموږ د فرهنګ د ودې او پراختیا له پاره ډېر او نه هېرېدونکی کار کړی دئ او په خپل ژوند کي ئې زیات علمي او تلپاتي آثار کښلي چي هر یو ئې زموږ د ادبیاتو په تاریخ کي ځانګړی

* د هسک پېغله د ارواښاد استاد بېنوا دوهمه شعري مجموعه ده، چي د هغه تر مرګ پنځه کاله وروسته په ۱۳۶۷ش کال د افضل تکور په تدوین او سریزه د افغانستان د لیکوالو انجمن خپره کړه. دغه لنډه لیکنه ښاغلي تکور د هغې مجموعې د سریزې په توګه کړې ده (م. روهیال).

ځای لري. استاد بېنوا د خپل ادبي عمر په اوږدو کي د خپلي شاعرۍ په څنګ کي ډرامې، ادبي تذکرې او زموږ د هیواد د تاریخي څېرو په باب ډېري ګټوري څېړني کړي دي او د پنځوسو په شاوخوا کي علمي، ادبي او تاریخي ارزښتناک آثارئې لیکلي دي.

سره له دې چي ارواښاد استاد بېنوا د نورو علمي او ادبي کارونو په پرتله شاعري کمه کړې ده خو دغه تړوله شاعري ئې د پښتو د معاصر شعر ډېري لوړي او پیاوړي بېلګې دي:

مسته وینه د مست تاک را
دې بې واکه زړه ته واک را
د نانک بابا روح ښاد کړه
زاړه می په دې ویساک را

د استاد عبدالرؤف بېنوا د شعر لومړنۍ چاپي مجموعه د نن څخه دوه ډېرش کاله مخکي په ۱۳۳۵هـ ش کال کي د پښتو ټولني له خوا د (پرېشانه افکار) په نوم په ښکلې قطع او صحافت د زرو ټوکو په شمېر په ۵۵ مخونو کي خپره شوې ده، په دغه مجموعه کي د هغه ټول دوه ویشت ټوټې شعرونه راغلي دي، د دغي شعري مجموعې په سریزه کي مرحوم استاد ګل پاچا الفت لیکي:

"زه د ښاغلي بېنوا شاعري د ده په نورو کمالونو غوره ګنم او په دې باب کي ورته په ډېر حق قایل یم. دی طبیعتاً شاعر دئ. د ده ژوند، د ده محبت، د ده خوی، د ده فکر، د ده ناسته، ولاړه، خوراک او څکاک ډېر شاعرانه رنګ لري او اصلي رنګ ئې همدغه دئ".

د استاد عبدالرؤف بېنوا د پرېشانه افکارو څخه وروسته د هغه زيات شعرونه زموږ د هيواد په مختلفو ورځپاڼو او مجلو کي چاپ او خپاره شوي دي او د يوې ځانګړي مجموعې په توګه د هغې راټولول او چاپ ته تيارول يو ضرورت وو چي بايد تر سره شوی وای. ما د خپلو ملګرو په مشوره د استاد بېنوا د ګلوېښتو په شاوخوا کي شعرونه او ټلوريزي د هيواد د مختلفو ورځپاڼو او مجلو لکه د کابل مجله، د زېري جريده، د ننګرهار مجله، د کندهار مجله، پښتون ږغ مجله، د وږمې مجله، د پلوشې مجله، د زېري کالنۍ، ښکلي شعرونه منتخبه مجموعه، نوي شعرونه منتخبه مجموعه، د پښتو درسي کتابونه، د ادبي انځور په نوم منتخبي مجموعې او نورو څخه د هغه دغه شعرونه راټول او د يوې مجموعې په توګه چاپ ته تيار کړل. زه داسي نه وايم چي زما دا کار د استاد بېنوا د ناچاپو شعرونو په باب مکمل کار دئ. کېداى شي د هغه ډېر شعرونه له ما نه پاتي شوي وي او زما لاس ته نه وي راغلي. داسي معلومېږي چي استاد بېنوا به د خپل ژوند په وروستيو کلونو کي نور شعرونه هم ويلي وي چي تر اوسه نه دي چاپ شوي او موږ ته هم په لاس نه دي راغلي خو د مرحوم استاد بېنوا د ناچاپو شعري بېلګو په راټولولو کي به زما هڅه جاري وي او اميد لرم چي د هغه د ناچاپه شعرونو يو مکمل جونګ يو وخت چاپ ته تيار کړم.

په دغه مجموعه کي ما د استاد بېنوا د (پرېشانه افکار) نه يوازي دوه شعرونه را اخيستي دي چي يو ئې (غلی شانته انقلاب) او بل ئې (پسرلی) نومېږي چي د پرېشانه افکار په (٦) او (٤١) مخونو کي هم

نشرشوي دي. نور ټول هغه شعرونه دي چي د هغه په دغه شعري مجموعه کي نه دي چاپ شوي. د کلو رنځور د ارواښاد استاد بېنوا يو روايتي شعر دئ، چي حتی ځيني برخي ئې وزن او آهنګ هم لري. دغه د کلو رنځور د شعر او نثر ګډ خصوصيات هم لري دا ډول شعرونه په ځينو نورو شعري مجموعو کي هم راغلي دي او ما هم په دې خاطر د استاد بېنوا په دې مجموعه کي راوړی دئ.

په هر حال که د استاد بېنوا د شعرونو دغه مجموعه د هغه د شعري بېلګو په راټولولو کي نيمګړې هم وي خو د دې مجموعې چاپ او خپرېدل يو نېک او ګټور کار بولم او دا د ارواښاد بېنوا حق وو چي د هغه خواره واره شعرونه په يوه جونګ کي راټول شوي او خوندي شوي واى.

زوړ گنهکار*

اروابناد استاد عبدالرؤف بېنوا زموږ د وياړلي هيواد هغه نوميالی فرهنگي شخصيت دئ، چي په خپلو نه ستړي کېدونکو هلوځلو سره ئې د هيواد د فرهنگ ادبي او تاريخي وياړونو د خوندي ساتلو او ژوندي کولو په لاره کي اوچت او له وياړه ډک گامونه پورته کړي دي.

که د استاد بېنوا شعر دئ که ئې نثر، که ئې تحقيقي او تاريخي آثار دي او که ئې نمايشنامې او ډرامونه زموږ د معاصرو ادبياتو په تاريخ کي لکه د ځلېدونکو ستورو په شان ځلېږي او ځانله خاص ارزښت او مقام لري او د ده ادبي، هنري او تاريخي هلي ځلي به زموږ د راتلونکو نسلونو له پاره د کاڼي کرښي شي.

استاد بېنوا په ۱۲۹۲هـ ش کال د کندهار په ښار کي خرقې شريفي ته

---

* زوړ گنهکار د اروابناد استاد بېنوا د يوې ډرامې عنوان دئ، کله چي اروابناد سيد جان ملال د استاد مرحوم درې ډرامې (زوړ گنهکار، اصلي کار او زرنگ) په يوه مجموعه کي سره راټولي کړې دغي مجموعې ته ئې د زوړ گنهکار نوم وټاکه او په ۱۳۶۷ش کال ئې په کابل کي چاپ کړه. دغه ليکنه مرحوم ملال د دغي مجموعې د سريزي په توگه کړې ده (م. روهيال).

نژدې د سید حسن په کوڅه کي زېږېدلی او هلته را لوی سوی دئ، د دوی کورنۍ د کندهار یوه درنه علمي کورنۍ ده، خپلې زده کړې ئې زیاتره په خپله کورنۍ کي تر سره کړې دي، بېنوا نه یوازي دا چي په پښتو ژبه کي ئې با ارزښته آثار لیکلي دي بلکي په دري ژبه کي ئې د افغانستان د تاریخ، کلتور او ادبیاتو په برخه کي هم څو ټوکه کتابونه لیکلي دي او یو شمېر آثار ئې په خارجي ژبو لکه عربي او انګلیسي هم کښلي دي، د هغه یو شمېر شعرونه په انګلیسي، عربي، روسي، اردو، چینایي او بلغاریایي ژبو ژباړل شوي دي. د استاد بېنوا چاپي آثار دا دي:

اوسني لیکوال په درې ټوکه کي، د افغانستان نومیالي چاپي برخه ئې په څلورو ټوکو کي، هوتکي ها، میرویس نیکه، پرېشانه افکار، پښتنې مېرمنې، ادبي فنون، پښتونستان، لنډۍ، د زړه خواله، چند آهنګ پشتو، د غنمو وږی، خوشحال ختټک څه وایي؟، د علامه اقبال لاهوري د مسافر منظومه اثر پښتو ژباړه د پردېس په نوم، د پیرمحمد کاکړ، کاظم خان شیدا او رحمان بابا د دېوانونو تدوین، تصحیح او مقدمې، ویښ زلمیان، پاچاخان، پښتو روزنه، نظری به پشتونستان، خوشحال او پسرلی، د ټاګور ګیت آنجلي پښتو ژباړه، لیډران امروزی پشتونستان، د افغانستان تاریخي پېښې، آریایي، پارسي او پښتو وېړني، خوشحال ځان دْ خوشحال له خولې، په عربي ژبه کي ځیني رسالې، د آشیانه عقاب، اشتباه، کار بر اصل، زوړ ګنهکار، زرنګ، حکومت بیدار است، اصلي کار، زه وخت نه لرم ډرامې او یو شمېر نور آثار چي لا تر اوسه نه دي چاپ شوي.

په هغه وخت کي چي استاد بېنوا په ډرام ليکلو پيل وکړ نو په پښتو ژبه کي د ډرام ليکلو بازار نسبتاً ګرم شوی وو، ځکه چي د پښتو نمايشنامو ليکل اصلاً د خدايي خدمتګار تحريک سره يو ځای پيل شو چي لومړنی ډرام په (۱۹۲۷م) کال کي د عبدالاکبر خان اکبر له خوا وليکل شو او بيا وروسته د نورو ليکوالو په واسطه ډېر او چت معياري ډرامونه وليکل شول، خو دلته په افغانستان کي په (۱۲۹۹هـ ش) کال د اعليحضرت امان الله خان په زمانه کي ځيني کوچنۍ تمثيلي پارچې د پوهني د شاګردانو له خوا د ننداريٰ له پاره وړاندي شوې خو پوره او بشپړ ډرام په ۱۳۱۴هـ ش کال کي د لوی استاد علامه حبيبي له خوا د (توريالۍ پښتنه) په نوم وليکل شو او بيا په ۱۳۱۷کال کي د پښتو او دري ژبي د پياوړي شاعر او ليکوال عبدالرحمن پژواک له خوا د (کليمه داره روپۍ) ډرام وليکل شو او د کتاب په بڼه چاپ شو.

تر دې وروسته په پښتو کي ډرام ليکنه باب شوه او ډېرو ليکوالو د خپلي وسي سره سم ليکني وکړې خو په ټولو کي استاد عبدالرؤف بېنوا هغه ليکوال دئ چي په خپل وخت کي ئې ډېر ډرامونه ليکلي دي، لکه:

زوړ ګنهکار، چي يوه ټولنيزه او انتقادي نمايشنامه ده، آشيانه عقاب يوه حماسي او تاريخي نماشنامه ده چي په دري ژبه ليکل شوې ده.

کار بر اصل، چي دا هم يوه انتقادي ډرامه ده.

زرنګ د بيروکراسۍ پر ضد يوه انتقادي او کميډي راډيو ډرام دئ.

حکومت بيدار است، دا هم يوه انتقادي او انتباهي ډرامه ده.

طوق لعنت، يو اصلاحي او انتقادي راډيو ډرام دئ چي په ۱۳۲۴

کال کې ئې د مطبوعاتو جایزه وړې ده.

د وطن آواز، یوه انتقادي او حماسي نمایشنامه ده چې په ۱۳۲۶ کال کې ئې د تالیف جائزه وړې ده.

زه وخت نه لرم، دا هم یوه انتقادي او اصلاحي نمایشنامه ده.

سربېره پر دې استاد بېنوا ځیني نوري نمایشنامې او ډرامونه هم لیکلي دي چې د اولس د ذهنیت د روښانه کولو په لاره کې ډېر موثر واقع شوي دي.

که څه هم ډرام او نمایشنامه لیکنه د استاد بېنوا د شعر او نورو تحقیقي کارونو په پرتله په دریمه درجه کې راځي خو هم هغسي چې استاد بېنوا په خپلو نورو هنري او ادبي هلو ځلو کې په پوره حوصله مندي، زغم، دقت او ابتکار کار کړی دئ د هغه په نمایشنامو کې هم دغه خصوصیت لیدلی شو چې زموږ د نمایشنامو او ډرامونو ډېري ښې بیلګې ګڼل کېدای شي.

استاد بېنوا د خپل وخت ډېر ښه نمایشنامه لیکونکی ګڼل کېږي، کله چې د هغه ډرامونه مطالعه کړو، نو ګورو چې په هغو کې د وخت ډېر عمده مسایل او غوښتني ځای لري د هغه د اکثرو نمایشنامو کرکټرونه په خپله زمانه کې ژوند کوي، د خپل سرنوشت په مقابل کې بې تفاوته نه دي، آګاهانه عمل کوي او په پوره جرئت په هنرمندانه توګه د ټولني ناخوالو او وروسته پاته کېدو عواملو ته ګوته نیسي.

د استاد بېنوا د ډرامونو بل عمده ځانګړتیا دا ده چې ټولي پېښي ئې تر پایه پوري منطقي تسلسل مومي او اضافي او تصادفي پېښي

پکي ځای نه لري، ديالوګونه ئې ډېر دقيق او اغېزمن دي او د کردارونو ژبه ئې روانه او د خپلي پوهي په سطحه کي ده. برسېره پر دې د استاد بېنوا په ډرامونو کي د مثال په توګه په (آشيانه عقاب) کي د تېرو وياړونو ځلا ليدله کېږي او (د وطن آواز) په نمايشنامه کي د ملي وحدت، وطن پالني او سربښندني مسايل مطرح کېږي د هغه په اکثرو نورو نمايشنامو کي د تربګنۍ، ناوړو دودونو او رواجونو، رشوت او دولتي دستګاه کي د بيروکراسۍ پر مسايلو باندي په جدي او انتقادي ډول ګوته نيوله کېږي، د مثال په ډول د زرنګ په ډرام کي دغي وروستۍ مسئلې ته په جدي توګه ګوته نيول شوې ده.

که څه هم په دغه ډرام کي د هغه د نورو ډرامونو په نسبت کومه ډراماتيکه صحنه نه ليدل کېږي نه کوم هيجان توليدوي او نه د ترحم احساس پاروي، او آن کله کله ډېر مونولوګونه دغه ډرام داستان ته نژدې کوي خو د دې سره سره ښودل کېږي چي څومره خلک د بيروکراسۍ څخه په تنګ شوي او غوړه مال انسانان څومره په مهارت سره کولی شي چي د وخت نبض درک کړي او د ورځي په نرخ ډوډۍ وخوري، او په همدغو غوړه ماليو او نيرنګونو باندي لوړو مقاماتو ته ورېږي، خو برعکس صادق او بې ريا انسانانو ته دسيسې جوړېږي او يا هم له کاره برطرف کېږي.

په همدې ډول د استاد بېنوا په ټولو نمايشنامو کي وينو چي د انتقاد روحيه پکي پياوړې او کرکټرونو کي ئې د تحرک او بدلون احساس قوي دئ چي ليدونکي او اورېدونکي سخت تر تاثير او اغېزې

لاندي راولي او يو مثبت عمل ته ئې رابولي. د استاد بېنوا نمايشنامې د خپل وخت د غوښتنو او ايجاباتو اوازونه دي، هغه د خپلو ډرامونو څخه تل يو هدف درلودلی دئ او هغه دا چي استاد بېنوا غوښته چي د خپلو ډرامونو او نمايشنامو ليدونکي وهڅوي او هغوی په دې پوه کړي چي زمان تېرېږي د ټولني شرايط بدلون مومي او دوی بايد په دغه بدلون کي فعاله ونډه واخلي چي دغه خصوصيت د استاد بېنوا د ډرامونو له عمده ځانګړتياوو څخه شمېرل کېږي.

علامه رشاد:

آه بېنوا!

د قلم څوکي لمبه سه، سېځه سوځه لاندي باندي!
چي په تا ليکلي کېږي د اشنا د مرګي ساندي
بېنوا! د مرګي نه وې، ستا يو سر په سلو ارزېد
ستا په شان زامن به راوړي، خورا لږ پښتني مياندي
ستا د شعر خوشبويۍ ته د نافو ليمه کوزګوري
ستا د طبعي و طوبی ته، دېري طبعي لکه سپاندي
ستا د فکر په ګلباغ کي، تاوسان د رنګ مېشته وو
بازان الوتل د غرونو، ستا د خيال تر سيورو لاندي
مرغلري تا کرلې، د کاغذ په کروندو کي
جواهر به تا اوډله، د کتاب پر پاڼو باندي
قلمي به د سرو زرو، ستا قلم نهالولې
وې به شولي د ګوهرو، چي به تا شيندي پرګاندي*

---

* په پښتنو کي شولي دوه ډوله کرلي کېږي، يوه ته نالي (نهالي) وايي او بل ډول پرګاندي دي چي شولي د غنمو يا اوربشو په ډول په شولګره کي شيندلي کېږي.

عاطفې ئې لړزولې، دردول ئې حساس زړونه
اغېزې ستا د بيان به، د هري سترګي کړې ژړاندي

ستا افکار پرېشانه نه وه، د پرېشانه حال ادراک وو
چي د کرښو په ويالو کي به ستا اوښکي وې بهاندي

ستا خواله وه د زړه کرېږي، د اولس پر بېوزليو
په نُدرت به پيدا کېږي، ستا په څېر د قام زړسواندي

د پردېسو هديرې به، سکښتې ستا د کوګل څوکي
د يتيم پر بدو ورځو، شلېدې ستا د زړګي مراندي

نه ديوتا د محتسب وې، خپل پردي پر تا راټول وه
نه بلبل د صلح کل وې، خار و ګل دي وايي ساندي

مال دي ګران نه ګاڼه ګرانه ځان دي لوړ نه باله لويه
په مصرف او په خدمت کي سيالان نه وه تر تا وړاندي

ځای لري چي د هر وختونه، ادب ستا په نامه نازکا
حق لري چي د هر نسلونه، ستا په فضل فخر کاندي

ګورئ ګورئ اې ځلميو! بېنوا پردېس هېر نه کړئ
د نمانځني حق ئې د هر دئ د افغان پر اولس باندي

جدي ۱۳۶۳ش

جستم چو زحور تاریخ

بنوشت بخامهٔ نور:

"غفران بمقدمش رفت

از فضل خدای غفور

تا مادهٔ سال ترحیل

گیرید ز "بینوای مغفور"

۱۴۰۵ هق

(بر وزن مغفول و مفاعلن فاع بحر هرج مسدس ... مقبوض ازل)

علامه رشاد:

لویه خدایه!

خدایه! ته یې تور لحد قبه د نور کړې
د خپل فضل مشالونه پرې حضور کړې
ستا د عفوې د دریاب په زُلال ربه
ته ورپاکې توري تپلې د قصور کړې
چې دلته دي رازلی وو، سرخرویه
په بخښنه ئې هلته هم مخ سور کړې
چې دلته ئې سر لوړ ستا په خلقت وو
سر ئې لوړ هلته هم په خپل منشور کړې
چې دلې دي پر پېرزو جگې رتبې وې
خپل قبول ئې هورې هم ربه منظور کړې
ستا د رحم په نظر بې نیازه خدایه!
ویران گور د بېنوا بنده معمور کړې
ستا د پراخ لطف و کرم له تجلا وو
د سینا تیاره بېدیا پر کوه طور کړې

د هغو په روی چي ستا له میني مست دي
د سرمست بېنوا ګور دارالسرور کړې

ستا بنده بېنوا درغی رؤفه!
د رحمت د خم له فیضه ئې مخمور کړې

وچي شونډي ستا د بخښي داد ته پروت دئ
په نصیب ئې ډک جامونه د ظهور کړې

تود ئې بزم لرې خدایه! په خپل لور
د کوثر له میخورانو ئې محشور کړې

نسته بل د امید ځای، ژاړم و تا ته
۳۲
ته په مرګ د بېنوا صفت مغفور کړې*

٦٩ + ١٣٢٦= ١٣٩٥ - ٣٢ = ١٣٦٣ش

---

* "مغفور بېنوا" د عبدالرؤف بېنوا د مرګ تاریخي ماده ده ۱۳۹۵ ځني جوړېږي د تخرجې په ډول چي د "بل" کلمې ابجدي ارزښت (۳۲) د "نسته" په حکم ځني وباسو ۱۳۶۳ ځني پاتېږي، چي د عبدالرؤف بېنوا د مرګ شمسي هجري سنه ده. که د "مغفور بېنوا" توصیفي ترکیب پارسي کړو "بېنوای مغفور" ځني جوړېږي او ابجدي ارزښت ئې ۱۴۰۵ دی چي د عبدالرؤف بېنوا د مرګ قمري هجري کال دئ.

علامه رشاد :

تا ادب زنده است او زنده ست

بوم شومی بباره ای بنشست
گفت: "شوریده بلبل سرمست
بینوا شاعر شهیر وطن
رخت هستی ازین جهان بربست
در نوردید دفتر انشاء
حِبر را ریخت، خامه را بشکست
روح او برپرید چون فکرش
رفت زین خاکدان تیره و پست"
کفتمش: "گرچه بر نمی گردد
مرغ آزاد چون بشد از دست
لیک دانم که او نمی میرد
تا ادب زنده است او زنده ست"

۷ حوت ۱۳۶۳ ش

علامه رشاد:

میکده غم کده سوه

د میخورو او پرښتو گفتگوی

ښایستو مات کړ له بنګړي او امیلونه شلوي
پر سرو خاوري بادوي چي میکدې ته راسي

نن میکده سوه غمکده، ساندي، سوگلۍ دي پکښې
په ویر زنګیږي چي هر څوک دې غمکدې ته راسي

جامونه ژاړي په ورتې ورتې، خمونه دړي وړي
د بزم مله څیري ګرېوان چي میخانې ته راسي

وایي: پراته چاودلي زړونه د میناوو دي، پام!
رندان دي پښې ږدي په احتیاط چي دې صحنې ته راسي

وایي: افسوس د بېنوا مرګي مستۍ کړې زمولي
ګورئ چي بیا کله بهار د کیف روضې ته راسي

وایي: ساقیانو! دروازې تړئ، دړځئ خدای خبر
چي د مغانو پیر دي بیا دې میکدې ته راسي

وایي: په ځنډه به مړی اخلی د پردېس بېنوا
د ارمونو ښاپیرۍ بې جنازې ته راسي

وايي: پر ګور بې تشوئ د ميو ډک جامونه
چي ميخواران د بېنوا و هديرې ته راسي

***

خو پربنتې وايي: مېخونه د تابوت ټينګ وهئ
نه چي دا مست له جنتونو ميخانې ته راسي
چي د شرابو ولې ډکي ووينې، وايي به:
"ما پرېږدئ ځم، ياران رابولم چي مېلې ته راسي
ساقيانو! مه کوئ سټونه چي ياران مي نه وي
پښې به ورپې کړم که مي شونډې پيمانې ته راسي
ما په درست ژوند نه دي څکلي بې يارانو شراب
ګورم تر څو چي دوی هم دې عشرت کدې ته راسي
دې ګفتګوی کړل دربانان د جنتونو هريان
چي داسي مست به په کوم حق د جنت خولې ته راسي
د رحمتونو پربنتو ول: د ګناه پروانې
لولپه کېږي، چي د فضل و ډېوې ته راسي
موږ اروېدل چي ده پر وخت د زکندن وا، خدايه!
ګناه به څنګه ستا د رحم پرتلې ته راسي

نصرالله حافظ:

د اروانښاد بېنوا د پنځمي تلينې په مناسبت:

لکه چې څنګه بېنواوو بېنوا ولاړ

په خوږه ژبه ئې کړې خوږې خبري
دو رېدلې بې له شونډو مرغلري
له خندا نه ډکه خوله زړه کې ئې مينه
ورته مينه وه له هر څه نه شېرينه
هينداره وو ورته دا جهان د ميني
ننداره وو ورته دا جهان د ميني
کاينات ورته د ميني کرشمه وه
بې له عشقه يوه ګونګه شان نغمه وه
د انسان زړه ورته عرش د محبت وو
ټول وجود ئې مينه مينه وو الفت وو
نو ئې ځکه له هر چا سره کړه مينه
د زړه لار ئې مدام ساتله سپينه
تور او سپين ورته د سترګي په مثال وو
په تيارو کې بلېدلو زوړ مشال وو

راغلی یم د ګنهو له درنو پیټو سره
سخي ئې نه شړي چې څوک ئې دروازې ته راسي

عجز و اخلاص دروړم، بې نیازه! بل عمل نه لرم
عفوه دي ګوندي زما مختوري خسمانې ته راسي

که په حساب وي، دوږخ و نه په ما ډک به ایسي
که وي په فضل ستا جنت به هدیرې ته راسي"

د اروا بازئې دی الوتی د توبې په وزر
د رحم ښکار به په منګول کې اشیانې ته راسي

کرم ورځغلي، هر کلي د ګنهګارو ته تل
چې په اخلاص او عاجزي د عشق کعبې ته راسي

د باري رب د رحم سین په غرغړو دئ روان
ګومان مو نه سي چې عتاب د مرګ ورطې ته راسي

غاړي کړئ خلاصي، پرښتې کړئ د عذاب خبري
ګورئ! ډوبیږي څوک چې مخې د څپې ته راسي

د خدای له فضله لیري نه ده چې به ښکلي حوري
ساغر په لاس د بېنوا و ښه راغلې ته راسي

لکه شمع رونړایي د هر محفل وه
لکه حسن زیبایي د هر محفل وه
ورنه تاوي به د میني پروانې وې
د سوزونو بې مثاله نذرانې وې
د دلبر د دلدارۍ په رموز پوه وو
د یارانو د یارۍ په رموز پوه وو
وو پرې تود هسي به بزم د دوستانو
لکه بزم د ډېوې د پتنګانو
د یارانو د مجلس سرور له ده وو
پر هر زړه باندې پرېوتی نور د ده وو
هم ساقي هم پیمانه وو په محفل کي
هم د میني ترانه وو په محفل کي
د زړه خم به ئې مدام د عشق په جوش وو
په دې جوش کي به ئې خپل ځان فراموش وو
بې له میني دا جهان ورته زندان وو
دا جهان واړه د ده جانان جان وو

که مؤمن وو که آدم وو ده ته ګران وو
د همه واړو مینو قدردان وو

شپرینو وه که درخو وه که رااییا وه
ده ستایلې د هغوی مینه رشتیا وه
د نرې د تولو ښکلو ثناخوان وو
د ښایست د باغ و بڼ هزار داستان وو
د تیارونه وو بېزار د رڼا یار وو
لکه ستوری د سحر د سبا یار وو
د خزان او د بهار سره اشنا وو
د سرو ګلو د ګلزار سره اشنا وو
د بلبلو د چغار سره اشنا وو
د سپرلي د هر سهار سره اشنا وو
چي به چیرته غوړېدلی کوم یو ګل وو
دی به ناست ورته په ځنګ لکه بلبل وو
په سر کړې به ئې ښکلې ترانه وه
ترانه به ئې د میني افسانه وه
یو لاس کي ئې قلم په بل کي جام وو
په قدم قدم ملګری د خیام وو

د سورونو او سازونو ترجمان وو
د خوبونو د رنګونو ترجمان وو


پربښتې به د آسمان ورته راتللې
ښاپېرۍ به ورته مخکې نڅېدلې
هو مره سوز ئې دئ د شعر په نغمه کې
چې مطرب ئې نيوی نه سي په زخمه کې
چې به ده ډکه د شعر پيمانه کړه
نو خجله به ئې ټوله ميخانه کړه
چې کمند به ئې د شعر واچاوه اسمان ته
پرې ختلو به ښايسته کور د جانان ته
هلته کوز به سو د ستورو انجمن کې
د اشنا د خوږې مينې په ګلشن کې
د زهرې د هر يو ساز په رموز پوه وو
د سپوږمۍ د عشق د راز په رموز پوه وو
عطارد سره ئې غوږ کې پس پسی کړ
دوی به جوړ سره د مينې ګونګسی کړ
بې پروا وو له جهان جانان ئې يار وو
د انسان په غم غمجن انسان ئې يار وو

چې له غمه به ئې ذکر پرېشان سو
ور په زړه به ټول غمونه د جهان سو

د هر چا سره بې کړله د زړه خواله
وېرېدلو ډېر د زړونو له وباله
د غریب او د بېوزله سره یار وو
د یتیم د سرتور سر د خولې نه ځار وو
ویرژړلو زخمي زړونو ته طبیب وو
بېلتانه ناتارو هلو ته حبیب وو
د زردشت د سرودونو ترجمان وو
چې یو نوم ئې په نوموکي سپین تمان وو
د کرور د رزمګاه سره اشنا وو
د خوږ شعر د دنیا سره اشنا وو
د خوشحال او د رحمان د شعر رنګ وو
د حمید د شاعرۍ د شراب شرنګ وو
د شیدا د رنګین شعر آئینه وه
منعکسه پکښې ښکلې زمینه وه
د وطن پر سم او غر باندې مین وو
هم پر لر او هم پر بر باندې مین وو

د پامیر او هندوکش د غرونو باز و
د سپین غر پر هسکو څوکو ئې پرواز وو

د میوند او د هلمند رښتینی زوی وو
له اوله د هیواد په مینه پوی وو
د افغان د مینې اورئې وو په زړه کې
چې دا هسې رنګه سوزئې وو په زړه کې
د میرویس او د احمد د نغري اور وو
چې تود سوی پرې زموږ د زړونو کور وو
د نازو د زرغونې د پلو پت وو
د عینو د پښتنې مینې عزت وو
کندهاره! کندهاره ! تا ته وایم
اې د سرو ګلو بهاره تا ته وایم!
ستا مین و مړ دا ستا په بېلتانه سو
په پردي وطن کې سر په کپانه سو
ارمانجن د رځنې لاړلو تور ګور ته
زکندن کې ئې وې ستر ګې ستا و لور ته
نه ئې څوک ناست وو و پښو او نه و سر ته
بېنوا ستر ګي ئې اوښتې هر در ته



ستا د ګل بلبل نور نه سي چغېدلی
ستا د بڼ په ګلو نه سي الوتلی

ستا مین پروت د پردي وطن په غېږ کې
په خوب تللی د پردي کفن په غېږ کې
د وطن د نوم په یاد ئې اروا تللې
د مجنون پسې د میني لیلی تللې
بېنوا وو بېنوا لاړو له موږه
په فریاد او په ژړا لاړو له موږه

حافظ

۲۵ جدي ۱۳۶٦ ش

ژوندون مجله ۲ ګڼه اسد - سنبله

اووم کال ۱۳٦۷ ش



اروابناد عبدالمجيد بابی:

وېرنه

د اروابناد استاد بېنوا یادونه

زما پیاوړې کندهاره
د پښتون کوراو دیاره
ته دي واوسې پیاوړی
هم پتمن او هم سرلوړی
درنه لیري سه غمونه
بدي ورځې کړاوونه
مه دي برخه کې څه زیان سه
مه دي ورک نوم او نښان سه
ته زانګوئې د پیاوړو
د ښاغلو او منلو
تاکې ډېر ښاغلي هست سوه
ستا په مینه تاکې مست سوه

تا کي راغله تا کي ولاړه
تا کي واوسېدل واړه
که تکړه تکړه سپاهيان وه
که سرلوړي اتلان وه
ستا ځيګر باندي دوی ځار کړ
سر او مال ئې تا نه ځار کړ
که نوم وتي سروالان وه
یا ملي ستر واکداران وه
دلته وروزل سوه لوی سوه
ستا په غېږ کي ستا په خوی سوه
ژوند ئې ستا سره تړلی
ژوند ئې ستا ژوند کي موندلی
ته ئې ژوند وې ته ئې مینه
ته ئې عشق وې ته ئې مینه
که د پوهي سرخیلان وه
لیکوالان یا ادیبان وه

دغه ستا تغر ئې ځای وو
دا پر تا نظر د خدای وو

که نیکه او که بابا وو
ستا اولس باندي هوسا وو
ستا بچي به پرې راغونډ وه
په ستر ځواک به راټرګند وه
کورئي خپل بهرئي خپل کړ
د ځان پرې وزرئي خپل کړ
ستا عظمت ئې درخوندي کړ
ستا ئې پت، عزت روزي کړ
دغه ډول بېلګې نوري
تا کې ستا له هري لوري
دلته ستا تیاره ګوټونه
تور ډګر او توره خونه
دوی روښانه ګړ ځولي
عقل و فکر ئې سوځلي
ستا تیارو ته دېوي بل وي
پکښې دغه تیارې تل وي(۱)
پرهر تا پې ځلېدلې
د تاریخ ستر ګولېدلې

---

(۱) د اوبو پای او وروستې برخه.

ستا روښانه ستوري ډېر دي
تېر به پرېږدو تېر خو تېر دي
رابرسېره به نژدې کړو
خوښ به دوی کې لوی څېرې کړو
دوی کې څو دادب کور ته
د پښتو ژبې غمخور ته
دغه لوی پوه بېنوا دئ
بېنوا خو د هر چا دئ
همدا ورځ ئې د بېلتون ده
وروستۍ روځ ئې د ژوندون ده
نن مو مخکې بېنوا دئ
دلته هلته بېنوا دئ
زمونږ خو زړو کښې بېنوا دئ
تن ئې پروت پر امریکا دئ
روح ئې دلته شا وخوا دئ
داهمغه بېنوا دئ

دی همغه بېنوا دئ
چې تېر ئې په دعا دئ

هغه وخت چي لا ماشوم وو
وور هلک وو په ځان اوم وو
چې کاته ئې پر دنیا سوه
د (مفتي) د لاس همسا سوه
دا همسا د ستر ګو تور سوه
نژدې زړونه پرې تکور سوه
کور کهول سو باندي ښکلی
خوی خصلت ئې وو ښاغلی
لوی پېدی د پلار سایه کي
د پوهني په لایه کي
د پښتو ادب دستار سو
پوه وو پوه سو او هوښیار سو
ستر شاعر سو لوی لیکوال سو
د لویانو سره سیال سو
دا بریا د ده د زیاروه
د تحقیق لار د ده لاروه

په خپل کار کښې نومیالی سو
د پښتو د لاس وښی سو

دا درنه هېره پښتو ده
يا او چته کړه پر پښو ده
پر تاريخ ئې هم لاس بر وو
پاس او کښته پرې خبر وو
د ټولني نيمګړتياوې
که زماوې او که ستاوې
ده قلم کې کړې راغونډې
ده کړې لڅې او بربنډې
په ليکنه کې اتل سو
لوی پوهاند د پوهې مل سو
دا د ده د لوړېدو وخت
هم د ويا ړاو ځلېدو وخت
د هر لوري ور ته پام سو
لا او چت د ده مقام سو
ور ته ځير د پښتو کور سو
لاس ئې لور ته د ده خپور سو

ترېنه وئې کړه بلنه
چې پښتو ته کړه کتنه

ده ویل: زه پښتو کي لوی یم
پښتو زما او زه د دوی یم
دا پیوند زموږ ازلي دئ
هم وروستی هم اولي دئ
د (پښتو ټولني) مل سو
هلته بل څراغ رابل سو
(حبیبي) سره ملاتړ سو
د (رشاد) د قدر وړ سو
دا ټولنه پر ځواني سوه
د دوی زیار باندي غني سوه
علمي هڅه ئي سوه ډېره
تالیفات یې سوه بې شمېره
څو د دې کاله سروال سو
د پښتو ټولني شال سو
د قلم سره ئې فکر
وې څېړني د ده ذکر

دې ډکر کي سو غښتلی

(قاهره) او که (دهلي) وو
پکښې ده ته هر کلي وو
په بل وخت کي سرو وحشيانو
د پرديو مزدورانو
د دې لوی پوه نه د وېري
له هيواده وايست ليري
د هيواد له غېږې ليري
سختي روځي شپې وې ډېري
د تبعيد روځي او شپې وې
پر استاد زياتي درنې وې
نه هيواد نه ئې دوستان وه
نه ئې فکر ته سيالان وه
وو بېل سوی له خپل کوره
له خپل کلي له خپل وروره
نه ئې چا وکتل کار ته
نه ئې چا وکتل زيار ته

نه ئې چا ويار په همت کړ
نه ئې چا ويار په خدمت کړ

تهوله ژوند ستړی ستومان سو
د پښتو ژبې پاسبان سو
پښتو ژبه ئې پښتو کړه
لیري ده له زولنو کړه
دی پښتون وو دی پتمن وو
د بې پتو دی دښمن وو
تېر تر داسې سفارت وو
له دې کار نه ئې نفرت وو
څو نیویارک کې استوګن سو
پر دې ځای ئې ځکندن سو
چې پر وخت د ځکندن وو
لا ئې ذهن کې وطن وو
ده وینا په شجاعت کړه
خوله ئې خلاصه په وصیت کړه
ویل: ګسرتېرو توریالیو
قهرمانو هوډیالیوګ

که مو محوه دا څېپې کړې
یا مو غلې دا فتنې کړې

يا مو واک د مېنې خپل کړ
يا مو خپل کوراو بورجل کړ
استعمار مو په ګونډو کړ
واک مو ټينګ پر خپلو کړو کړ
يا مو خپلې هديدې کړې
پر پردو مو مځکې سرې کړې
يا راټول پر خپل نغري سواست
يا تر خاورې سپېلنې سواست
يا ملهم سواست د ټپونو
د اولس د سوو زړونو
يا مو روس باندې لاس بر کړ
پر هيواد مو روڼ سحر کړ
يا مو ليرې بد مرغۍ سوې
او رکې نيست سرې ککرۍ سوې
نه هيواد کې "کې. جي. بي" وي
نه لېوان وي نه ئې سپي وي

نه (کشتمند) وي نه (نورو) وي
نه اولس سپک په پردو وي

یا مو هغه څوک په دار کړ
چی اولس ئې روس نه ځار کړ
یا مو مخ د دغو تور کړ
چې مغزی مو ورنسکور کړ
یا مو خپل هیواد هیواد کړ
د اولس زړګی مو ښاد کړ
نو به درو ړئ زما هڅونه
زما د خاورو اندامونه
ما به ښخ کړئ په وطن کي
د دې مړه بلبل ګلشن کي
راته ولیکئ پر شناخته
لرم هیله درنه زیاته
چي همدغه (بینوا) دئ
دا پر دپس اړ د دعا دئ
دی له رنځه آسوده سو
(بینوا) پر هدیره سو

(بینوا) وو (بینوا) سو
رانه والوتی عنقا سو

مور ئې پرېښودو يوازي
زمور سوې خولې پـه ژړا وازي
پښتو سر کړلې بغاري
اوښکي څي تري لاري لاري
تاريخ سروهي پـه مځکـه
خپله هيله ئې تري ورکه
د ادب ناوي سُلګۍ کړي
څوک بـه روغـه زما شمزۍ کړي
مور خو نن بې (بېنوا) يو
يتيمان يو يک تنها يو
(بېنوا) رانـه ګوښـه دئ
(بېنوا) پر هديره دئ
ده خو ويل چي هيواد خپل سي
سوله زمور د خلګو مل سي
ما بـه يوسئ تر هيواده
چي مي روح سي پـه تلو ښاده

خو ترا اوسه نه هيواد سته
نه د چا زړګی څه ښاد سته

اوس زموږ خپله پرې غوبل دئ
پسله زیاتو قربانیو
تر پرې غاړو، ککریو
پسله یو مخه ورانیو
تر سختیو او خواریو
د اولس وه دا غوښتنه
چې د ښنو به کړو کتنه
له سور مخو به خپلواک یو
بد مرغیو نه به پاک یو
بیا به هسکه وروروليي وي
د یووالي به سیالي وي
دا ورانيي به ودانيي وي
نور به ورکه ناداني وي
د پوهني به پاڅون وي
د لوړتیا پر لور به یون وي

هره خوا به وي سمسوره
مرګ به څي زموږ له کوره

نه به زور نه به تیری وي
نه به خپل افغان پردی وي
نه به دغه ځانځاني وي
نه به وضعه بحراني وي
نه به دا اوراو باروت وي
نه به ګور نه به تابوت وي
نه به ټپ وي نه به وینه
نه به خوږ وي نه به مړینه
نه به بیا د غم رباب وي
نه به سوی سپین کتاب وي
نه به دغه شان عذاب وي
نه به هر جرم ثواب وي
نه به کور په کور جګړې وي
نه به چا خولو کې ښیرې وي
نه به هر ښار شنې ایرې وي
نه به رنګ په رنګ فتنې وي

نه به ساندي نه سلګۍ وي
نه به پرې د چا مرۍ وي

نه به تګ د جنازو وي
نه به وير پر هديرو وي
نه به بيا وهل کوټل وي
نه به خلکو سپکول وي
خو چې زموږ برخه بري سو
زموږ له زړو ليري زړه سوی سو
دغه ټوله وينو کېږي
ټول اولس په دار ځړېږي
نو په دغه شان ناتارکې
د سختيو په روزګار کې
څنګه راوړو ستاهڅونه
تا ته نه لرو مخونه
هلته پروت ئې په پردو کې
په پردي ځای او ورشو کې
ته پردی خاوره کې پاته
دلته زموږ ده شمزی ماته

هی توبه د مرګ له زوره
مرګه مرګ دي کړه مختوره

پښتو بڼ دي کړ بې ګله
شور ئې نسته بې بلبله
(بېنوا) قلم خاموش دئ
نه وړ پاته جم او جوش دئ
هغه وخت چي په غورځنګ وو
ټینګ ولاړ پښتو ترڅنګ وو
نه ستړيا نه ستوماني وه
پر هر ټاپي ئې ځواني وه
ډېري پاڼي ئې کړې توري
لا ئې وې په نیت کي نوري
خو مرګي باندي یرغل کړ
را نه بېل ئې دا اتل کړ
اوس ئې پاته موږ ته ګنج دئ
د ده زیار او د ده رنج دئ
هره پاڼه یې کیمیا ده
د پښتون د کور رڼا ده

هر اثر ئې زیات قوي دئ
هم علمي هم منطقي دئ

دا ده (پښتو کیلي) ده
د پښتو ځنځیر غچي ده
د (پښتو ژبي ویرني)
په رښتیا ورد ستاینې
یا (پښتو ژبه دربار کي)
د (شاهانو) په باندار کي
په زیات زیار دي لیکل سوي
هم په زیار دي څېړل سوي
یا (پښتو د هوتکیانو)
یا (غونډله د لنډیانو)
یا (پښتو ژبي روزنه)
پراخوي د ذهن لمنه
دا د ده (افکار پرېشانه)
د قلم په نور روښانه
(زره خواله) هم (بېنوا) کړي
ورته خوله کي لاس (ګیتا) کړي

(د خوشحال پسرلي) اوري
(د غنمو وږی) ګوري

که چا غوښت د ورکو حال نن
واخلئ (اوسني ليکوال) نن
(پښتني مېرمني) ښې دي
پښتني پټ ته توښې دي
د (ميرويس نيکه) ليکنه
د غور ځنګ لري بلنه
د (پردېس) نظم دئ ښکلی
(ادبي فنون) منلی
ده پر ځای کړې خپلي چاري
ده روښا کړې تياري لاري
دی خو ولاړ د مرګي مل سو
د اجل باندي يرغل سو
بيا به څوک پښتو، پښتو کړي؟
پر پښتو به څوک پېرزو کړي؟
بيا به څوک پښتو غني کړي؟
بيا به څوک پښتو ملي کړي؟

بيا به څوک پښتو ته کار کړي؟
بيا به څوک ځان ځني ځار کړي؟

بیا به څوک پښتو سوچه کړي؟

بیا به څوک پښتو درنه کړي؟

بیا به څوک تاریخ ته لاس کړي؟

څوک به نوم د بابا پاس کړي؟

څوک به نوم د نیکه یاد کړي؟

څوک به روح د میرویس ښاد کړي؟

څوک به ورک تاریخ ژوندی کړي؟

څوک به تود زموږ نغری کړي؟

څوک به زموږ تاریخ تاریخ کړي؟

څوک به ژوند پر دښمن تریخ کړي؟

څوک به بیا وکړي څېړنې؟

د خپل قوم او خپلې سیمې

څوک به بیا وکړي پوښتنې؟

د نوم ورکو ګروېږنې

څوک به بیا بیا پښتو لیکي؟

څوک به کار وکړي د ژبې؟

څوک به بیا ادب ته پام کړي؟

د ادب به احترام کړي؟

نن پښتو او تاريخ دواړه
په ژړا دي لاس تر غاړه
وايي نن مور يتيمان يو
څښتن نسته هک حيران يو
ده او هغه ملا تړلې
مور ته دوی جبهه نيولې
په سپکتيا ئې قلم پيل دئ
د خيانت په لور ئې ميل دئ
زمور ويارونه شميري کم دوی
وينو ډير دي په مور ګرم دوی
د ذهنونو انحراف دئ
د تعصب چاپير طواف دئ
د ليکنو نه رنګ وا ووښت
ليکوالو ئې ننګ وا ووښت
دلته غندي مشران دوی
هلته غل بولي لقمان دوی

تول تبر پسې تهمت دئ
وايي: نور د دوی رحلت دئ



د پښتون هر څه ئې بد کړه
دغه بد ئې تېر تر حد کړه
پښتون ويښ او راژوندي کړه
دوی د دې هيواد بچي کړه
دوی ور وګاټه هيواد تل
خپل تر څنګ ئې دوی کړه ښاد تل
اوس ځان بولي واکداران دوی
تولـه ښه ګڼي د ځان دوی
ځان ئې هېر کړېوان ئې هېر کړ
د تاريخ بيان ئې هېر کړ
د قلم حُرمت وړيا سو
د ليکني پت وړيا سو
تعرض ونيو د قلم نوک
د ادب زړګی دئ ټوک ټوک
دوی وينا کړي دوی ليکل کړي
پر ليکلو دوی څارل کړي

موږ ئې اړ ايستو جګړو ته
د يو بل د ځان خوړو ته

یو غلجی بل درانی سو
یو پردی بل سکنی سو
یو د دې ځای بل د بل ځای
یو اوپره او بل د خپل ځای
دا دعوه د لېونتوب ده
هر وخت هر ځای کې سرکوب ده
یو پښتون یو کندهار دئ
یو نیکه دئ یو مو پلار دئ
یو د بل نه ولې بد وړئ؟
ځان ته وګورئ چې څه کړئ؟
د دښمن پلانو ته ځیر سئ
تېر د نورو تر ځنځیر سئ
سره یو سئ سره ټول سئ
ټول د یو کور او کهول سئ
بیا را جوړ وران کندهار کړئ
قومیت نه ځان وزګار کړئ

که را جوړ کړی کندهار بیا
ټول هیواد به سي سینګار بیا

تل وي دلته پيلېدني
د هيواد د جوړېدني
دا ځل هم هڅه راپيل کړئ
يا هېښنه دښمن په سيل کړئ
تاسي وګورئ لړ لېري
شا وخوا کړه وړه د بيري
را ځرګند يو نيم ليکوال دي
په خپل مات قلم خوشحال دي
نيم هيواد ګڼي د ځان کور
وايي، دي و مورږ ته زيان نور
وايي نور دي بې فرهنګه
ځای ئې نسته زمورږ تر څنګه
کاشکي ځير ورته دا نيم سي
د قلم جنګ کي سهيم سي
ځان يا بشپړه ځرګند کړي
دا د دوی پرېکړي پسخند کړي

کاشکي بيا يو والی راسي
ټول راغونډ پر پښتونخوا سي

کاشکي بيا پوهه پاڅون کړي
کاشکي بيا پوهان لټون کړي
کاشکي هغه ليکوال راسي
چې ئې ټول کار په رښتيا سي
کاشکي اوس هم (بېنوا) وای
دې ستر پوه لره بقا وای
هم يې څنګ کې (حبيبي) وای
(حبيبي) وای (مولوي) وای
هم (کاکا) وای هم (افغان) وای
هم (وزير محمد ګل خان) وای
هم (داوي) وای هم ياران وای
د دې لوی بعنه ماليار ان وای
هم (طالب) هم (حسين شاه) وای
د دوی کار د دوی لوړتيا وای
لا همهغه (مشرقي) وای
(سيد محسن) وای (مستغني) وای

هم (مخلص) وای هم (طرزي) وای
هم (پښتون) هم (ايازي) وای

هم (زهما) هم (واسعي) وای
هم (شاکر) او هم (نوري) وای
یا (خواخوږی) راسره وای
لا پر دې مېنه مېلمه وای
څنګ کې ناست ورته (خادم) وای
هم (شفيق) هم ئې تعظيم وای
هر مېره زمونږ (آشنا) وای
کشران وای او (بابا) وای
اوس هم شکر لوی (رشاد) سته
د پښتو پرې اعتماد سته
هم (رفيع) سته هم (کاکړ) سته
هم (ربنتين) پر دې اتکړ سته
هم (ځلمی) هم (عطايي) سته
(هيوادمل) سته (وکيلي) سته
هم (ننګيال) سته هم (غروال) سته
لږ ډېر نور د دوی مثال سته

هم (انځور) سته هم (تکور) سته
هم (هوتک) غوندي زما ورور سته

هم د پوهي ډاګ کي (يون) سته
پر پيچو موختون سته
دلته څنګ کي (بريالی) سته
هم (درويش) هم (بختانی) سته
د (الفت) سره (روهي) سته
هم (هميش) هم (جنتي) سته
هم (سهيم) سته هم (سوبمن) سته
هم د (لوی استاد) زامن سته
هېر دي نه سي (زيرکيار) سته
لنډ وګنډ راته (نثار) سته
(پسرلي) سره (مصداق) سته
د اولس يې اشتياق سته
هم (حافظ) سته هم (منګل) سته
هم (الهام) هم (اولسمل) سته
درونډ پښتون (عثمان روستار) سته
د پښتو (پالوال) او (زيار) سته

(احدي) سته (لطيف جان) سته
(ګل ظريف) غوندي (جانان) سته

هم (شینوارۍ) هم (پوپل) سته
(علی احمد) غوندي اتل سته
لا د لوی (حمزه) شمله سته
نور د دې درانه کاله سته
چې ئې نه ښکارېږي ساری
یو یې دروند (دوست) دئ (شینواری)
په قلم تکړه (ویران) سته
(انور) غوندي (نومیالیان) سته
د (پژواک) سره مو (ژواک) سته
لا هم اوس ورسره واک سته
پوه (مجروح) او (زرملوال) سته
(ایوبي) سته او هم (سیال) سته
(ستانه میر) غوندي (زهیر) سته
نور هم شکر په دې څېر سته
هر (بخرکی) مو سکروټه
سو ځوي د دښمن سته

دې زرغون بڼ کي (بزګر) سته
(تږی) ورور لا پر ګودر سته

(خیبري) سره (صمیم) سته
ویاړمن وروو (عزیزنعیم) سته
(اریوبي) خدای سته (غښتلی)
(جهاني) ټولو منلی
شکر شکر څه کمی سته
چې مو خواکي (بوره ګی) سته
نور که هم وسپړم ډېر دي .
سمدستی مي تر واک تېر دي
ټول مي دي د زړه کوټو کي
هم د ذهن په شېلو کي
چي یې ګوتو کي قلم وي
د کتاب پاڼو ته خم وي
د پردو څخه بېزار وي
نه د بل د ګوتو ښکار وي
چي هیواد او اولس خپل کړي
بیا لوی وروو ته هسک کتل کړي

هغه زما د سترګو تور دئ
زما هر وخت هر ځای کي وروو دئ

کـه ئـې نـوم وي او يـا نـه وي
راتـه تـل بـه دوی درانـه وي
وګنـې ئ دا څـو ښـاغلي
لکـه تـول چـې وي ليکلـي
ډيـر دوی پـه لار روان دي
کـه لويـان دي کـه زده کړيـان دي
شـکر زيـات دي لروبـر کـې
پـه دې خـوا او پيـښـاور کـې
دوی ئـې لار ده سُـتره کـړې
پاکـه کـړې کـره کـړې
څـو د دوی کـړاو پـرې کـم وي
سـوکالي ئـې د قلـم وي
پـای کـښې واورئ اورېـدونکو!
اورېـدونکو اولوسـتونکو!
بېنـوا ستاسـي د کـورو
ستاسي دوست وو ستاسي ورور وو

دی همداسـی (بېنـوا) وو
تيـاره کـور تـه زمـوږ رونـا وو


هم د کور هم د بهر وو
د ادب اسمان کي لمر وو
زه (بابی) کړمه غوښتنه
هر پښتون ته کړم بلنه
دا ترون به کړو رښتیا
چي هېر نه کړو بېنوا
چي هېر نه کړو بېنوا
چي هېر نه کړو بېنوا

د مرغومی ۱٦ مه ۱۳۷۲ ل کال
د اروا ښاد عبدالله خان بابی کور
د بامیزو کوڅه - کندهار

یادونه:

په وېرنه کي د ځینو ښاغلو پر ژوندي اوسېدو، خوښي څرګنده سوېده، د بده مرغه د کتاب د چاپ پر مهال د هغوی څخه یو شمېر نور و هم له دې نړۍ څخه سترګي پټي کړي دي، اروحونه دې ښاد او یادونه دې تلپاته وي.

پای



عينو بنياد
AYNO FOUNDATION

Published by:
Information & Culture Dep
Kandahar - Afghanistan

دا کتاب د عینو خیریه بنیاد په مالي لګښت چاپ سو